
د پوهنې وزارت

د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معينيت

د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تأليف لوی رياست

# فرهنګ

## لسم ټولګی



فرهنګ - لسم ټولګی

... پورې اړه لري اخيستنه او

... غړونکو سره قانوني چلن

د چاپ کال: [illegible] هـ. ش

Ketabton.com

**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# فرهنگ

## لسم ټولگی

**د چاپ کال: ۱۳۹۰ هــ. ش.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

**ليکوالان**

- عبدالحميد عاطف
- عبدالغفور قرار

**علمي او مسلکي ايډيټ**

پوهاند غلام جيلاني عارض

محمداسحاق نگارگر

دکتور خوش نظر پاميرزاد

**ژباړونکی**

غلام سرور گلاب زی صافی

**د ژبې ايډيټ**

زرين انځور

مؤلفه فروزان خاموش

سيد انور ميچن خيل

**ديني، سياسي او فرهنگي کمېټه**

- ډاکټر عطاء الله واحديار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئيس.
- حبيب الله راحل د تعليمی نصاب د پراختيا په رياست کې د پوهنې وزارت سلاکار.
- مولوی عبدالصبور عربي د اسلامي علومو متخصص.

**د څارنې کمېټه**

- دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس د مرکز معين.
- دوکتور شيرعلي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تأليف لوی رئيس.

**طرح او ډيزاين:**

عنايت الله غفاري



(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم



(c) ketabton.com: The Digital Library



# مِلي سُرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی يې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د اوزبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي — پامېريان، نورستانيان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ايماق، هم پشه يان
دا هيواد به تل ځلېږي — لکه لمر پر شنه اسمان
په سينه کې د اسيا، به — لکه زړه وي جاويدان
نوم د حق مودی رهبر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر



(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د پوهنې د وزير پيغام

### ګرانو ښوونکو او زده کوونکو!

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو تدوين او ترتيب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤوليتونه په ريښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

پـه دې ډګـر کـې د هېـواد لـه ټولـو علمـي شخـصيتونو، د ښـوونې او روزنـې لـه پوهـانو او د زده کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تأليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب تـدوين او ترتيـب کـې يـې مرسـته کـړې، لـه ملـي او نړيوالو درنو مؤسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب پـه چمتـو کولـو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


| د لوست نوم | مخ |
|---|---|
| سریزه | ح |
| د کتاب ټولې موخې او هدفونه | ی |
| **لومړی څپرکی**<br>**لاسي صنایع** | ۱ |
| لومړی لوست: فرهنگ | ۲ |
| دویم لوست: د لیمځي جوړولو صنعت | ۵ |
| دریم لوست: وړېشل او ټغر اوبدنه | ۸ |
| څلورم لوست: د غالیو اوبدنه | ۱۱ |
| پنځم لوست: د مالوچو له تارونو څخه اوبدنه | ۱۶ |
| شپږم لوست: د کېکي او د غنمو له تنې څخه اوبدنه | ۱۸ |
| اووم لوست: گنډل او گلدوزي | ۲۲ |
| اتم لوست: ترکاڼي او د لرگي صنعتونه | ۲۴ |
| نهم لوست: گاڼې | ۲۹ |
| لسم لوست : د مسگرۍ صنعت او هنر | ۳۳ |
| د لومړي څپرکي لنډیز | ۳۷ |
| **دویم څپرکی**<br>**هنرونه** | ۳۸ |
| یولسم لوست: د موسیقۍ هنر | ۳۹ |
| دولسم لوست: ملي اتڼ | ۴۳ |
| دیارلسم لوست: د اسلامي هنرونو نړیوالې او سیمه ییزې نمونې | ۴٦ |
| د دویم څپرکي لنډیز | ۵۴ |
| **دریم څپرکی**<br>**سیمه ییز دودونه** | ۵۵ |
| څوارلسم لوست: د مېلمه پالنې دودونه او مېلمستون | ۵٦ |
| پنځه لسم لوست: د ډوډۍ خوړلو آداب | ۵۸ |
| شپاړسم لوست: خواره | ٦۱ |
| د دریم څپرکي لنډیز | ٦۴ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| **څلورم څپرکی**<br>**سیمه ییزې جامې** | ٦٥ |
| اوه لسم لوست: سنتي او سیمه ییزې جامې | ٦٦ |
| اته لسم لوست: د خولۍ او څادر ډولونه | ٧٢ |
| نولسم لوست: څپلۍ او پایزارونه | ٧٧ |
| د څلورم څپرکي لنډیز | ٨١ |
| **پنځم څپرکی**<br>**تفریحي او سیمه ییزې لوبې** | ٨٢ |
| شلم لوست: سانګه وهل | ٨٣ |
| یوویشتم لوست: آس | ٨٦ |
| دوه ویشتم لوست: وزلوبه | ٩٠ |
| درویشتم لوست: سیمه ییزې لوبې او کاغذ پران | ٩٦ |
| د پنځم څپرکي لنډیز | ١٠١ |
| **شپږم څپرکی**<br>**مالداري، باغداري، ځنګلونه، درملي بوټي او مېلې** | ١٠٢ |
| څلیر ویشتم او پنځه ویشتم لوستونه: مالداري، باغداري او ځنګلونه | ١٠٣ |
| شپږ ویشتم لوست: درملي بوټي | ١١٦ |
| اوه ویشتم لوست: مېلې، د جهان ګردۍ-راښکون او زموږ دهیواد فرهنګي میراثونه | ١٢٢ |
| د شپږم څپرکي لنډیز | ١٣٠ |
| **اووم څپرکی**<br>**د ملّي هویت پدیدې، رمزونه ، نښې (سمبولونه)** | ١٣١ |
| اته ویشتم لوست: بیرغ، ملی سرود او نښې | ١٣٢ |
| د اووم څپرکي لنډیز | ١٤٠ |
| اخځلیکونه | ١٤١ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

زموږ گران هیواد افغانستان چې د پخوا زمانو څخه د ځلیدونکي فرهنگ او تمدنونو مرکز او زانگو ده د دې لویو مرکزونو نښې او بېلگې په بلخ، بامیان، غزني، گردیز، بغلان، جوزجان، هډه، بگرام، کابل، تخارستان، د آی خانم لرغونی ښار، هرات، د لوگرعینکو او زموږ د هیواد په نورو سیمو کې تر اوسه موندل شوي او شتون لري.

له دې مرکزونو څخه لاس ته راغلې نښې د دې حقیقت څرگندویه ده چې زموږ په گران هیواد کې د مادّي او معنوي فرهنگ قیمتی نښې په زرگونو کاله مخکې د خلکو لخوا ایجاد شوې او ترنن ورځې پورې له یوه نسل څخه بل نسل ته پاتې شوې دي.

همدارنگه په معنوي فرهنگ کې زموږ په هیواد کې زردشتي او بودايي دینونه منځ ته راغلي دي چې په بگرام او د لوگر په عینکو کې د بودا لوی معبدونه او په بامیانو کې د بودا لویې مجسمې زموږ د دې ادعا ستر ثبوت دی.

دغه چې موږ ترې یادونه وکړه د اسلام د مقدس دین تر خپریدو مخکې د خلکو فرهنگ و. خو د اسلام د مقدس دین په راتلو سره هغه پخواني قوانین د تاریخ برخه وگرځېده او زموږ په گران هیواد افغانستان کې د اسلام دین رامنځته شو، قرآني لارښوونو یې ځای ونیو او خلك د اسلام په مقدس دین مشرف شول. همدارنگه په لاسي صنایعو کې زرگري، مسگري، آهنگري، د خراطي ظریفه صنایع، گنډنې، د اوبدلو ډولونه، ښکلې لیکنې. سمبولونه او داسې نورو پراختیا، پرمختگ او وده وکړه او شهرت یې پیداکړ، چې تاسې گران زده کوونکي به په متن کې د هغوی د هر ډول سره بلدشئ، موږ تاسوته د دې کتاب په لوستلو سره د هیواد د فرهنگ په هکله د رڼا یوه وړه دریڅه په لاندې شرحه پرانستله.

د کتاب په لومړي څپرکي کې به د لیمڅي جوړولو، ټغر اوبدلو، غالی اوبدلو چې د لاسی ظریفو صنایعو او زموږ د ملّي فرهنگ د مهمو عناصرو څخه دي او د ستنې د گنډلوهنر، د گلدوزۍ، خامك دوزۍ هنر، د لرگي مستظرفه صنایع، گاڼې او د مسگرۍ صنعت چې هر یوېې زموږ په ټولنه کې ځانگړی ارزښت لري بلد شئ .



(c) ketabton.com: The Digital Library

په دو یم څپرکي کې د موسیقۍ هنر، ملّي اتڼ او د اسلامي هنرونو نړیوالې او سیمه ییزې نمونې لکه ښکلې معمارۍ، میناتورکاري، ښکلې لیکنې، په بحث کې نیول شوې دي.

په دریم څپرکي کې د افغانانو د مېلمه پالنې په زړه پوري دودونه چې د افغانانو ځانګړنه ده لیکل شوي دي، همدارنګه د ډوډۍ د خوړلو آداب او د خوړو ډولونه او ارزښتونه بیان شوي دي. په څلورم څپرکي کې دودیزې جامې، د ماشومانو ځانګړې د ودیزې جامې، د خولیو ډولونه، د ښځو څادرۍ، د پښو په ګڼون دروپیژندل شول.

په پنځم څپرکي کې تفریحي او سیمه ییزې لوبې لکه نېزه بازي (سانګه وهل)، وزلوبه او د آس ځانګړتیاوې او ډولونه بیان شویدي.

په شپږم او اووم فصلونو کې مالداري، بڼوالي، ځنګلونه، درملي بوټي، مېلې او سیلګري او د جهانګردي اهمیت همدا شان دملي هویت پدیدې چې زموږ دخلکو او زموږ د هیواد فرهنګ په نړۍ کې معرفي کوي، په لنډه توګه بیان شوي دي، ترڅو تاسو ګران زده کوونکي ددې خلکو د فرهنګ د عناصر و په ارزښت مخکې له مخکې آشنا شئ.

د فرهنګ کتاب ځانګړتیا په دې کې ده چې دفرهنګ د ټولو یا زیا ترو پدیدو عکاسي ورپکې شوې ده او کتاب ستاسو په اختیار کې قرار لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ټولې موخې او هدفونه

- د دې کتاب د تدريس څخه وروسته تر هرڅه دمخه بايد د خلکو ترمنځ په هر اړخيز ډول سره ملي يووالی او يو موټی کېدل ټينګښت ومومي.
- د خلکو د ډول ډول فرهنګونو سره د زده کوونکو د درناوی روحيه ټينګه شي او زده کوونکي بايد زموږ د هېواد د ټولو سيمو د فرهنګ سره بلد شي.
- د زده کوونکو معلومات او پوهه په دې برخه کې دومره پراختيا ومومي ترڅو وپوهيږي چې زموږ د خلکو فرهنګ زموږ د هېواد هويت د نړۍ په کچه معرفي کوي.
- زده کوونکي دې داسې مهارتونه ترلاسه کړي چې زموږ د فرهنګ محوری او مرکزي ارزښتونه موږ د يوه افغان په توګه معرفي کړي.

زده کوونکي دې داسې مهارت ترلاسه کړي چې د خپلې سيمې د فرهنګ سربيره زموږ د ګران هېواد د نورو ولايتونو او سيمو فرهنګ وزغمي، هغه زده کړي او پـه هغې بانـدې د افغانستان د خلکو د ګډ فرهنګ په توګه وویاړي.

### د دې کتاب لوستل له دې اړخه ارزښت لري چې

د "فرهنګ" مضمون ته د هېواد په تعليمي نصاب کې نوی ځای ورکړل شوی دی او تاسې په يقين سره د خپلې ټولنې د خلکو د فرهنګ د ځانګړتياوو او ځرنګوالي څخه خبرياستئ. لکه څنګه چې فرهنګ د يوه ګډ ميراث پـه توګه زموږ پـه خلکو پوري اړه لري او زموږ د ټولنې د ملي هويت څرګندوی دی.

تاسې زموږ د هېواد او خلکو د بډای فرهنګ سره له مخکې بلد ياست او د دې کتاب په لوستلو سره به تاسې د ولايتونو او د هېواد د بيلابيلو سيمو د خلکو د فرهنګ سره نور هم بلد او د خلکو د ګډ کلتور سره به ستاسې مينه لا زياته شي، د هغې رغولو، ساتلو، فرهنګي پراختيا او ودې ته به پاملرنه وکړئ او خپل فولکلوريک اصالت به وساتئ او د غير اسلامي او غير افغاني عناصرو د فرهنګونو د منلو څخه په کلکه ډډه وکړئ. زده کوونکی به د دې کتاب په لوستلو، د هغې د محتواوو (منځپانګو) او موضوعګانو سره بلدتيا او د ښوونکي د هدايت او لارښوونو سره سم به د پوښتنو او ځوابونو پـه طريقه د دې د لوستونو په زده کولو سره زياتې تجربې ترلاسه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## لاسي صنايع


### د څپرکي موخې

د دې څپرکي د لوستونو په لوستلو سره به زده کوونکي د فرهنګ په مفهوم، ارزښت او په ځانګړي توګه د خپلو خلکو فرهنګ وپېژني؛ او همدارنګه د بېلابېلو مستظرفه لرګينو صنايعو، مسګرۍ، زرګرۍ او د لرغونو ګاڼو د دودونو سره به څه په تيرو وختونو کې زمونږ د مادّي فرهنګ د هويت ممثل او زمونږ د هيواد د عالي مدنيت څرګندوونکي دي بلد شي. همدارنګه به د وريشلو، او د ګنډلو فرهنګ، د اوبدلو د ډولونو لکه د غنمو له تنې(ډنډر)، د پنبې تار، د خامتا اوبدل، ټغر اوبدل او د غالی اوبدلو د فرهنګي او اقتصادي ارزښت او د غاليو اصالت د افغاني هويت په نظر کې نيولو سره وپېژني او د دې ظريفو لاسي صنايعو پراخوالي کې به د زده کوونکو ذهنيت وده وکړي.

## لومړی لوست

# فرهنګ

دفرهنګ په باره کې څه پوهېږئ؟






د هرات جامع جومات



طاق ظفر
(پغمان)

# هنر

چـــې هنر د بزرګــی درخخه نه وي — طالع څـــه کا تا په سرواخلي مګر؟
چې په آس کې څه هنر وي هاله ښه وي — او کـــه نه ورځني ښه وي لاښهٔ خر
که طالـــع او هنر دواړه سره کښېږدی — زه خوشحـــــال به پکې ونیسم هنر
بې هنرمې که بادشاه د درست جهـــان شي — هیڅوک نه پسندي په ده د لویې چر
هنرمندمې که ګداشي کنډول واخلي
په لیـــده به یې هر څوک ښوروي سر

د خوشحال خان ختټک له د ستارنامې څخه



(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګ د یوه ملت یا د یوې ټولنې ټولو مادّی او معنوي شتمنیو ته ویل کېږي.


د معنا په لحاظ د فرهنګ عمده عناصر دادي: ټولنیز، اخلاقي او حقوقي ارزښتونه.

د مادّی فرهنګ عناصر دادي: د معمارئ ډولونه، انځورګري، صنعتونه او داسې نور.

د عامو خلکو ادبیات (فولکلور) او دودونه د ټولنې د فرهنګ یوه مهمه برخه جوړوي چې دا هم معنوي او هم مادّي اړخونه لري.

په حقیقت کې فرهنګ یو داسې کرکتر او استعداد دی چې یو ملت ته طبیعي او ټولنیز شتون او هستي ورکوي.

فرهنګ دیوې ټولنې د ژوند د بېلو بېلو اړخونو، معنوي ارزښتونو د ژوند د ښېګنو، ښکلا او د اخلاقو ښکاروندی دی. کله چې موږ د یوې ټولنې یا د یوه هېواد د خلکو د فرهنګ په هکله خبرې کوو له هغې نه زموږ موخه او مطلب دادی:



د خواجه پارسای ولی جومات (بلخ)

- **دودونه او رواجونه**
- عنعنې
- لاسي صنعتونه
- د خلکو کارونه
- لرغوني لوبې
- اخترونه
- پخوانۍ مېلې او جشنونه
- ماتمونه
- کیسې
- اسطورې
- (ژبني) ادبیات
- متلونه

او داسې نور چې د پخوانیو خلکو معنوي او مادي پاتې شوني (میراثونه) دي چې لــه یــوه نسل نه بل نسل ته او له اسلافونه اخلافو ته را رسېدلي دي.

فولکلور د خپل تاریخ په بهیرکې یو مست سیند ته ورته دی چې د خپل تګ اوحرکت پــه اوږدوکې په بېلو بېلو ډولونو سره لیدل کېږي خو دخپل ماهیت ، ښکلا اړیکه او ارتباط له



(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې اصلي سرچینې سره ثابت ساتي. یعنې هغسې چې د سیند د اوبو غونډې دخپلې سرچینې څخه تر پایه پورې اوبه پاتې کېږي.

فولکلور د ژبې او ټولنو په بدلون سره د پخوانیو انسانانو فکرونه ، عقیــدې، رواجونــه او دودونه وروستنیو انسانانو او نسلونو ته لېږدوي.

فولکلور چې د فرهنګ یوه عمده برخه جوړوي؛د دې راټولَونه او هراړخیزه پلټنه د کــارپوهو خلکو او عالمانو کار دی.

په دې کتاب کې موږ د افغاني کلتور بېلا بېل اړخونه او په ځانګړې توګه د هغې فولکلور په لنډ ډول تاسو ګرانو زده کوونکو ته وړاندې کوو.

د افغانستان خلک چې له بېلا بېلو قومونو څخه جوړشوي دي، د یوه روښانه تاریخ او تمدن لرونکي او د داسې ډول ډول او بډاى فرهنګ درلودونکي دي چې د هغې سارى په نړۍ کـــې لږ لیدل کېږي.

د افغانستان پر خاوره باندې په تېرو زمانو کې تل د نړیوالو سیلانیانو او سودا ګري کــاروانونو لاره تېره شوې وه. همدا لامل دى چې دلته مختلفو عقیدتي، دیني او فولکلوري پدیـــدوځاى موندلى او د افغانانو لپاره يې يو پوره او د کامل کلتور سوغات راوړى دى.

**په ټولګي کې فعالیت**

- زده کوونکي دې په دوه یا دریو ډلو وویشل شي او هره ډله دې د لوست په یوه موضوع په خپلوکې بحث وکړي.

**پوښتنې**

- د بهرني فرهنګ د اغیزې د مخنیوي او د خپل فرهنګ د ساتنې او ژغورنې لپاره تاســې کوم وړاندیزونو کوئ؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې زموږ د هېواد د فرهنګ د نورو ډولونو په باره کې معلومــات راغونــډ کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیمڅي جوړولو صنعت

لیمڅی زموږ د هیواد د پخوانیو لاسي صنایعو له مهمو تولیداتو څخه دی چې په لاندې ډول د هغې د جوړښت په هکله لنډې خبرې کوو:

د لیمڅي د جوړولو لپاره وړۍ نه وربښي، بلکې لومړی هغه مینځي اولمر ته یې خــوروي. وروسته یې په ځانګړی ډمنځ باندې وهي چې وړۍ خلاصې، او نرمې شي. بیایې په سور، آبي، زیړ او ګلابي رنګونو سره رنګوي او لیمڅی ترې جوړوي.

## د لیمڅي په کارګاه کې د وړیو ځای پر ځای کول

د کور په انګړ کې د کنډکو یو پزی هواروي او د هغې پر مخ تغر خــوروي. د لیمڅـــي استاکار (ماهر سړی) لومړی توري وړۍ د نازکه لښتې په واسطه پر تغر د چوکات په منځ کې ځای پر ځای کوي. بیا د هغې د پاسه د یوې جارو په واسطه تودې اوبه پر وړیو پاشي او وړۍ هواروي، وروسته بیا رنګ شوې وړۍ په څلورو خواوو منځ او غاړو کې په تناسب ســره پــه مناسبو ځایونو کې ږدي او ددې رنګه هوارو شوو وړیو د پاسه په جوړو شوو ګلانو هم اوبــه شیندي او په لښته یې اواروي.

## د لیمڅي د مړلو طریقه

کله چې د لیمڅي د جوړولو په وخت کې استاکار ډاډه شي چې وړۍ په خپله انــدازه او





(c) ketabton.com: The Digital Library

مساوي پنډوالي په ټولو برخو کې ځای نیولی دی او د ګلانو اندازې او تناسب ته هم په هر ځای کې پاملرنه شوې ده؛ نو بیا ځلور یا پنځه کسه پر زنګنونو باندې پر ځمکه یو د بل په څنګ کې کښېني او له یوې خواڅخه ورېـ په ټغر کې په شریکه سره په تدریج نغاړې او د خپلو متو په زورېې مښې (مږې) او دې کارته په جدیت سره دوام ورکوي، ترهغوچې د لیمڅې ورېـ کلکې شي او یو له بل سره ونښلي. بیا دغه نښتې ورېـ له ټغر او پزې (چجکې) څخه جلا کوي او په یوه ځای کې یې هواروي چې وچې شي.

لیمڅې یو ښه او صحي فرش دی چې له هغې څخه لند بل (نم) او یخني نه تېرېږي، نو ځکه د دې کارول د انسان د روغتیا لپاره ډېر ګټه لري او د روماتیزم له نارو غیـ څخه انسان ژغوري.



## د لیمڅې ډولونه

لیمڅې د وړیو، ګل، د مښلو طریقه اوپه کوم ځای کې چې جوړېږي، ددې ټولو له نظره بېلا بېل ډولونه لري چې عبارت دي له:

### الف- پامیري یا قرغزي لیمڅی

چې د پامیر د پسه له غوره وړیو څخه جوړېږي. د بامیان په لیمڅو کې د (وَرَس) لیمڅې زیات شهرت لري. د میدان وردګ، پکتیا، پکتیکا، خوست ، نورستان اوپه ټول هیواد کې ډېر ښکلي لیمڅې جوړېږي.



### ب- کمان ګري لیمڅی

هغه لیمڅې دی چې د لرګي چوکاټ د لیمڅې د لاندې په ښه طریقه برابرېږي او ورېـ په ټولو برخو کې په یوه تناسب او مساوي ډول خورېږي او ډېر کلک مُړل کېږي. دا لیمڅې غوره او ډېر دوام لرونکي دی.

### ج- ساده لیمڅی

هغه لیمڅې دی چې له عادي وړیوڅخه جوړېږي، کوچیان چې په بانډو او بیدیاوو کې ژوند کوي، د دې لیمڅې څخه د خپلو خیمو، جونګړو او د کېږدیو په پوښلوکې کار اخلي چې د باران د اوبو او له یخنیـ څخه یې ژغوري.

شپانه له لیمڅې نه ځان ته کپیه نک (ګندۍ)هم جوړوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## گنډ

یوه بې نستوني چپنه ده او هغه شپانه يې اغوندي چې د ورځې په غرونو کې مېږې او وزې پيايي او د شپې، په هماغو غرونو کې د رمې پنډغالو او د غرونو په سمڅو کې وېده کېږي، له گنډ څخه د ورځې د جامې او د شپې د بسترې په توگه کار اخلي.
گنډ، شپانه له اوبو او يخنۍ څخه ساتي.

**د لوست نوي اصطلاحات**

- شينديي- پاشي.
- سمڅ- غار
- پنډ غالو – د څارويو د راغونډېدلو ځايونو

**په ټولگي کې فعاليت**

- يو زده کوونکی دې د ليمڅي د جوړښت په باره کې خبرې وکړي.

**پوښتنې**

- ليمڅی کوم ډول فرش دی؟ او هغه څنگه جوړېږي؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې له خپلو خپلوانو او گاونډيانو څخه د لاسي صنايعو او د ليمڅي جوړولو صنعت په باره کې معلومات راغونډ کړي او په خپلو کتابچو کې دې وليکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست

# وریښل او ټغر اوبدنه

تاسو کله څوک د وریښلو په حال کې لیدلي دي، څنګه وریښل کوي؟

وریښل له پخوا زمانو څخه زموږ د خلکو په منځ کې رواج وو چې وړی، پومبه، وریښم او سنډ به ښځو او نجونو د څرخې، څرخکي، خنجکي(چېلک) او داسې نورو لاسي کوچنیـــو وسایلو سره وریښل او د وریښل شوو تارونو څخه به يې ډول ډول ټغرونه غالۍ، د اغوستلو جامې او داسې نـــور شـــیان اوبدل.


د اورچوغ سره وریښل


د څرخې سره وریښل









(c) ketabton.com: The Digital Library

## مزاري ټغر



له غالیو څخه وروسته مزاري ټغر ډېر ښه فـــرش دی.
ډېر ښکلي رنګونه لري.
څرنګه چې دا ټغر د ډېرو ښو وړیو له نرمو او کلکـــو تارونو څخه جوړوي، له دې امله یې د (قاقمه یي) ټغر په نوم هم یادوي.
دا ټغر پخوا په مزار شریف کې جوړېده، نو ځکه یې د مزاري ټغر په نوم شهرت موندلی دی.
خو نن ورځ دهیواد په ډېرو شمالي ولایتونو لکـــه: فاریاب، سرپل، سمنګان، کندوز، تخـــار، بـــادغیس، هرات او داسې نورو ځایونو کې نارینه او ښځې مزاري ښکلي ټغرونه اوبي. همدارنګه د میمنې، سرپل او غلموري ټغرې هم د مزاري ټغرنو غوندې ښکلې دي او ځانګړی نوم او شهرت لري.

## شال



شال په معمولي توګه په ساده او ګلدار ډول د وربښمو او د سنډو له تارونو څخه جوړوي. ښځې شال پرخپل سر اچوي.
تر ټولو قیمتي شال غجري (قاجاري) شـــال دی چـــې د رنګ، اوبدلو او جنسیت له مخې له نورو شالونو سره ډېـــر توپیر لري.

## کشیده ټغر

نوموړی ټغر د پسونو له اعلی وړیو څخه د "اورمک" په کارګاه کې اوبي. د دې ټغـــر پـــود (عرضی تارونه) په سور، زیړ، ګلابي، آبي او داسې نورو رنګونو سره رنګوي. کـــشیده ټغـــر زیاتره د برستنې په پوښ، د کورونو، جونګړو، خیمو او بانډوپه ښکلا او زینت کـــې کـــارول کېږي



(c) ketabton.com: The Digital Library





## کنی(اورمک)

د «کشیده» ټغر په نوم د اوبدلو کارګاه ده. د لرګیو څلور قوي موړې لري چې پر ځمکه ټکوهل کېږي. همدارنګه درې پایې (پښې)، د لرګي قلیچ (قینچي)،ګُلَه او کمه لري.او په ټول افغانستان کې دود ده.



اورمک

**په ټولګي کې فعالیت**

- یو زده کوونکی دې د ټغر اوبدنې په باره کې خبرې وکړي.

**پوښتنې**

- مزاري ټغر څه ډول ټغر دی؟ د مزار څخه غیر نور په کومو ښارونو او ولایتونو کې دغسې ټغر اوبدل کیږي.
- تاسې د ټغر اوبدلو د صنعت په وده، ښه کیفیت او بهر ته د هغې د صادرولو په باره کې څه نظرونه او وړاندیزونه لرئ؟

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې له خپلو خپلوانو او ګاونډیانو څخه د لاسي صنایعو، مزاري ټغر او کشیده ټغر په هکله معلومات راغونډ کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم لوست


# د غاليو اوبدنه

- په عکسونو کې کوم شيان وينئ؟
- د دې دستګاووغوره والی په څه کې دی؟





غالۍ اوبدل د افغانستان د خلکو يو ډېر پخوانی لاسي صنعت دی. د غاليو اوبدل زمـــوږ د هيواد په شمالي، شمال ختيځ او شمال لويديځ ولايتونو کې زيات رواج لري.



د جوزجان، بلخ، فارياب، سرپل، سمنګان، کندز، تخار، بغلان، هرات، بادغيس، فراه، نيمروز ولايتونو او د کابل ښار د وزيرآباد او دشت برچي په سيمو کې زموږ د هيواد کمالـــدارې ښـــځې او نجونې په خپلو نازکو هنرمندو ګوتو دوړيو، مالوچو او وربښمو له تارونو څخه ډېرې ښکلې غالۍ اوبي چې نړيوال شهرت لري او په نړيوالو بازارونو کې يې هويت تثبيت شوی دی.

که څه هم په يادو شوو ولايتونو کې ښځې ډېرې ښکلې او نفيسې غالۍ اوبي؛ خو د آقچې او اندخوی غالۍ له ډېرو پخوانيو



(c) ketabton.com: The Digital Library

غالیوڅخه دي چې په ۱۳۵٦ هــ.ل. کال یې په ټوله نړۍ کې لومړی مقام وګاټه؛ لکه چې مرحوم نینواز یوه ښکلې فولکلوریکه سندره په دې باب ویلې ده:

بیا بـــــریم قالین ببـــافیم　　　ســـوی آقـــــــچـــه
تخته تخته،پارچه پارچـــه　　　قالی های سرخ و سفید
برای یار برگ بید
برای یار برگ بید
الا یار جان به اندخویت ندیدم　　　بدخشان آمدم رویت ندیدم
زبغـــلان تـــا مـــزار و شهر هرات　　　مثـــال تـــار گیســـویت ندیدم
بیا بـــــریم قالین ببـــافیم　　　ســـوی آقـــــــچـــه
تخته تخته،پارچـــه پارچه　　　قالی های سرخ و سفید
برای یار برگ بید
برای یار برگ بید

غوره غالۍ هغه دي چې تار او پود یې دواړه له خالصو وړیو څخه واوبدل شي.
څومره چې د غالۍ تار نری او د تارونو او غوټو شمېر یې په یوه ساحه کې ډېر وي، په هماغــه اندازه غالۍ ارزښتناکه او ښکلې وي. د ښې غالۍ په هر متر مربع کې یوسل وپنځوس زره غوټې اچول کېږي. له کومو وړیوڅخه چې د غالۍ تارونه جوړېږي، هغه باید نرمې (پستې)، نازکې او د پسه وړۍ وي. د غزني او وردګ د پسونو وړۍ دقره قل،مرینوس او د ساریجه پـــسونووړۍ د غالۍ د جوړولو لپاره ډېرې ښې دي. غالۍ د نخي(پنبې) له تار څخه هم جوړېږي خـــو دا د وړیو او وربښمو د غالیو غوندې ښکلې ظریفې او دوامداره نه وي.

## د غالۍ اوبدلو وسایل او سامان

د غالۍ او بدلو لپاره وسایل، ځانګړی رمنځ، ځانګړی چاکو،قیچې، تارتقی چوب (لرګـــی) او داسې نورې وسیلې په کارېږي. د غالۍ اوبدلو کارګاه یوه لاسي آله ده چې څلور لرګي لري او د مستطیل په شکل یو له بل سره کلکېږي او د غالۍ تار د هغې په اوږدو کې بندوي (تنـــسته) کوي او بیا څلور، پنځه او یا ډېرې غالۍ اوبدونکې ښځې او نجونې یو د بل په څنـــګ کـــې کښېني او غالۍ اوبي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





د غاليو صادرول له ډېرو پخوانيو کلونو را پديخوا زموږ د ګران هېواد د اقتصاد په ښه والي او د بهرنيو اسعارو په لاس ته راوړلو کې ډېر رول لري.

## د غاليو د وړيو رنګول

د غاليو د وړيو رنګولو لپاره له هرډول طبيعي رنګونو څخه کار اخيستل کېږي. طبيعي رنګونه د انارو، پيازو، دغوزانو د ونو د پوستکواو د ګلونو د عُصّارې او شيرې او همدارنګه دوحشي نباتاتو لکه «رويان» له ريښو څخه لاس ته راځي چې زموږ په هيواد کې يې په زرهاوو ډولونه موندل کېږي.

هغه غالۍ چې د هغې وړۍ په طبيعي رنګونو باندې رنګ شوي وي، د لرګي رنګ (چوبرنګ) په نوم يادېږي. د دې غاليو جنسيت ډېر لوړ او ارزښتناک دی او په ټوله نړۍ کې پيرودونکي لري.





## د غاليوګل

زموږ د هيواد غالۍ اوبدونکي ښځې د خپلو غاليو په ګل اچولو او ګلکا رۍ کې په دوديز او سنتي ډول د پخواني هرات د ميناتور يو له ښکلو نمونو، نقشونو او انځورونو څخه کار اخلي چې د هرات د تيموريانو د طلايي عصر د نقاشۍ د کلتور او ميناتورۍ پاتې شووني دي



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د غالیو ډولونه





غالۍ ډېر ډولونه لري لکه: فیلپا، آقچه گل، چکش، لبجر، ادرسکن، سلیماني، مَوري، ساروقي، وزیري، بشیري، المه‌گل، بخارایي، بوستان، بارگاهي، چنارگل، خال محمدي، بلوچي، انارگل، خواجه روشنايي، بلژیکي، ذبیح اللهی، مالداري، اولامي، چوبرنگ، قزاق، چیچن، اندخویي، قندوزي، قرقیني، مزاري، دولت آبادي، آقچه یي، یو تاره هراتۍ، جمشیدي او داسې نور.

اوس په نړیوال بازارکې د فیلپا، بخارایي، بارگاهي، بلژیکي، خال محمدي، د هغوی د رنگ د پوخوالي او د غوره جنسیت له کبله ښه نوم لري چې د نیم متر، یو متر، یو نیم متر، دوه، درې، څلور، شپږ، نهه، دولس، څلرویشت متره او همدارنگه جای نمازونه او قالینچې په مختلفواندازو او په زړه پورې رنگونو جوړیږي. هغه تارونه چې په دې ډول غالیو او سراندازونو کې استعمالیږي، په عمومي توگه له غوره جنسیت څخه دي، لکه: بلژیکي تار، پوخ رنگه تـــار او د وریـــښمو تارونه.

## قالینچه





وړه غالۍ چې دوه یا درې متــــــره وي، د قالینچې په نوم یادیږي. په پخوانیو افسانو کــې وایـــــي چـــــې: حضرت سلیمان(ع) یوه قالینچه درلوده چې په هغې باندې به کېښناسته او دیوانو به په هوا کې له یوه ځای څخه بل ځای ته بېوه.

وايي چې ټول انسانان، پیریان او دیوان د سلیمان (ع) د حکم او فرمان لاندې وو او دی د حیواناتو او مرغانو په ژبو پوهېده.



(c) ketabton.com: The Digital Library



### په ټولګي کې فعالیت

- دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او ودې وايي چې غير دوړيو له تارونو، نور د تارونوله کومو ډولونو څخه غالۍ جوړېږي.

### پوښتنې

- قالینچه کوم ډول فرش دی او دهغې اوبدل زموږ د هیواد په کومو سیموکې زیات دود لري؟
- د غالیو په باره کې یوه فولکلوریکه سندره ووایاست؟
- د غالیو د ډولونو نومونه ووایاست.
- آیا کېدای شي چې د غالۍ اوبدلو صنعت په ټول هېواد کې دود کړو؟

### کورنۍ دنده

- هر زده کوونکی دې د غالیو د ډولونو په باره کې معلومات راغونډ کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست

# د مالوچو له تارونو څخه اوبدنه

- مالوچ، وړۍ او وربښم په څه ډول لاس ته راځي؟
- تاسې د اوبدلو کوم ډولونه پېژنئ؟



ګُلَه

زمونږ د ګران هیواد خلک پومبه یا مالوچ د څرخ په واسطه ورېښي او بیا ورڅخــه تــوکران جوړوي، لکه: خامتا، اَلَه چه ، سطرنجی، جای نماز او جاکټونه.

## خامتا اوبدنه

زمونږ د هیواد د اوبدنی د ډېرو پخوانیو صنعتونو له جملې څخه ده چې په زرګونو کلونــه لرغونتیا لري.

په پخوانیو وختونو کې زمونږ خلکو د ژوند د لومړنیو اړتیاوو یعنی د خـــوړو او جـــامو د برابرولو لپاره چې په خپلوهلو ځلو او د متو په زور یې لاس ته راوړل، د مني په موسم کې به یې پومبه له پټیو (کروندو) څخه راټولوله، که چا به خپله پومبه نه درلوده، له نورو څخه به یې په پیسو اخیستله او د مني په وروستیو او د ژمي په اوږدوکې به ماشومانو، ځوانانو او ښځو پنبه دانه له پومبې څخه د (حلاّجی) یا د ګوتو په واسطه جلا کوله او بیا به ښځو دغه پنبه د څرخ یا څرخي په واسطه ورېشله او دغه تارونه به یې دغتو کلولو یا غونډارو په شکل جوړول. بیابه یې د تار دغه غونډاري په نیچو کې پیچل، بیا به یې په تارونو سره پیچلې نیچې د خامتـــا اوبـــدلو



(c) ketabton.com: The Digital Library

کارګاوو ته ورلې او د خامتا اوبدلو استاذ به په ځانګړې دستګاه (دکان) کې د نیچو تـار پـه منظم او موازي ډول یو ځای تنسته کاوه چې له هغې څخه به یې خامتا جوړوله؛لکه څنګه چې تاسې په عکس کې دوه کارګاوې وینئ.

**په ټولګي کې فعالیت**

- یو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي اود خامتا اوبدلو په باره کې دې معلومـات ورکړي.

**پوښتنې**

- تاسی څو ډوله اوبدنې پیژنئ؟
- خامتا کوم ډول ټوکر دی؟
- آلَه چه او سطرنجی کوم ډول ټوکران دي؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې له خپلو خپلوانو څخه پوښتنې وکړي چې زموږ په هیواد کې اوس هـم دخامتا جوړولو وسایل شته؟ لاس ته راوړي معلومات دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کنکي او د غنمو له تنې څخه اوبدنه

- له وړيو، پومبې او وربښمو څخه غير، له نورو شيانو هم اوبدنه کېږي؟

په پخوا زمانو کې چې زموږ خلکو د خپل ژوندانه ضروري سامان آلات پخپله جوړول او پـــه ځينو ځايونو کې يې اوس هم جوړوي له هغوی څخه يو د کنکي او د غنمو له ډنډرو (دروزو) څخه د سامان آلاتو جوړول دي .



د کړکي څخه چغ اوېزی اوبې چې د نمجنو ( زيمدارو ) کوټو د فرش او د بامونو په پټولو، په بانډو او بيدياوو کې د کوډلې (جونګړې) يا د کېپې په جوړولو کې کار اخلي. د غنمو ډنـــډر لومړی په اوبو کې د څو ورځو لپاره ږدي چې نرم او پاسته شي، بيا ترې په ځانګړی مهـــارت ټوکری، شکُور، خولۍ او څپلۍ جوړوي. د غنمو ډنډر چې کله په ښه ډول او ظرافت واوبدل شي، له هغې څخه ډېر ښکلي او دوامداره سامانونه جوړېږي؛ لکه څرنګه چې زموږ په هيـــواد کې ډېر داسې خلک شته چې درانده کارونه، لکه: بزګري، مالداري او يا نور کارونه نه شـــي کولې، خو په دې برخه کې ښه او اغېزمن کارونه ترسره کولی شي .



(c) ketabton.com: The Digital Library

## کټ

کټ د چپرکټ په شان یوه هوسا او صحي وسیله ده چې هغه د مزرو له پړو، نیلون او پخوا به یې په کونړ او نورو ولایتونو کې د غره د ځینو وښو له پړو او د ځاروو له پوستکو څخه هم اوبدل.

کټ ځلور پښې او ځلور بازوګان لري چې دوه لانډه او دوه اوږده وي؛ چې ترکاڼ یې په لاسونو او یا یې د خراطۍ په ماشینونو تراشي.


د کټ پښې د ( لاک ) د رنګ په واسطه رنګوي. د کټونو جوړول په ننګرهار، لغمان ،کونړ پکتیا، خوست، میدان وردګ او نورو سیمو کې ډېر زیات رواج لري او د دغو سیمو ټول خلک د ناستې او خوب لپاره د کټونو څخه کار اخلي او په لویو لویو ډېرو او حجرو کې یې هم د کټونو کتارونه جوړ شوي وي.

## د پسه له کولمو څخه اوبدنه

زموږ په ګران هیواد کې پرته له دې نه چې له څرمن څخه بالاپوش، پوستین، دستکول (لاسي بکس)، بوټان، څپلۍ، د آسونو لپاره قیزې جوړوي. همدا رنګه کولمې هم د تسمو په شکل پرې کوي او له هغې څخه ډول ډول سامانونه لکه: چغل (د غنمو او دانو د چاڼولو غټ غلبیل) د اوړو غلبیل، قمچینه (متروکه ) او داسې نور وسایل جوړوي.

## د ارغوان له لښتو څخه د شیانو اوبدنه

ارغوان یوه بې میوې ونه ده چې زموږ د هیواد په غرنیو سیمو کې یې ګڼ ځنګلونه شته دی او ټول خلک یې پېژني. د ارغوان ځنګلونه د فرخار، سمنګان، هرات، بادغیس، پروان، د کابل خواجه صفا او د بدخشان په غرونو کې له پخوا څخه موجود دي. د ارغوان ګل ډېر ښکلی لاجوردي رنګ او ښه بوی






لري. د پسرلي په موسم کې خلک د کابل خواجه صفا او د پروان ګل غونډۍ او نـــورو ځايونو ته د ارغوان مېلو او سيل ته ځي.
د ارغوان ښاخونه ډېرې کلکې او ارتجاعي (نه ماتېدونکي) خاصيت لري، کله چې تازه وي ښې تاوېږي او په تاوولو سره نه ماتېږي .



نو ځکه د ارغوان له ښاخونو څخه کجاوې، د قلبې آتنګ ( سربانډې ) او نور سامانونه جوړوي.



## کجاوه

کجاوه يا سبد يو داسې لوښی دی چې د ارغوان، سرې ولې او د ورغشته له ښاخونو څخه جوړېږي؛ کليوال خلک خپلې تازه مېوې لکه: شفتالو، زردآلو، آلو بالو، ګيلاس، توت، آلو او داسې نورې له يوه ځای څخه بل ځای ته پکې لېږدوي. بزګران د جوارو وړې، د ښاروېو لپاره واښه او حيواني سرې هم د دې په واسطه پرخپلو اوږو له يوه ځای څخه بل ځای ته وړي.

## د قلبې سر بانډې (منجيله)

بزګران د ارغوان او يا د ورغشته د ونو ښاخونو يو له بلې سره نغاړي ( منجيله کوي)، بيـــا د هغې په واسطه د قلبې جُغ (سپار) له يوې سره تړي او ځمکه پرې قلبه کوي.

## د منجيلو لارې (راه آتنګا)

دحيرانتيا خبره ده چې د ارغوان له ښاخونو او لښتوڅخه د لارو په جوړولو کې هم کار اخيستل شوی دی چې په لاندې ډول تشريح کېږي.
د بدخشان د درواز ولسوالۍ د آمو سيند (دریای پنج) پرغاړوکې د ارغوان له ښاخونوڅخـــه د منجيلو لارې جوړې شوې وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارغوان ډبل لرګي به يې د ميخونو په شکل تيره جوړول او د غره په کمره (ګټ) کې به يې ټکوهل. بيا به يې د څلوېښتوڅخه تر پنځوسو پورې د آتنګونو کړۍ چې د زنځير په ډول به يو له بل سره اوبدل شوې وې په دې ميخونو پورې کلکې ترلې.
کوم يو لاروی به چې له ډېرو اوږدو او پلي منزلونو څخه وروسته دې ځای ته رسېده او غوښتل يې چې له دې ځايه تېرشي نو د آتنګونو لومړنۍ کړۍ به يې په خپلو لاسونو رانيوله او د آتنګونو په همدې زنځير باندې به پورته کېده. په دې ډول چې يوه يوه کړۍ به يې رانيوله، په هغې کې به يې خپله پښه ټينګوله او بلې کړۍ ته به ورپورته کېده چې په دې ترتيب به له دېرشو څخه تر څلوېښتو کړيو پورې پورته خاتّه او ځان يې اصلي لارې ته رساوه.
کله کله به د ميخونو د ماتېدلو يا د اوچتو آتنګونو د خوځېدلو او ټکانونو له امله ځينې لاروي ډاربدل او د څوسوو مترو اندازې اوچتوالي څخه به ښکته را ليکا کېدل او د آمو په سيند کې به لوېدل .
دا ډول پيښې به هر کال زياتې را مينځ ته کېدلې.

- که اوس هم د ارغوان، ورغشته او زرد بيد له لښتو څخه وسيلې واوبــدل شــي، دا بــه ګټورې اوکنه! که ګټور نه وي نو زيانونه يې ووايئ!

**پوښتنې**

— د غنمو له ډنډرو (دروزو) او کېکې څخه د سامانونو جوړول څه ډول دي؟ تاسې داســی اسباب پيژنئ چې د غنمو له ډنډرو څخه جوړ شوی وي؟
— د مېږو له کولمو څخه کوم سامانونه جوړېږي؟
— د آتنګونو لارې څه ډول لارې دي ؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې له خپلو خپلوانو او ګاونډيانو څخه معلومات واخلي، هغه سامانونه چې له کېکو او د غنمو له ډنډرو څخه جوړ شوي دي اوس هم شته ؟ خپل راټول شوي معلومات دې به خپلو کتابچو کې وليکي .



(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست

# ګنډل او ګلدوزي

– ستاسې په کورنيو کې څوک خياطي (ګنډل) او ګلدوزي کوي ؟



خلکو د جامو اغوستل په تېرو و ختونوکې يوازې د اړتياوو د پوره کولو او له يخنۍ او ګرمۍ څخه د ځان ساتنې له پاره کارول، خو کله چې بشري ټولنې په تدريج سره وده وکړه، د دې سره سم د جامو اغوستل هم د اړتيا او ضرورت د پوره کولو له مرحلې څخه تېر شول او د تجمل او سينګار بڼه يې ځانته غوره کړه او ورو ورو ګلدوزۍ رواج وموند . نن ورځ زياتې ښځې، نجونې او د ګلدوزۍ استاذانې د کابل کندهار، ميدان وردګ، غزنې، لوګر په ښارونو او د هيواد په ټولو ولايتونو کې په خپلو نازکو او هنرمندو ګوتو په پوره کمال او هنر سره غوره او ښکلې ګلدوزۍ کوي.



ګلدوزي ډېر ډولونه لري چې دلته يې پنځه وېشت ډولونه تاسو ته درپېژنو:



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ګلدوزۍ ډولونه(خامک دوزی)

کندهاري دوزی، ګینده، بخیې، جَوَک دوزي، دندانک موش، چوبکدوزی، زنجیره دوزي، پنیرک دوزي، چپه دوزي، سوزن دوزي، تکه دوزي، تارشمار، آئینه دوزي، پسته چین، شبکه دوزي، ګنډ دوزي (افغاني ګنډ)، صدف دوزي، ګره دوزي، شال دوزي، ګراف دوزي، جالي دوزي، پوکانه دوزي او داسې نور چې د دې زیاتې نمونې زموږ د هیواد د لویو ښارونو په دکانونو په ځانګړي ډول د قندهار په ښار کې شته دي.

**په ټولګي کې فعالیت**

- یو زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او د ګلدوزۍ په هکله دې معلومات ورکړي.

**پوښتنې**

– تاسی څو ډوله خامک دوزي پیژنئ ؟

– که ګنډل او ګلدوزي وده او پرمختګ وکړي، آیا کېدای شي چې دا زموږ د هیواد دلاسي صنایعو د صادراتو یو ښه قلم وي ؟

– زموږ د هیواد د سوزن دوزۍ ( ګنډلو ) او ګلدوزۍ د هنر د پراختیا او ودې لپاره کوم وړاندیزونه لرئ ؟

**کورنۍ دنده**

- ټول زده کوونکي دې د ګنډلو اوګلدوزۍ ډول ډول نمونې چې په کورونو کې یې موجودې وي، که ډېرې قیمتي ( ګرانې ) نه وي، ټولګي ته دې راوړي، خپلو ټولګیوالو او ملګرو ته دې وښیي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترکاڼي او د لرگي صنعت

- په عکسونو کې څه وينئ ؟

له لرگي څخه په جوړو شوو سامانونو کې، که مو له زانگو څخه غير نور کوم وسايل ليدلي وي نومونه يې واخلئ؟





زموږ په گران هيواد کې لرگين سامانونه او له هغو څخه گټه اخيستل له پخوا زمانې څخه را په دې خوا دود وو. زرگونه کاله مخکې زموږ خلکو د لرگي سامانونه او د لرگي کارگاوې پــه خپلو لاسونو جوړول او له هغو څخه به يې گټه اخيستله چــې پــه لانــدې ډول دهغــوی يوڅونمونې دريپيژنو:

د قلبې سامان لکه يوې، جُغ اوماله، همدارنگه جواز ( د پومبه دانې او نورو غوړينو زړو څخه د تېلو ويستلو گانۍ يا کارگاه، د ټوکرانو يعنی د خامتا اوبدلو کارخانې يا وسيلې، زانگو، د تار د وريښلو وسيلې(څرخه او څرخکی)، حلاّجــې، ځمڅې، د آش اوښوربا غتې ځمڅۍ، طــشت،(د لرگي څخه جوړ شوی لوی لوښی يــا خانــک)، کنډاوې، د لرگي هاونگ( ڇټو)، د اوبدلو ړمنځ، د اوبدلو گُله، صندوق، دروازې، الماری، ورســی (کړکی او اشدارې)، د لرگي لگن(خــانکی)، د





(c) ketabton.com: The Digital Library

لرگی کاسه، کټونه، د موسیقۍ سامان لکه: دنبوره، رباب، سیتار، تنبور، ډول، طبله، څــوکۍ، میزونه، د ندافۍ دستگاه (ډانډس )، نیزه، لیندۍ، د غلو دانو شانډۍ، کشتۍ، آبگوټونه او داسې نور چې د ځینو نومونه او عکسونه په کتاب کې وینئ .












(c) ketabton.com: The Digital Library

## زانګو

د کوچني ماشوم د ویده کېدلو او هوساینې لپاره یوه ښه وسیله ده چې د زېږېدو څخه تر یونیم یا دوه کلنۍ پورې ماشومان پکې زنګول کېږي. زانګو له لرګي څخه جوړېږي او د هغې په تختو کې د ترکاڼ له خوا ښکلي ګلونه کیندل کېږي، نرم توشک پکې هواروي او ماشوم





وربانديې ویده کوي. زانګو د ماشوم د روزنې لپاره یوه ښه وسیله ده. د ماشوم د هوساینې او امن لپاره له زانګو څخه غیر بل ښه ځای نشته، چې د غورځېدلو، د پښولاندې کېدلو، د سوځېدلو، د مضرو شیانو د خوړلو او له یخنۍ څخه د ماشوم د ساتلو ډېره ښه وسیله ده . کله چې یوه مور خپل ماشوم په زانګو کې وېده کوي، نو دغه شان خوږې سندرې ورته زمزمه کوي: آللو! للو! ، دلته مه راځه پیشو! صدیقه داسې ویده ده لکه ګوډۍ د رانجو

د مورد«للو» سندره ډېره لطیفه او خوږه سندره ده چې ماشوم یې د خپل ژوند په اوږدو کې اوري. کله چې ماشوم په خوب کې لاړشي بیایې مور په ډاډه زړه خپل کارونه سر ته رسوي.

زانګو په ټول افغانستان کې دود ده.

## اوغور



یوه داسې وسیله ده چې په هغې کې غنم، وربشې، نخود، باقلي،توت، زغر، دنیا، مرچک او داسې نور شیان ټکوي او میده کوي.

ډېر پخوانی اوغور د تیږې هاونګ دی چې په دودیز ډول د خلکو په منځ کې مروج و او له دوو تیږو څخه جوړېږي .



(c) ketabton.com: The Digital Library

١ – د دایرې په ډول تیږه چې د نیم متر مربع په اندازه پلنه او د ٢٠ یا ٢٥ سانتی متر مربع په اندازه پنډوالی لري او سطحه یې هواره وي. د کور په انګړ کې یې له ځمکې څخه شو سانتی متره اوچته ږدي او د هغې خوله ( منځ ) د فولادی قلم او څټک په واسطه د ١٠ - ١٥ سانتي متره عرض او د ٦ - ٨ سانتي متره په ژور والي تشوي .
د ځینو سیمو خلک د تیږی لوی اوغور ته (بغرۍ) او د لرګي کوچنی اوغور ته هاونګ او چټو وایي. په ځینو ځایونو کې بغرۍ د کلي په مرکزي برخه کې هم ځای لري چې ټول کلیوال ترې هر وخت کار اخیستلی شي.
٢ - یوه تیږه چې تقریباً دوه کیلوګرامه دروند والی لري او د بادرنګ په ډول وي چې د کوبه (څولي یا ټکوونکې وسیلې) په حیث ترې کار اخلی. هاونګ د اوسپنې، مس، برونز (زیړ) او دلرګي له سختو کُندو څخه هم جوړېږي چې هغه سپک او ګرځنده وي.
په دې وروستیو کې برقی هاونګونه هم جوړ شوي دي .

**د لوست نوی اصطلاحات**

| | |
|---|---|
| برونز | برنج ( یو ډول فلز ) |



(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې فعالیت

- د ماشوم په روزنه کې د زانګو ښېګڼې په خپلو کتابچوکې ولیکئ !

## پوښتنې

- له لرګي څخه سامانونه جوړول زموږ په هیواد کې له کوم وخت څخه دود درلود ؟
- هغه سامانونه چې په کتاب کې یې یادونه شوې تاسې له هغوی څخه کوم یو پېژنئ ؟
- تاسې لوی اوغور چې پایکوب ورته ویل کېږي او شولې پری ټکوي، پېژنئ ؟ د هغې د کـــار څرنګوالی ولیکئ.

## کورنۍ دنده

- ښوونکي دې د هر زده کوونکي لپاره په کوچنیو لرګینو تختو باندې یوه یـــادوه څلـــوریزه (رباعی ) په ښکلي لیک ولیکي او زده کوونکي دې هغه په خپلو کورونو کې حکاکي کړي او ټولګي ته دې راوړي .
- ښوونکي ته ښايي چې په دې هنر کې ور زده کوونکي وهڅوي او مرسته ورسره وکړي.







(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهم لوست


# گاڼې


- گاڼې له څه شي څخه جوړېږي ؟
- په عکسونو کې کومې گاڼې وينئ؟











د گاڼو د استعمالولو فرهنگ زموږ په هيواد کې لــه ډېـرو پخــوا زمانوڅخه دود و. لکه څنگه چې د لرغــون پوهــانو د کِينـدنو (حفرياتو) په نتيجه کې د بغلان پــه ( ســرخ کوتل)، د جوزجان په (طلا تپه) او د کابـــل په (خيرخانه) کـــې د زرگرۍ نښې؛ لکه: غرڅه، هوار جام، او دوه د انسان مجـــسمې چـــې د لومړۍ پيړۍ د دويمې ربعې لاسي صنعت او هنر دی لاسته راغلي دي.
طلايي کمربند، د سور يا د لمرد رَبُّ النوعي مجسمه چې د هغې په سر او مخ باندې طلايي زنځيرونه، غوږوالۍ او په لاسونو کې يې د سرو زرو بنگړي کارول شوي دي، د بغلان د سرخ کوتــل لــه

آتشکدې څخه لاس ته راغلي دي، په زردشتي دورې پورې تړلي دي.

همدارنګه د کوشاني او اشکاني دورو د دوه زرو ټوټو طلايي ګاڼو نښې چــې د جوزجــان د طلاتپې ، د منګلو د ميرزکې او د جلال آباد له هډې څخه لاس ته راغلې دي، د دې مطلـــب څرګندونکي دي چې د داسې ګاڼو بې سارې نمونې چې په هغې وخت کې استعمالېدلې او زمونږ تر زمانې پورې يې دوام کړی دی، اوس هم په کابل او د هيواد په ټولو ښـــارونو او کليـــوکې ښځې او نجونې د ګاڼو سره مينه لري او هغه کاروي .

په لاندې ډول د ګاڼو يو څو ډولونه تاسوته درپېژنو:

## د ګاڼو ډولونه

د سروزرو تاج، ټيک، غوړوالی، لبنتی، دغوړونو حلقې، د غوړونو چسپکونه، سيخکې، چارګل، د غاړې زنځير، لاکټ، اوړی، پيزوان، چمکلی، حمايل، ښلا ښلې غاړه کی، سلـــسلې (د غـــاړې دوه ډوله اميلونه)، بازو بند، غمي لرونکي بنګړي، ساده بنګړي، باهوګان، وښي، دغاړې امېل، د ســـينې ګل، کمر بند، پای زيب (خلخا ل)، د تندي زنځير، طلايي غمي دارې ګوتې، د سرو زرو تعويذونه، چلّې او داسې نور.





(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه چې مونږ وینو په سلګونو ډوله طلایي اود سپینوزرو ګاڼې ښځې او پېغلې کاروي په دې کې څینې ډولونه هغه ګاڼې دي چې د هغې له نومونو څخه معلومېږي چې په سر، غوږ، پزه، لاسونو او پښو کې کارول کېږي او نور شپږ ډولونه يې که څه هم ښځې او نجونې پېژني، خو د زياتو معلوماتو لپاره يې دلته يادونه کوو:

## شپږ ډوله طلايي ګاڼې

**۱ – د تندي ټیک**

د مثلث، مربع، ګرد، ساده او غمي لرونکو په شکل جوړېږي؛ د نازکو ګونګرو لرونکو زنځیرونو په ډول د دواړو وروځو ترمنځ ځړول کېږي . ښځې او نجونې يې په ودونو او د خوشحالیو په محفلونو کې اچوي .

**۲ – د سروزروچارګل**

د پزې دښکلا لپاره یوه ګاڼه ده چې په شا پورې يې یوه نرۍ او کوچنۍ میله نښلول شوې ده. دامیله د پزې په سوري کې اچول کېږي، په پاسني سر ( مخ ) کې يې ورته د قیمتي زمرّد، یاقوت یا د الماس د غمي لپاره یو مناسب ځای جوړ کړي وي چې دغه غمی پکې لګول کېږي.



**۳ - د سرو زرو لاکټ**

دا د ښځو د غاړې او سینې د ښکلا یوه طلایي ګاڼه ده . په مختلفو ډولونو د سپارښتنې او غوښتنې سره سمه جوړېږي. د یوه زنځیر په واسطه د غاړې شا ته تړل کېږي او د ټټر په سر باندې يې راځوړندوي.



**۴ - چمکلي**

له ډېرو لرغونو ګاڼو څخه دي چې مخکې به يې له نقرې څخه جوړول. څینوشتمنو خلکو به له سروزرو څخه هم جوړول چې ډېر قیمتي اوښکلي به وو. اوس هم چمکلي په ځینو سیمو کې دود لري.

**۵ - غاړه کۍ او سلسله**

دا دوه ګاڼې هم په غاړه کې اچول کېږي او ښځې يې ډېرې خوښوي .

**۶ – چشم مهره**

دا د کوچنۍ تختې یا لوحې په شکل یوه ګاڼه ده چې د هغې په مخ باندې غمي لګول کېږي او تقریباً له سترګې سره ورته والی لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په ځينو سيمو کې تخته کې ورته وايي.

چشم مهره هم ګاڼه ده او هم په عامه توګه خلک داسې ذهنيت لري، کله چې ځينې کسان د رخـــې له مخي ددغې ګاڼې اغوستونکي ته ګوري نوسترګې يې په دې ګاڼه پريوځي دغـــه مـــرۍ د حاســـد (نظر باز) د سترګو د نظر غشي دفع او هغه انسان له بده نظره ژغوري.



**د لوست نوي اصطلاحات**

| | |
|---|---|
| ګاڼه | پسولونه |
| الماس | قيمتي تيږه، جواهر |
| دفع | مخنيوی |

**په ټولګي کې فعاليت**

- زده کوونکي دې په څو ډلو وويشل شي او هره ډله دې د ګاڼو د کارولو په باب خبرې وکړي.

**پوښتنې**

– ګاڼې له کومو فلزاتو او جواهرو څخه جوړېږي ؟

– د څو ډولو ګاڼو نومونه واخلئ ؟

– ښځې او نجونې کومې ګاڼې ډېرې خوښوي؟ طلايي اوکه د سپينو زروګاڼې؟ او ولې؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې د امکان په صورت کې په خپلو کورونو يا د خپلوانو کره وګـــوري او د دې ګاڼو عکسونه يا د هغې بازاري نمونې چې قيمتي نه وي، ټولګي ته راوړي او يو کلکسيون دې ترينه جوړ کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست

# د مسگرۍ صنعت او هنر

- گرانو زده کوونکو تاسي مس پېژنئ ؟
- په عکسونو کې کوم شیان وینئ ؟









د مسو د کشف او د کارولو تاریخ د انسانانو د ژوند له هغې دورې سره تړلی دی چې هغې ته (په مغارو کې د انسانانو د اوسېدلو دوره) وايي . بشر لومړی ځل له مسو څخه د مسکوکاتو او پیسو په توگه کار واخیست .

پخوا د خلکو د ژوند په هره برخه کې مسو خورازيات ارزښت درلود؛ خو د ماشيني صنعت په رامنځ ته کېدو او د نورو وسایلو په جوړېدو سره چې د مسو پرځای یې کارول؛ نوځکه زموږ په هېواد کې د مسو صنعت ته پاملرنه لږغوندې کمه شوه .

مس د خپلې لرغونتیا او ارزانۍ په سبب اوس هم د ټولنې دېراخو پرگنو له خوا استعمالېږي .

د کابل په ښار کې د "میوند جادې" له جوړېدلوڅخه مخکې د مسگرۍ بازار په (چار سوق) کې و.



(c) ketabton.com: The Digital Library

له مسو څخه ښځینه ګاڼې لکه: غاړه کۍ، غوږوالۍ، میخکۍ، پای زیب، بازو بند ، تعویذونـــه، ماتیک، د سینې ګل،بنګړي،ګوتې، په ښکلیو او ښایسته ډولونو سره جوړوي.



له مسو څخه دمُجَللو ماڼیو، د جوماتونو په ګنبدو او ګلدستو او د متبرکو مزارونـــو د قُبَّه وو جوړولـــو، د لیکلـــو د لوازمـــو، د مجسمو د ښکلا او د زینتـــي وســـیلو، د هندارو د غاړو(څنډو) او په لرغونو ښارونو کې د شمعدان، مشعل، مسی چراغونـــو، لالټین(ارکین) او داسې نورو وســـایلو پـــه جوړولو کې کار اخیستل شوی دی .

ځرنګه چې د مسو آواز ډېر آهنګ لرونکی دی نو ځکه له دې څخه جرس(ګینګړی، زنګوله)، د ښوونځي زنګ، سرنی، شپېلۍ، بوق(د شپیلۍ نوعه) او داسې نور جوړوي .

هغه لامل چې د مسګرۍ رواج یې تر نن ورځې ژوندی ساتلی دی، هغه له مسو څخه د کـــور دسامان آلاتو په توګه ګټه اخیستل دي، لکه د آشپزۍ او د خوړو لوښي چې پـــه لانـــدې ډول دي:

– د کور د کاروبار لوښي

عبارت دي له: لګن یا خانکی، پتنوس، کوزه، لوټه ( آفتابه )، چلمچي، آبدان، صابون دانـــۍ، شمع دانۍ او داسی نور لوښي چې تر اوسه د هغوی نمونې په پخوانیو کورونو کې شته .

– د آشپزۍ لوښي

ډول ډول دېګونه، چلوصاف، قفګیر، آب ګردان ( غټه ځمڅۍ )، سماوار، لګـــن، ډولچـــه، چای‌جوش، چري، او داسې نور اړوند لوښي.

- د خوراک لوښي

د بشقاب ډولونه، غوري، کاسې، قاشوغې، ځمڅۍ، ګیلاسونه، جامونه ( کټوری یا مـــشربه )، د ښوروا خورۍ کاسې او د اسې نور .



(c) ketabton.com: The Digital Library

مسگري چې له پخوا څخه ورسره د خلکو ډېره مینه وه، نو ځکه د فن او هنر ډېرو ډولونو په دې صنعت کې وده کړې ده.

د مسو ښکلا، ځلا، رنگ آمیزي، ډیزاین کول، شبکه کاري، زنځیرجوړونه، د هغو هنرونو لــه جملې څخه دي چې زموږ د هیواد په گوټ گوټ کې په ځانگړې توگــه پــه کابــل، بلــخ، تاشقرغان، هرات، کندهار ، ننگرهار، غزني او نورو ښارونو کې ډېر دود وو.

د یادونې وړ ده چې له بهر څخه د ځینو سپکو بادوامو او ارزانو سامانونو د راوړلو په ســبب زموږ په هیواد کې د مسو صنعت یوه اندازه کم شوی دی؛ خو که چېرې په گټورو تبلیغاتو سره خلک وهڅول شي، کېدای شي چې دې لرغونی صنعت ته دخلکو له ذوق او سلیقې سره سم په عصری ډول ښه رونق ورکړشي.







(c) ketabton.com: The Digital Library

### د لوست نوي اصطلاحات

| | |
|---|---|
| خورا | زيات، ډېر |
| هڅونه | تشويق كول |

### په ټولګي کې فعاليت

- زده کوونکي دې په درېو ډلو وويشل شي او هره ډله دې د مسينو لوښو په بـــاب خبـــرې وکړي او د مسي لوښو نومونه دې وليکي! .

### پوښتنې

– زموږ په هېواد کې له مسو څخه کومې وسيلې جوړېږي ؟
– مسګري زموږ د هيواد په کومو ولايتونو او ښارونو کې ډېر رواج لري ؟
–که چېرته زموږ په هيواد کې د مسګرۍ صنعت ته خلک وهڅول شي څومره اقتصادي ګټـــې به ولري؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د مسو هغه لوښي او سامانونه چې په خپلو کورونو او يا د خپلوانو کره يې ويني، د هغو عکسونه او يا لستونه دې ټولګي ته راوړي .



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لومړي څپرکي لنډيز

فرهنګ د هغه هويت څخه عبارت دی چې يوملت ته ټولنيزه او طبيعې هستي ورکوي.
يا فرهنګ د يوې ټولنې د معنوي ارزښتونو، د مادّي هنري لاس ته راوړنو تمثيلوونکی، د ژوند او د اخلاقو د مزاياوو څرګندونکی دی چې.
ګاڼې، د لرګي مستظرفه صنايع او د دې صنايعو او هنرونو ډېر ډولونه يکې شامل دي. د ليمڅي جوړول زمونږ د هيواد د لرغونو لاسي صنايعو څخه دي چې په دی جوړولو کې وړی نه وريشي بلکې هغه مينځې، رنګوي يې بيا ورڅخه ليمڅی جوړوي.
ټغر زمونږ په ګران هيواد کې د(اورمک) په کار ګاه کې په بېلو بېلو ډولونو اوبي؛ لکه مزاري ټغر، کشيده ټغر، پلاس ټغر او داسې نور.
زمونږ د هيواد د اوبدنې د لرغونو او ظريفو هنرونو څخه د غاليو اوبدنه ده چې پخوا د هيواد په شمالي ولايتونو، هرات او بادغيس کې دود وه، خو نن ورځ په ډېرو ولايتونو کې د کابل په شمول د غالۍ او بدل دود شوي دي.چې د وړيو، پنبې او ورېښمو څخه په بېلا بېلو ډولونو اوبدل کيږي.
زمونږ خلک د مالوچو له تار څخه خامتا، د کرکي څخه پوزي يا چغ، د غنمو له تنې څخه ټوکري، شکُور، چج، او څپلی، د ميږو د کولمو څخه چغيل (د غنمود پاکولو غټ غلبېل)، د اوړو غلبېل، متروکه، د ارغوان د لښتو **څخه** کجاوه او منجيله اوبي، ان تردې چې د ارغوان دلښتو څخه آتنګونه (منجيلې) د پوړيو(زينو) په ډول جوړوي، چې په سختو لارو او د غرونو په تيږو کې يې ميخ کوي چې د زينې په ډول ترې د تيريدلو لپاره کار اخلي.
زمونږ په ګران هيواد کې ګنډل او ګلدوزي د ظريفو هنرونو د جملې څخه دي همداشان
زمونږ په ګران هيواد کې د لرګي مستظرفه صنايع او هنر له پخوا څخه دود دی چې د لرګي **څخه** ښکلې دروازې او کړکی، ښايسته ميزونه او الماری، زانګو، دورېشلو څرخ، د لرګي کټاوې هاونګ، څمڅی، د موسيقی سامان او داسې نور ډېر سامونونه جوړوي.
له پخوا څخه د نقرې او د طلايي ګاڼو څخه د کار اخيستلو فرهنګ زمونږ په هيواد کې دود و. لکه چې زمونږ د هيواد په ډېرو سيمو کې د لرغون پيژندونکو د کيندنو په نتيجه کې د زرګرۍ نښې تر لاسه شوي دي چې غرڅه( آهو)، کټوری(د څښلو جام) او ښکلې ګاڼې دي، او نن ورځ هم با ذوقه ښځې او جونې دګاڼو د اغوستلو سره مينه لري چې نقره يي او طلايي ګاڼې لکه ګوشوارې، چمکلي، د غاړې زنځير، حمايل، سلسله، کره، چوري، ګوتې، چارګل او داسې نور اغوندي.
له مسو څخه د کور سامان، آشپزۍ او د ژوند په نورو اړتياوو کې هم ګټه اخيستل کيږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## هنرونه

### د دې څپرکي موخې

په دې څپرکي کې زده کوونکي د موسيقۍ د خوشحالۍ را وړونکي او ښکلې هنر سره چې د انسان د زړه د عواطفو ښکاره کوونکي او بيانوونکی دی بلدېږي. زموږ د هيواد کلاسيك او معاصر هنرمندان، ملّي اتڼ او د موسيقۍ سامان آلات پېژني او همدارنګه زده کوونکي به په دې لوست کې د اسلامي هنرونو نړيوالې او سيمه ييزې نمونې لکه: ښکلې معمارۍ، د ليکاطۍ او ښکلو ليکونو هنرونه چې زموږ د خلکو د مادّي او معنوي فرهنګ يومهم عنصر دی او د هغوی د ټولنې له تل څخه ځلېږي، وپېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موسيقي

- موسيقي څه شی دی؟

موسيقي د ښکلو او زړه راښکونکو هنرونو له جملې څخه ده چې له پخوا زمانوڅخه تر اوســـه پورې انسانانو خپل باطني عواطف او نازک احساسات، خوشحالي، غمونه اوخپلې روحي جذبې د موسيقۍ په واسطه ښکاره کړي دي .

## په اسلامي نړۍ کې د موسيقۍ پوهان

ابو نصر فارابي (معلم ثاني) د اسلامي نړۍ ستر فيلسوف، د موسيقۍ عالم و چې د موسيقی په علم کې تاليفات لري. سرينده (غيچک) هغه اختراع کړې ده.

وايي چې: يوه ورځ فارابی يوه مجلس ته راننوت او يو څو ټوټې لرګي يې له يوې کڅـــوړې څخــه راوبستل، هغه يې يو له بل سره پــه ځانګړې توګه ترکيب او يو ځـــای کړل او بيا يې وغږول. په يوه حالت کې يې ټول حاضرين په ژړا کړل او په بل حالت کې يې ټول وخنـــدول بيا يې د ساز غږ بدل کړ، ټول يـــې ويده کړل او خپله تری ولاړ.





د اسلامی نړۍ پوهانو دغه ښکلي هنر ته د پيړيو په اوږدوکې وده ورکړې ده، لکه:ابوحفص سُغدی دڅلورمې هجري پيړۍ اديب او موسيقي پوه يوه جعبه يې په قانون سره برابره کړه او هغې ته يې د قانون نوم ورکړ .

رودکي سمرقندي به چنګ ډېر ښه غږاوه .

فرخي سيستاني هم د چنګ او عود په غږولو کې ورتيا درلوده .

ابن سينا بلخي د موسيقۍ په فن کې لوی لاس درلود چې د هغه د ( شِفا ) کتاب يـــوه برخــه دموسيقۍ د علم په باره کې ليکل شوې ده .

خواجه عبد القادر عودي، خواجه محمود شهابي هِروي، قاسم قانوني، حافظ بابا جان، مولانابنايي، ټول د موسيقۍ په هنر کې استاذان او پوهان وو.

خوشحال خان خټک په خپل مشهور اثر«دستارنامه» کې د سلو هنرونو او سلو خصلتونو په لړکې د يوه شخصيت لپاره د موسيقي پر هنر پوهېدل هم لازمي ګڼلي دي او د خپل دغه کتاب يوه برخه يې ورته ځانګړې کړې ده.

هغوی چې موږ يې نومونه يادکړل زموږ د هيواد د کلاسيکې موسيقۍ او د پخوانيو ټولنو د لرغوني تاريخ له تل څخه را وتلي دي او د هغوی د ميراثونو سلسلې زموږ تر ژوندانه پورې رارسېدلې دي.





زموږ د هيواد معاصر موسيقي پوهان هريو: استاد قاسم افغان، استاد پياراخان، استاد محمد حسين سرآهنګ، استاد رحيم بخش، ميرمن پروين، استاد شيدا، استاد هاشم، استاد اولمير، اميرمحمد، محمد آصف، استاد محمد عمر، استاد مهوش، ملنګ، استاد در محمد لوګرى، شيرغزنوی، ناشناس، ساربان، بيلتون، استاد ايوب، څلاند، ارمان، احمد ظاهر، فيض منګل، بازګل بدخشی، استاد محمد دين زاخيل، استاد ګلزمان،ميرمن قمرګل،قديم، صفدر توکلي او په زرګونو نور هنر مندان دي چې زموږ خلک د هغوی د نومونو او هنرونو سره آشنايي لري.

د کابل ښار د (پايان چوک) د خرابات په کوڅه کې د دوی د غونډېدو مرکز و.

## د موسيقۍ (ټنګ ټکور) سامان

د موسيقۍ سامان بېلا بېل ډولونه لري چې په عمومي توګه په درې برخو وېشل کېږي:






(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – د موسیقۍ بادي ( لوله يي) آلات

عبارت دي له: شپیلۍ، سورنی، شهنايي، نفیر، شیپور، کرنا، ترومپت، تونت، موسیقار، سیفون، او داسې نور .

۲ – د موسیقۍ تاري او آرشه يي آلات عبارت دي له:

د نبوره، دوتار، سه تار، تنبور، رباب،بینجو، بربط، ماندولین، گیتار، سرنده، چنگ، شـــهرود، چغانه، پیانو، رود، عود، کیبورد، هارپ، سنتور، سارنگ، وایلون، دلربا، غیچک، هارمونیـــه، آرگن، اکوردیون، شوتک او داسې نور .

۳ – د موسیقۍ ضربي آلات: طبل ( ډول )، طبله (دوپړۍ)، زیربغلي، دف، چمبـــه، منگـــی، نغاره، ارغنون، بانگودرم، تبیره، او داسی نور دي.

باید ووایو چې: د اسلام له نظره هر هغه کار چې د انسان د شهواني غرایزو د راپارېدو لامـــل وگرځي نا جایزدی؛ نو ځکه د اسلامي امت د فقهاوو او پوهانو په مینځ کې د هغې موسیقي په حرمت چې د شهواني غرایزو د راپارولو لامل وگرځي او انسان د بې بندوباري او فحشا خوا ته بیايي د نظر اتفاق لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لوست نوي اصطلاحات**

| | |
|---|---|
| غيچک | د موسيقۍ يوه آرشه يي آله ده . |
| تَل | ژوره، ببخ |
| کلاسيک | قديمي - لرغوني |

### په ټولګي کې فعاليت

- زده کوونکي دې په دوه ډلو وويشل شي، يوه ډله دې د لرغوني موسيقي سامانونو په هکله او بله دې د عصرى موسيقۍ د سامانونو په هکله خبرې اترى وکړي او دخپلو خبرو نتيجه دې وليکي.

### پوښتنې

– تاسى د محلي موسيقۍ څو ډوله سامانونه پيژنئ ؟
– څو کسه وطني او محلي سندرغاړي پيژنئ ؟او په هغوى کې د کوم يو آواز ډېرخوښوئ؟
– ستاسې په ټولګي کې څوک د موسيقۍ د آلاتو له غږولو سره بلددي ؟
- سرُ او تال په موسيقۍ کې څه معنا لري؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. يوه ډله دې د نامتو وطني او محلى موســـيقۍ د آلاتو غږوونکي او بله ډله دې د نامتو سندرغاړو نومونه وليکي .



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مِلّي اتڼ

- د مِلّي اتڼ په باره کې څه پوهېږئ؟



مِلّي اتڼ زموږ د هېواد له لرغونو عنعناتو او فرهنګ څخه دی چې د هېواد په ختیځو او جنوبي سیمو کې رواج لري. په نوي کال، ودونو، اخترونو، د ماشومانو د سنت کولو په خوښۍ او د خپلواکۍ په جشنونو کې ملي اتڼ ترسره کېږي.

## د ملی اتڼ د کولو طریقه

ملی اتڼ تل د ډول په وهلو سره پیل کېږي چې ډول وهونکی، شپېلۍ غږونکی د ځانه سره ملګری کوي. ځوانان او اتڼ کوونکی کله کله په دوو ډلو وېشل کېږي او د اتڼ د ځانګړو سندرو په ویلو چې په پښتو ادبیاتو کې ورته د (اتڼ نارې) وايي، پیل کیږي. چې د اتڼ کوونکو له خوا کله د سؤال او ځواب په بڼه او کله یوځایي د ځانګړې نڅا او حرکت سره ویل کېږي.
د نمونې په ډول یو څو سندرې دادي:

واخ ودی ویشتمه — مین دې په دا تورو سترګو یمه
پاس په بام ولاړه یې — زاری درته کوم که خولګۍ راوړې
که شین دی آسمان شین دی — شیرین لالۍ مې غاړې لونګین دی

د سندرو د ویلو په پای کې دواړه ډلې قطار برې او د اتڼ په ډګر کې یوه دایره جوړوي. د ډول وهل تېزېږي. ځوانان او اتڼچیان په داسې حال کې چې سپین کالي، په ګلدوزۍ او چرمه کارۍ ښکلي شوي واسکټونه اغوستي، په ډېر جوش او شوق د ډول او سرني د آواز سره د سر، ویښتانو، غاړې، اوږې، ملا، د لاسونو او پښو حرکتونه منظم او هم غږی کوي او اتڼ ته دوام ورکوي.

## د اتڼ دوام

ټول خپل مخونه او لاسونه په یوه حرکت د دایرې دننه لوری ته ګرځوي. یو وار چکې وهي او بیا خپل لاسونه او ښۍ پښه اوچتوي او بیا چکې وهي. په همدې ترتیب خپل مخونه د دایرې بیرون خواته ګرځوي اوبیا چکې وهي. د دې



حرکتونو د اجرا کولو په وخت کې ټول راتاوېږي. همدا منظم چکونه ( دلاسونو پړکا) د دایرې دننه او د باندې د ډول او سرني سره په هم آهنګه توګه دوام کوي او ورو ورو شور او جذبې ډېرېږي. داسې چې ټول ځوانان د اتڼ په وخت کې د ټوپونو په وهلو سره پخپلو کې تاوېږي؛ لاسونه پړکوي؛ سرونو او غاړو ته منظم او یوځایي ټکانونه ورکوي؛ د سر ویښتان ښې او کیڼ خوا ته غورځوي. چې ډېره په زړه پورې منظره مینځته راوړي.







(c) ketabton.com: The Digital Library

هرځومره چې اتڼ دوام کوي په هماغه اندازه د ځوانانو جذبې زیاتېږي او په ډېـــر جـــوش او خروش سره یو ډول ښکلي آوازونه کاږي. د اتڼ نغمه او د ډول آواز ځانګړی ســـاز او آواز لري چې د ځوانانو ډېر شور او غوغا راپاروي.

دلوست نوي اصطلاحات

| | |
|---|---|
| لالیـ | لالي - دوست - محبوب - زړه ته نږدې |
| چکې | لاسونه پړکول |

### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي د ملي اتڼ په باره کې خبرې اترې وکړي!

### پوښتنې

- ملي اتڼ د جسم او روح له نظره په اتڼ کوونکو او نندارچیانو باندې څنګه اغیزه کوي؟
- ملي اتڼ زموږ د هېواد په کومو سیمو کې ډېر دود لري؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د ملی اتڼ په باره کې یوه مقاله ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلسم لوست

# د اسلامي هنرونو نړیوالې او سیمه ییزې نمونې

## الف: نړیوالې نمونې

- د اسلام د سپیڅلي دین په راتلو سره زموږ په هیواد کې کومو هنرونو زیاته وده وکړه؟

د اسلام سپیڅلی دین چې رڼا یې ټوله نړۍ روښانه کړه، له معنوي او اخلاقي ارزښتناکو لارښوونو څخه سربیره یې د نړۍ په مادّي فرهنګ او هنر باندې هم ډېرې اغیزې وکړې چې دا اغیزې په معمارۍ، لیکاطۍ او خوشنویسۍ، مُذَهّب کارۍ، صحافۍ، انځورګرۍ، مجلّد کارۍ او په داسې نورو کې روښانه دي چې د هغې نمونې تر نن ورځې پورې د نړیوال فرهنګ په مجموعه کې د لمر غوندې ځلېږي.د معمارۍ د هنر په برخه کې یې اغیزې تر اروپا رسېدلې دي چې د هسپانیې په هیواد کې د مسلمانانو په واسطه ډېر ښکلي او بې ساري جوماتونه ودان شوي دي.



کعبه مکرمه



مدینه منوره، نبوی جومات



د الوغ بیګ مدرسه
(سمرقند)



د سلطان احمد جومات
استانبول




(c) ketabton.com: The Digital Library


په افريقې، مصر، ترکيې او په نورو اسلامي هيوادونو همدارنگه په سعودي عربستان او نـــورو عربي هيوادونو او په هند کې د  شېرشاه سورى،ظهيرالدين محمد بابر او د هغــه د زامنـــو د بادشاهۍ په دوره کې لوى لوى جوماتونه او نورې تاريخي ودانۍ جوړې شوې دي چې تر نـــن ورځې پورى په هماغه شان په خپل جلال او پرتم پاتې دي.



کتاب التفهيم الاوايل صناعة التنجيم
ابوريحان بيروني


قوتاد غوبيليک
يوسف خاص حاجب


القانون فى الطب
بوعلي سينا


د احمد شاه دراني (ديوان)





د علي شير نوايي
ديوان






(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب: سیمه ییزې نمونې

زموږ په ګران هیواد کې د هرات د تیموري پاچاهانو، بابرشاه او د هغه د زامنو له خوا ډېر باعظمته او ښکلي جوماتونه ودان شوې دي چې په هغو کې د اسلامی معماری له ځانګړي سبک او طریقې څخه ګټه اخیستل شوې ده. د غه جوماتونه ډېرې ښکلې منقشې ګنبدې لري چې رواقونه یې په ښکلو میناتوریو او د قران کریم مبارک آیتونه یې په نستعلیق، ثلث، ریحان، او په شکسته لیکونو باندې ښکلي لیکل شوي دي.

د لیکونو په څنډوکې د ګلونو او پاڼو تصویرونه په تناسب او تناظر سره په طلایي او لاجوردي پخو رنګونو انځور او نقاشي شوي دي.

دغه یادې شوې ښکلې نقاشۍ او د معَرّقې کاشي کارۍ نمونې د هرات په تاریخي جومات، دشاهرخ میرزا په لویه مدرسه، د مصلاّی هرات په مجموعه، د ګوهر شاد بیګم په مدرسه، د شاه ولایت مآب په روضه، د شاه دوشمشیره ولی په جومات، د خواجه پارسای ولی په جومات او داسې نورو کې په ځلانده توګه تراوسه پاتې دي.



د بابر شاه د بڼ جومات
کابل



د شاه دو شمشیرهٔ ولي جومات
کابل



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هرات مُصَلّی

د هرات مُصَلَّی چې دغه ځایونه پکې شامل دي: د گوهر شاد بیگم مدرسه، د سلطان حسین میرزابایقرا مدرسه او خانقا، د امیرعلی شیر نوایي جومات، دارالحّفاظ، دارالّشفا، د اخلاصیه خانقا او مدرسه چې داټول د ((هرات د مصلی مجموعه یا ټولگه)) او د اسلام د عالي هنرونو ثخه دي . د غلوار مسجد (مسجد حوض کرباس هرات) چې د هغې محراب د اسلامي او تېموري هنرونو ثرگند او وتلی صنعت دی او په خپله طرح، طرز او نوعیت کې د لیکاطی، خوشنویسی، کاشي کاری او خاتَم کاری (غمی لگولو) په هنر کې لوړه نمونه ده.د هغې د (اوو رنگونو) کاشي کاری کې د معدني رنگونو ښکلي نقشونه کارول شوي دي.

## د نړی په تاریخ کې تر ټولو عالي ودانی



د گوهر شاد جومات چې د خراسان د مشهد په ښار کې دی او تر اوسه په هماغه اصلي بڼه ودان پاتې دی د اسلامي هنر او زموږ د هیواد د هرات د تیموریانو د دورې د غوره معماری نمایندگي کوي. د ځینو لرغون پوهانو په نظر دا ودانی دنړی د دوولسو تاریخي او عالي ودانیو په کتار کې شمېرل کېږي.

## د لیکاطی او ښکلې لیکنې هنر




زموږ د فرهنگ دبې سارو هنرونو ثخه یو، ښکلي لیکلنې دي چې د ظرافت او ښکلا له پلوه د تجسُّمي هنرونو په محراق کې ځای لري.

زموږ لیکاطي اوښکلي لیکنې په (عربی- فارسی) لیکونو سره په نړی کې یوازنی او ځانگړی هنر دی. زموږ د هیواد لیکاطانو او ښکلي لیکونکو په پوهه او کمال سره دغه روښانه هنر د یوه اصیل شرقي او اسلامي فرهنگ په توگه نړیوال فرهنگ ته وروپېژاند او هغې ته یې بډاینه وربخښلې ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

په (عربي- فارسي) ليکونو کې ددې ځخه نور اوچت مقام کوم دی؟ چې ربّاني کلام (قرآن شریف) په دې لیک سره لیکل شوی دی.

قرآن شریف چې نور په هر لیک سره ولیکل شي هغه نسخه د قــرآن کــریم ترجمــه ده نــه خپلــه




قرآن کریم. په دې لیک سره د الله (ج) کلام د لایتناهي عالم څخه زموږ د نړۍ غېږې ته راغلی دی.

د ( عربي- فارسي) لیک زموږ د فرهنگ د معنویت ښکارندوی دی چــې د فرهنــگ ټــولې خواوې، معنوی اړخونه اوښکلې بڼه یې په غیږه کې لا تر اوسه ساتل شوې او تل پاتې ژوند یې موندلی دی.

بل هیڅ لیک نه شي کېدلی چې داسې ښکلی ولیکل شي.

په (عربي- فارسي) لیک کې د حروفو تناسب او تناظر په داسې ظرافت سره په پام کې نیــول







(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی دی چې که چیرته د وېښته په اندازه د هغې له تناسب څخه لږ زیات ولیکل شي؛ نو نیمگړتیا یې په آسانۍ سره لیدل کیږي.
په دې هکله د یاقوت مستعصمي مشهور حکایت چې قرآن کریم یې په ښکلي لیک سره لیکلی او د بغداد خلیفه ته یې وړاندې کړی و، شته دی چې ښوونکی به هغه تاسو ته ووایي.





د تاریخ په اوږدو کې چې کوم ملاحظات د انځور گرۍ او موسیقۍ په ډگر کې موجود وو د (عربي - فارسي) لیک ددې دوو نازکو او لطیفو هنرونو پیتی پخپلو اوږو باندې تراوسه پورې راولیږدوه، له دې کبله په ځینو مواردوکې دې لیک او ښکلو لیکنو په انځور گرۍ او تصویر جوړونه کې بدلون موندلی دی.
تاریخ گواه دی چې د شاهرخ میرزا او د هغه د ملکې گوهر شادبیگم د سلطنت په وخت کې هرات او د بایسُنغُری کتابتون اواکاډیمي د ښکلې لیکنې د روزنې او هڅونې د راټولیدو لوی مرکز و.
د لیک ډولونه په ځانگړی توگه د نستعلیق لیک د ښکلي لیکونکو د ذوق او سلیقې تجلّیگاه گرځېدلې وه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې دوره کې شمس الدين محمد هّشام هروی بایسُنغُری او شمس سلطانی په نهمه هجـــری پیړۍ کې د شاهرخ میرزا په دربار کې د بې ساربو ښکليو ليکونکو څخه وو چې په سته، ياقوت او نسخ ليکونو کې استاذان وو او کلام الله مجيد به يې په دې ښکلو ليکونو سره ليکه.







زمونږ د گران هيواد د تيموري علم دوستو او هنرپالو بادشاهانو د پالنې له کبلـــه ليکاطـــانو او ښکلی ليکونکو دا ښکلی او ظريف هنر د کمال لوړو پوړيو ته رسولی و چې هغه يـــې پـــه اوه ډوله په اوو قلمونو (په داسې حال کې چې د ټولو ليکونو په ليکلو کې يې د تورو(حروفو) تناظر او تناسب په پام کې نيوه)، ليکل کول؛ چې په دې توگه يې په اوه قلمـــي ليکاطـــانو شـــهرت موندلی وو.

حضرت مولانا نورالدين عبدالرحمن جامي چې ددې دورې دنوميالیو عالمانو او شاعرانو څخه و د اوو قلمونو ښکلی ليکنه يې پخپل شعر کې داسې ښکلی بيان کړې ده.

کاتبان را هفت خط باشد بطرز مختلف

ثلث و ریحان و محقق، نسخ و توقیع و رقاع

بعد از آن تعلیق آن خطست کش اهل قلم

از خط توقیع استنباط کردند اختراع

د یادونې وړده چې تیموري شهزاد ګان او پاچاهان پرته له دې چـې د هنرمنـدانو او ښـکلو لیکونکو هڅوونکي وو، بلکې دوی هریو په خپله بې ساري هنرمندان او ښکلي لیکونکي وو. لکه څنګه چې بایسُنُغر میرزا په ۸۲۳ هجری کال کې د فردوسي شهنامه خطاطي او په ښـکلا لیکلې وه چې د لیک د ښکلا، د کتاب جوړونې، انځورګرۍ اود اسلامي هنر نـور اړخونـه اوښېګڼې پکې راغونډې شوې وې چې د نړۍ په ټول تاریخ کې د بې سـارو هنـري آثـارو اوشاهکاریو څخه دي. چې دغه نړیوال اوچت مقام د اسلام د مقدس دین اود اسلامي فرهنګ د برکت څخه ترلاسه شوي دي.

**د لوست نوي اصطلاحات**

| | |
|---|---|
| رواقونه | د ودانیو د ګنبدونو لاندینۍ برخه |
| مُعَرّقي | ځلېدونکي. |
| بنا | ودانۍ |
| تجلید | کتابونو ته پوښ جوړول |

**په ټولګي کې فعالیت**

- زده کوونکي دې په ډلوکې زموږ د هیواد دتاریخي جوماتونو او ودانیو د عکسونو پـه اړه خبرې وکړي.

**پوښتنې**

- د شاهرخ میرزا لوی جومات، د هرات د مصلی مجموعه، د ګوهر شاد مدرسـه، د شـاه ولایت مآب روضه، د خواجه پارسای ولي جومات، هریو زموږ د هېواد د اسلامي هنرونو پـه پېژندنه کې څه رول لري؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې داسلامي تاریخي ودانیو په هکله د خپلو کورنیو په مرسته څـو کرښـې ولیکي او ټولګی ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دویم څپرکي لنډیز

موسيقي د لطيفو او ښکلو هنرونو څخه ده چې انسانانو د پخوا زمانو څخه تر اوسه پورې خپلې خوشحالۍ، غمونه او هيجانات، باطني عواطف او احساسات ددې په واسطه څرگند کړي دي.

په اسلامي نړۍ کې د موسيقۍ پوهان ډېر وو، لکه څرنگه چې ابو نصر فارابي د اسلامي نړۍ لوی فيلسوف د موسيقۍ عالم و. د هغوی د ميراث دوام تر نن ورځې پورې رارسيدلی دی. زموږ د هيواد په سلگونو معاصر د موسيقۍ پوهان او استاذان زموږ خلک پېژني. د موسيقۍ سامان په عمومی توگه په دري ډوله دي: بادي، ضربي، تاري او آرشه يي. ملّي اتڼ زموږ د هيواد د لرغونو هنرونو څخه دی چې د هيواد په جنوبي، جنوب ختيځو او جنوب لويديزوسيمو کې دود دی. اتڼچيان په دايروي شکل درېږي د ډول او سرني په و هلو ملّی اتڼ ترسره کوي.

د اسلام سپيڅلي دين د نړۍ په مادّی او معنوي فرهنگ باندې اغيزه کړې ده چې د معمارۍ او شاندارو جوماتونو د جوړولو په برخه کې يې اغيزې له سعودی عربستان څخه نيولی ان تر هند، افغانستان، په اروپاکې د هسپانيې تر هيواده پوری رسيدلي دي دهرات مصلا او جامع جومات، په مشهد کې د گوهر شاد بېگم جومات او د ډهلي جامع جومات، په سمرقند کې د ريگستان مدرسه، په مزارکې د حضرت علي کرم الله وجهه آرامگاه او دخواجه پارسای ولي جومات، په مدينه منوره کې نبوي(ص) جومات او داسې نور.

د ليکاطی او ښکلو ليکنو په هنر کې د هرات د تيموريانو دوره، د بايسنغري اکاډمي او کتابتون د خپل وخت دښکلو ليکنو او د غونډو لوی مرکز و چې ډېريې اوه قلمي وو او په ځانگړې توگه دا مرکز د نستعليق ليک تجلّيگاه گرځېدلی وه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## سیمه ییز دودونه

### د دې څپرکي موخې

په دې څپرکي کې به زده کوونکي د میلمه پالنې د غوره دودونو سره چې زموږ د خلکو د لرغونو سنتونو څخه دي بلدشي او همدارنګه په کلیو، ښارونو او دنړۍ په نورو هیوادونو کې به د ډوډۍ د خوړلوآداب اوهم به د سنتي او پخوانیو خوړو بېلا بېل ډولونه چې د پیړیو په اوږدو کې یې دخلکو ترمنځ دود درلوده، آشنایي پیدا کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مېلمه پالنې دودونه او مېلمستون

که چېرې ستاسې کور ته یو ورې، ترې او سترې مېلمه له اوږده سفر څخــه راشــي او ډوډۍ ستاسې د کورنۍ په اندازه وي نو تاسې به څه کوئ؟

مېلمه پالنه زموږ د خلکو ډېر پخوانی دود دی. پخوا زموږ د هېواد په ډېرو سیمو کې خلکو د جوماتونو په څنګ کې قومي حجرې درلودلې. چې د هېواد په شمالی سیمو کې ورته خلــک قوش‌خانه، په کابل او ځینو نورو سیمو کې ورته مهمانخانه، په کونړونو، لغمــان، جنــوبي او جنوب غربي ولایتونو او په ننګرهار کې ورته حجره او دېره وایي.

پخوا به یې د ژمي په موسم کې حجرې، مېلمستونونه او جوماتونه په (تاوه خانو) یا د نغري په اور باندې ګرمول او شتمنو خلکو شخصي حجرې هم درلودې. کلیوالو خلکو به زیات وخت د سهارچای (سبا ناری) او د ماښام خواړه، په ځانګړې توګه د ژمي په موسم کــې پــه دې حجروکې له میلمنو سره ګډ خوړل.

مېلمه به یې په برځای کې کېنباوه. یو ځلمي به کوزه او چلمچي راوړل، د میلمــه او نــورو لاسونو ته به یې اوبه اچولې. بل ځوان به دستپاک مېلمه ته ورکاوه او بــل بــه د ســترخوان هواروه، بیا به د کورنۍ غړو یا کلیوالو په ګډه سره د خوړو لوښي راوړل. لومړی بــه یــې د مېلمه مخې او بیا به یې نورو ته کېښودل. مېلمه چې به هر څوک و او هر څو ورځې به دلته و، کلیوالو یا دکور خلکو به په ورین تندي ډوډۍ ورکوله.

## مسافر مېلمه

مسافر مېلمه چې په قرآنکریم کې ورته ((ابن السبیل)) (د لارې زوی یا د لارې مسافر) ویــل شوی دی چې ورې، ترې او پلی به په لارو تېریده او په کوم کلي به چې راغی، خلکو به یــې ډېر درناوی کاوه او ویل به یې: ((دا د خدای مېلمه دی او مېلمه د خدای دوست وي.)) همدا راز دیني طالب العلمانو ته هم ابن السبیل ویل کېږي.

د کلیو خلک د ښار د خلکو په پرتله ډېر مېلمانه لري، ځکه چې په کلیو کې د ډوډۍ خوړلو او د شپې تېرولو لپاره هوټلونه او رستورانتونه نه وي، نو یو مسافر مېلمه ناچــاره وي چــې د کلیوالو حجرو، جوماتونواو یا مېلمستونونو ته ورشي او خپله شپه تېره کړي؛ مګــر پــه دې



(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستیو کې چې په ښارونو کې هوټلونه او رستورانتونه ډېر شـوي دي، مـسافر میلمانـه د کورونو پرځای هوټلونو ته ځي.

**په ټولګي کې فعالیت**

- زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي او هره ډله دې د مېلمه پالنې د ښرنګوالي په بـاب خپل نظرونه او وړاندیزونه د نن ورځې د ښاري ژوند او د ټولنیزو بدلونونو او غوښتنو سره سم ترتیب او یو یو تن دې د خپلې ډلې په استازیتوب د ټولګي مخې ته راشي او هغه دې ولولي.

**پوښتنې**

- په پخوانیو وختونو کې زموږ خلکو د مېلمنو پالنه او درناوی څنګه کاوه؟
- ستاسې په آند مېلمه پالنه په پخوانۍ (دودیزه) بڼه ښه ده او که په هغې کې د نـن ورځـې د ژوندانه له غوښتنو سره سم بدلون راوړل شي.

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې د پخوانۍ کلیوالي یا دودېزې مېلمه پالنې په هکله د خپلو کورنیو په مرسـته معلومات راغونډ کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست

# د ډوډۍ خوړلو آداب

- انسان باید په یوه ډله کې ډوډۍ څرنګه وخوري؟

د ډوډۍ خوړل، په ټوله نړۍ کې خپل ځانګړي آداب لري چې د هر هېواد وګـــړي د خپلـــو دودونو سره سم هغوته پاملرنه کوي.

د نړۍ په ډېرو پرمخ تللو هیوادونو کې خلک ډوډۍ د مېز پر د قاشوقې او پنجې پـــه واســـطه خوري. د چین د لوی او ګڼ نفوسه هېواد خلک په ځانګړو کوچنیو، پاکو او ظریفـــو لرګیـــو باندې ډوډۍ خوري چې هغه لرګی یو وار کارول کېږي. اوس په ځینو هېوادونو کې قاشـــقه، پنجه او نور لوښي هم (یووار کارول) رواج شوي دي. زموږ په ګران هېواد کې په رســـمي او دولتي میلمستیاوو او ودونو کې د کابل او نورو لویو ښارونو ډېر خلک په هوټلونو کـــې پـــه قاشقه، پنجه او د مېز پر سر ډوډۍ خوري. خو په ډېرو سیمو، کلیو، ولایتونو او ان په ښارونو کې خلک پر فرش باندې کښېني او په لاسونو ډوډۍ خوري چې هغه دودونه او رواجونه پـــه لاندې ډول دي:

## په کلیو کې د ډوډۍ خوړلو آداب

زموږ زیاتره خلک په سهار کې لږه او ماښام زیاته ډوډۍ خوري چې دا ښه او ګټور نـــه دي، بلکې په سهار کې ډېر او ماښام لږ خوراک غوره دی. په دې باره کې مقوله ده چې وايي:

((د سهار ډوډۍ په خپله خوره! غرمه یې له دوستانو سره خوره! او د ماښام خوراک دښمن ته ورکوه!))

د ډوډۍ په وخت د کور ټول غړي پر فرش باندې ناست وي، یو هلک کـــوزه او چلمچـــي راوړي او د ټولو لاسونو ته په ترتیب سره اوبه اچوي، بیا د کور ښځه په دسترخوان کې وچـــه ډوډۍ، بیا غوري او کاسې راوړي او په دوديز ډول یوې کاسې یا غوري ته دوه یا درې کسه کښېني او خوري یې.

ځینې خلک ماشومان یوازې لوښي ته کښېنوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ډوډۍ د خوړلو پیل

د ډوډۍ خوړل په (بسم الله الرحمن الرحیم) باندې پیلوي.که خوراک شوربا یا نـــور اوبلـــن خواړه وي، وچه ډوډۍ په هغې کې ماتوي چې پسته شي. ډوډۍ په کـــراره او آرامـــۍ ســـره خوري.

کله چې ماړه شي کاسې په ګوتو پاکوي او وايي چې د کاسې په پاکولو کې ثـــواب دی او د کورنۍ مشر د خدای (ج) د نعمتونو د شکرانې د ادا کولو په خاطر لاسونه پورته کوي او دعا وايي. د کورنۍ نور غړي هم ورسره لاسونه پورته کوي او په ګډه سره آمین وايي.

دستر خوان ټولوي. د کورنۍ یو وړوکی هلک یا نجلۍ بیاهم کوزه اوچلمچـــي راوړي او پـــه ترتیب سره لاسونو ته اوبه اچوي. مور یا ځوانه لور لوښي وړي او هغه مینځي؛ مګـــر پـــه دې وروستیو وختونو کې په ښارونو کې بدلونونه راغلي دي. که خواړه ښوروا وي، د دوه کسانو لپاره یوه کاسه یا د هر کس لپاره یوه کاسه راوړي. میوه، سلاد او سابه په بېلا بېلو قابونو کې ږدي او هر څوک يې په خپله خوښه له ښوروا سره خوري. غوښه یو کس په ټولو وېشي. زیاتره ماشومان او ځوانان د هډوکو غوښه خوښوي. پخوا د سبو او میوو خوراک په کلیو کـــې لـــږ رواج و؛ خو په دې وروستیو کې خلک د دې په ګټو پوه شوي دي او ډېر يې خوري.

## په ودونو کې د ډوډۍ خوړلو آداب

په یوه کور یا یوه لویه حجره کې اوږد او لوی د سترخوان هواروي. میلمانه خپـــل لاســـونه مینځي او له دسترخوان څخه چاپېره پرفرش باندې کښېني. ټاکلي کسان د پلو غوري او نـــور اړوند خواړه راوړي.دوه یا درې کسان یوه یوه غوري ته کښېني. د خوړلو په پای کـــې دعـــا کوي اوله دسترخوان څخه خوربېږي.

## په هوټلونو کې د ډوډۍ د خوړلو آداب

په وروستیو کلونو کې خلک داسې فکر کوي چې د واده مراسم په هوټلونو کې بې ستونزو دي او یا دمنفي سیالۍ له مخې ورو ورو هوټلونو ته مخه کوي چې د خپل واده مراسم په هوټل کې سرته ورسوي که څه هم د هوټل لګښت ډېر دروند دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۱۵ - ۲۰)** کلونه مخکې کله چې به میلمانه هوټل ته وغوښتل شول او هلته به ورغلل، په هوټل کې به ځوکۍ او میزونه اینبودل شوي وو او مېلمانه به لس یا دوولس کسان د هر مېز څخــه چاپېره په ځوکیو باندې کښېناستل .کله چې به د هوټل خدمتګارانو خــواړه پــه غوریــو او قابونوکې په میزونو کېښودل؛ نور به نو ځنډ او معطلي جایز نه وه. هر ځوک به چې په کراره خوځېده څه به یې لاس ته نه ورتلل،نو مجبور به و چې په کور کې ډوډۍ وخوري.
خو په دې وروستیو وختونوکې له یوې خوا په هوټلونوکې د خوړو کمیت ښه شوی دی، او له بلې خوا د پوهې په رامنځ ته کیدو سره د ډوډۍ خوړلو فرهنګ او آدابو هم بدلون موندلی دی.

**په ټولګي کې فعالیت**

- زده کوونکي دې هریو د هغو آدابو په هکله چې ددوی کورنۍ یې د دسترخوان پرمخ د ډوډۍ د خوړلو په وخت په پام کې نیسي خبرې وکړي!

**پوښتنې**

- ستاسو په فکرډوډۍ خوړل په جلا کاسو کې ښه دي او که په ګډه سره په یوه کاســه یـا غوري کې؟
- ډوډۍ خوړل په قاشقه او پنجه څه ګټه لري؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې د خپلو کورنیو له مشرانو څخه د ډوډۍ خوړلو په هکله چې له پخوا څخه یې ځومره بدلون موندلی پوښتنه وکړي او هغه دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# خواړه

- په عکس کې کومې میوې وینئ؟



خواړه د انسانانو د ژوند د پاينښت يوه اصلي او بنسټيزه وسيله ده چې هغه له مېوو، سبو، حبوباتو، لبنياتو، کبانو، مرغانو، چرګانو، د چرګانو د هګيو او له څارويو څخه د خوړلو لپاره لاس ته راوړي.

زموږ خلک خواړه په ساده ډول خوري او ډول ډول مواد سره نه يوځای کوي.ځکه پـه دې پوهېږي چې که څومره مختلف مواد سره يوځای شي او يا هغو ته زيات جوش ورکړ شي، هومره يې د خوړو کيفيت کمېږي. مېوې او زياتره سابه تازه يا اومه خوړل کېږي. خلک ځينې حبوبات او سابه پخوي او بيا يې خوري. شېدې له ايشولو څخه وروسته تومنه کوي چې مستې، پيروی، کُچ،خيدک(پنير)، تروې(شـرومبې) او کُرت ورڅخه جوړوي. که چېرته د اخواړه تازه وخوړل شي، ډېر ګټور دي.



په غوښو کې ډېره ښه غوښه د کبانو غوښه ده. کبـان ډېر ډولونه لري؛ لکـه: خاويـار، خـال لرونکـي کبـان، شـيرماهي، لقـه، اوزون بورون، قزل آلا او داسې نور ...

دويمه درجه د مارغانو غوښه ده؛ لکه: مرز (بودنه)، سی‌سی، زرکه، د چنچڼو ډولونه، کـورنې او ځنګلي چرګان، قره قوش، زرې کبک ، وحشي او اهلي فيل مرغ، هيلی(مرغابی) او نور.



(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښه خلک په مختلفو ډولونو پخوي لکه: ډول ډول کباب، کوفته، منتو، ښوروا، چـــاینکي، یخني، تندوری، دوپیازه، کوزه بته، وریته، او داسې نور.
د کبابونو په څېر د غوښو پخول د خوړلو لپاره ښه اوبې زیانه دي.
په هر صورت د غوښې ډېر خوړل د انسان روغتیا او سلامتیا ته زیان رسوي. د اســـلام لـــه مشرانو څخه یوه، داسې ویلي دي:
**(له خپلو خیټو څخه د ځارویو هدیره مه جوړوئ!)**

## د خوړو ډولونه

**الف:** هغه خواړه چې د اوړو (خمیر) او سبو څخه برابرېږي:
آش، منتو، سمبوسه، کُتَخي، قیماقي، آشک، اوماچ، بوگن‌آش، بولاني، دلده (د غنمو دل شوی خواړه) او داسې نور.



**ب:** هغه خواړه چې له وریجو څخه برابرېږي
پلو، چلو، قابلي پلو او بېلابېل ډولونـــه یـــې، شیربرنج، شـــوله، شـــوروابرنج، د وریجـــو او شړومبو اوگره، ډنډه کی، قولوتُرش او داسې نور.
کچړي قروت اوچاینکي زموږ د هیواد د خلکو ډېر پخواني خواړه دي.

**ج: د وچې ډوډۍ ډولونه**

د تناره ډودۍ، د تبې ډوډۍ، خاصه ډوډۍ، د تبې پراټه،قماچ (کلوله ډوډۍ)، چپاتي، فتیـــره، اېشله، کلچې، ورقي کلچې، په تېړه باندې پخه شوې ډوډۍ، گـــوش‌فیـــل، د ســـیلوډوډۍ، گنځاخي، چېه تاوه او داسې نور.

### کُتَخي

د بدخشان ولایت د اوزبېکانو په منځ کې رواج لري.
دا خواړه د سوزمې، اوړو، پیازو او حیواني زېړو غوړیو کې جوړېږي.

**د پخولو طریقه**

میده شوي پیاز له سوزمې سره گډوي او بیایې پر لرگینو تختو باندې د آغږل شوو اوړو زوالې (پیړۍ) د یوه استوانه یې شکل لرگي په واسطه هواروي. بیا دغه گډ شوی پیاز او سوزمه پـــه هوارو شوو پیړو کې را تاووي او په یوه پلن دیگ کې یې د داغ شوو غوړیو په مـــنځ کـــې د پخېدو لپاره اچوي.
کُتَخي ډېر خوندور خواړه دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## منتو

لازمي مواد: د پسه غوښه او لم، پیاز، ترمیده اوړه، پُلی (وچه خمیره)، زنکي (زیره)، هـــوږه، مُرچ، یوه اندازه غوړي، او لږه مالگه.

### د پخولو طریقه

اوړه اغږي، بیا غوښه، پیاز، د پسه لم او هوږه دغوښې له ماشین څخــه باسي او یـــوه انـــدازه میده شوی مرچ او مالگه ورسره گډوي، بیا اغږل شوي اوړه کلوله کوي او له آش غوڅوونکي ماشین څخه یې باسي چې د نازکو تختو په شکل جوړېږي. بیا دغه اوار شوي اوړه د یوه گـــرد لوښي لکه د چاینک د سرپوښ په واسطه د دایروي ټوټو په شکل غوڅوي او بیا هغه غوښه، لم او له هغې سره نور یوځای شوي مواد چې مخکې تیار شوي دي، د کوچنیو کلولو په شـــکل را اخلي او د دایروی نازکو هوارو شوو اوړو پر منځ کې یې ږدي او په یوه ځانگړې بڼه یـــې راتاو او جوړ وي.

کله چې ټول منتو په دې شکل تیار شو نو د منتو د پخولو ځانگړې دیگ کې اوبه اچوي او د اور د پاسه یې ږدي او منتو د هغې په مخصوصو قالبونو کې چې مشبک او سوري سوري دي، ځای پر ځای کوي. پنځه یا شپږ قالبونه چې هر یو یې د منتو د څلویښتو څخه تر پنځوسو دانو پورې د ځایېدلو ظرفیت لري، ډکوي او په دیگ کې یې ږدي او سرپې ترې.

هغه اور چې د دیگ د لاندې بلېږي، د دیگ اوبه په تدریج سره په بخـــار بـــدلوي. د اوبـــو بخارات د هغو قالبونو په تشوځایونوکې چې سر پر سر کېښودل شوی دي راتاوېږی، نو منتو په همدې بخاراتو کې لږ ترلږه په یوه ساعت کې پخېږي.

**په ټولگي کې فعالیت**

- د امکان په صورت او د لېسې د مدیر په اجازه دې زده کوونکي د آشپزۍ لوازم ا و د یـــو ډول خواړو د پخولو لپاره ضروري مواد ښوونځي ته راوړي او په یوه مناسب ځای کې دې هغه پاخه کړي.

**پوښتنې**

- خواړه د انسان په ژوند کې څه رول لري؟
- د انسانانو لپاره ډېر ښه خواړه کوم خواړه دي؟

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې د خپلې تیرې شپې د خوړو په هکله چې څرنگه برابر شوي وو؟ معلومات په خپلو کتابچو کې ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دريم څپرکي لنډيز

ميلمه پالنه زموږ د خلکو د لرغونو دودونو څخه ده. پخوا زموږ د هيواد په ډېرو سيموکې خلکو د جوماتونو په څنګ کې قومي ميلمستونونه درلودل چې د هيواد په شمالي سيموکې ورته قوش خانه او په جنوبي او لويديځو سيمو کې يې ورته حجره ويله. خلك په کليو کې د ښارونو په پرتله ډېر ميلمانه لري. څرنګه چې په کليو کې د ډوډۍ خوړلو او د شپې تېرولو لپاره رستورانتونه او هوټلونه نه وي نو مسافر ميلمه مجبور وي چې د دوستانو کورونو ته ولاړشي.

زموږ د ګران هيواد د کابل په ښار او ځينو نورو لويو ښارونو کې په رسمي اواجتماعي ميلمستياوو او ودونو کې خلك په هوټلونو کې په قاشقه او پنجه د ميز په سر ډوډۍ خوري خو د ولايتونو په ډېرو سيمو، کليو او ښارونو کې ډېر خلك پر فرش شوي ځای پرځمکه کښېني او ډوډۍ په لاسونو خوري.

زموږ خلك په کليوکې سهار ډوډۍ لږه او د شپې ډېره خوري، د ډوډۍ د خوړلو په وخت کې د کور ټول غړي د کور پر فرش باندې د دسترخوان څخه چا پېره کښېني او او په معمولي توګه يو يا درې تنه په يوه کاسه سره کښېني.

د ډوډۍ خوړل په ((بسم الله الرحمن الرحيم)) سره پيل کېږي او خواړه په کرار او پرته له خبرو خوري، د خوړلو په پای کې کاسې پاکوي، د کور مشر دالله تعالی د نعمتونو د شکرانې په خاطر چې دوی ته يې ورکړي دي دعا کوي او نورغړي آمين وايي.

خواړه د انسانانو د ژوند د دوام بنيادي وسيله ده زموږ خلك خواړه په ساده ډول خوري. ډول ډول او ډېر مواد سره نه ګډوي. غوښه په مختلفو ډولونو پخوي او خوري يې لکه: د کباب ډولونه، کوفته، منتو، ښوروا، چاينکي او داسې نور.

ډېره ښه غوښه د کبانواو مرغيو غوښه ده.

خلك د شيدو، د سابو د ډولونو، وريجو، دانو، اوړو او د غوښو څخه ډول ډول خوندور خواړه پخوي,لکه: سمبوسه، منتو، آش، کتخي، ګنزاخي، دپلو ډولونه، کچري قروت او داسې نور.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## سیمه ییزې جامې


### د دې څپرکي موخې

په دې څپرکي کې زده کوونکي د خلکو د سنتي او سیمه ییزو جامو، پښویا پـایزارونو او د خولیو د بېلابېلو ډولونو سره بلدېږی او زده کوونکي به د دې لوست پـه ویلـو سـره د هغو ګڼو لباسونو سره چې د خلکو په منځ کې دود دي لکه څـادر، چـپن، پټو، کمـیس او پرتوګ، د ښځو او نارینه وو واسکټونه، د ښځو څادریو او ځړوکو سره آشنایي پیدا کـړي. په دې لړکې به زده کوونکي د ماشومانو، تنکیو ځوانـانو، او د سـړیو د څـانګړو مراسـمو جامې او هغه جامې او خولۍ چې نړیوال نوم لري وپېژني.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## سنتي او سيمه ييزې جامې



- تاسې ګران زده کوونکي په ملي- مذهبی ورځو، جشنونو او مېلو کې کوم ډول جامې اغوندئ؟
زموږ خلکو له پخوا څخه د ورېو، پومبې (خامتا) او له ورېښمو څخه دجوړوشووجامو او د څارويو د څرمنې له څپليو سره بلد او روږدي شوي وو چې ټولو به دا لباسونه او کالي خپله جوړول. وړی، پومبه او ورېښم به ښځو او نجونو ورېشل بيا به يې کسبګرو او د تنستو دستګاوو ته ورېشلي تارونه وروړل.
کسبګرو به په تنستوکې تارونه پېيل او له هغې څخه به يې ډول ډول ټوکران لکه: خامتا، اَلَچه، چکمن (پشمي چپن) او داسی نور اوبدل چې ځينې به يې اغوستل او ځينې به يې د پردو، فرشونو او دکور په نورو سامان آلاتو کې کارول.
هغه سنتي جامې چې زموږ په هېواد کې تراوسه پورې دود لري، په لاندې ډول دي:



(c) ketabton.com: The Digital Library

چپن، جبلک، چکمن، قاقمه، گوپیچه، کمیس اوپرتوگ، واسکټ، پوستین، پوستینچه، څادري، څادر، لونګۍ، پټو، پکول، ورینه څونډۍ داره خولۍ، قره قلي، ګلدوزي شوي خولۍ، د مشکېو خولۍ، او داسې نور چې په لاندې ډول جلا جلا تشریح کېږي.

## الف - چپن



چپن په اصل کې زموږ د هېواد د شمال او شمال ختیځو ولایتونو دخلکو جامه ده. چپن لستوڼي، ښکلی یخن، مخ، استر او فراویز لري. د مخ او استر منځ یې له پومبې څخه ډکوي چې بدن تود وساتي. د اوږې له سرنه تر لمنې پورې لستوڼي په موازي ډول بخیه کوي چې پومبه یې بې-ځایه نه شي. د چپن د یخن په برخه کې ښکلي فراویز چې له وریښمو څخه د نوار په ډول اوبدل کېږي، ګنډي چې چپن ته ښکلا ورکوي. د چپن د مخ او استر ټول رختونه د پومبې له تارونو څخه دي او ځینې له وریښمینو تارونو هم جوړ وي.

## ب - جېلک: (Jelak)



جېلکې بې پختې سپکه چپنه ده او د ګرمۍ د موسم ښکلی او سپک لباس دی. خلک جیلکه پر اوږو باندې اچوي او لستوڼي یې کم تر اغوندي. جېلکه د تار، سنډو او ځینې وختونه یې له وریښمو څخه هم جوړوي.

وریښمینه چپن او جېلکه د نقش او رنګ په لحاظ د اَلَچې، قناویز، غراوي او د شاهي چپنو په نومونو سره یادېږي.

## ج - چَکمن

چکمن هم د چپنې په ډول ده، خو د چکمن تان (رخت) د یو ډول پسه له پستو وړیو څخه چې د "ګدِیک" (Gadik)په نوم یادېږي، همدارنګه د غژګاو له ډېرو نرمو وېښتانو څخه هم اوبدل کېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د چکمن ډېر ښه تان(بَرَک) د بدخشان په غاران، په میدان وردگ، هزاره جاتو اود غزني پــه مالستان کې ډېر جوړېږي.

### د – قاقمه

قاقمه هم د چکمن په ډول له وړيو څخه جوړېږي؛ مگر د دې تار نری وربشل کېږي. رخت يې نازک دی او پت نه لري او د جېلکې په څېر سپکه ده.
د بدخشان په شغنان، هزاره جاتو او د هېواد په ډېرو سيموکې له نرمو وړيو څخه جاکټونــه د غاړی دسمالونه، دستکشې، جرابې او ښکلې خولۍ اوبدل کېږي چې ډېر شهرت لري.

### هـــ - گوپيچه



دا چپن لنډه لمن لري چې د مخ او استرمنځ يې له پُنبې څخه ډکوي.
له پنبې څخه ډکه شــوې گوپيچــه زيــاتره چــاپ انــدازان پــه وزلوبه(بزکشۍ) کې اغوندي. بې مالوچو او نازکه گوپيچې هم شته.

### و- پټو



پټو يا قديفه (څادر) يوه داسې جامه ده چې لستوني، غــاړه او پاينڅې نه لري. څه باندې دوو مترو په اندازه اوږدوالی او سور يې يو يا يونيم متر وي. له وړينو، تارونو او ســنډې ټوکرانــو څخه جوړېږي.
پټو په پخوانيو وختونو کې زموږ د هېواد په جنوبي او شـــرقي تودو سيمو کې خلکو اغوسته؛ مگر نــن ورځ دا پــه ټــول افغانستان کې مروج شــوی دي. پټــو د ســنډې، نخــې او وريښمينو تارونو په واسطه گلدوزي او ښکلی کوي. په ځانگړې توگه کنــدهاری هنرمنــدې ښځې او نجونه پټو په عالي سبک او طرز سره گنډي.
پټو زيا تره له وړيو څخه جوړېږي.او مشهور ډولونه يې: کابلي، هراتي، کشمېري او اســتالفي پټوگان دي. تاري او کرباسي ډول ته يې کېش وايي چې په کوهدامن، په ځانگړې توگــه پــه استالف کې جوړېږي چې زياتره د ټولنې غريب خلک او سپين ږېری ترينه کاراخلي. قديفه چې



(c) ketabton.com: The Digital Library

په کندهار کې ورته دوپټه، په ننگرهار کې څادر او په پکتيکا کې ورته تاځر وايي، پــه ځينــو وختونو کې د هغې حاشيې د وريښمو د تار په واسطه گلدوزي او ښکلې کوي.

## ز- واسکټ

واسکټ بې لستوڼي جامه ده چې زموږ د هېواد په ټولو ښارونو او کليو کې د خلکو تر مــنځ د دې اغوستل دود لري.





واسکټونه وړيــن، تــاري، ســـنډي او د وريـــښمو مختلف ډولونه لري. نسبت گوپيچې او کرتۍ ته سپک دي. د دې ډولي او تَجَمُلي ډولونو ته د چرمه کارۍ او گنډدوزۍ واسکټونه وايي.

د ښکلا لپاره پکې ډېر گلان او ډيزاينونه، مرۍ، کــوچنۍ آيينې او وړې ځلېدونکې ستارې گنډي.

د چرمه کارۍ واسکټونه ماشومان، ځوانان،اوتنکي ځوانان د خوشحاليو په ورځو، نوې کال، مذهبي اخترونو، جشنونو او په ملي ورځو کې اغوندي.

## ح- پوستين

پوستين د پسه،گيدړ، سنجاب، خفک او دسمور له پوستکو څخه چې پاسته او نرم دي جوړوي دا د ژمي تود لباس دی. پوستين د چپن او چکمني په څېر لستوڼي، يخن او اوږده لمن لري. د تَجَمُّل او ښايست پــه مقــصد پوستين په سرو، زېــړو او نارنجي تارونو







(c) ketabton.com: The Digital Library

گلدوزي کوي چې دا ډول پوستين ډېر ښکلي او شاهانه وي. د غزني پوستين له پخوا څخه شهرت لري. د پوستين د خرڅلاو دکانونه اوس په کابل او د هېواد په نورو ښارونو کې ډېر دي.
نړيوال سيلانيان پوستين په ډېر اوچت قيمت اخلي.

## ط: پوستينچه

پوستينچه هم د پوستين په شان ګنډل کېږي، مګر د دې لمن د پوستين له لمنې څخه لږه لنډه ده.




## ی- افغاني ګنډ

افغاني ګنډ هم سنتي جامه ده. ښکلې ګلدوزي لري چې ښځې او نجونې يې د نوي کال په ، جشنونو او نورو ملّي او دخوشحاليو په ورځوکې اغوندي.
په دولتي ادارو، ښوونځيو، مدرسو او پوهنتونونو کې کارمندان، زده کوونکي، او مُحَصّلان په عمومي توګه د زينتي جامو پرځای ساده جامې او دريشي اغوندي، که څه هم دريـــشي زمـــوږ دوديزې او ملّي جامې نه دي، خوبين المللي يونيفورم دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي او هره ډله دې د سنتي او وطني جامو څرنګوالی او دګنډلو ډولونه په خپلو کتابچوکې ولیکي او د هرې ډلې استازی دې هغه د ټولګي په مخ کې ووایي.

### پوښتنې

- کوم ډول جامو ته سنتي جامې وايي؟
- د واسکټونو بېلا بېل ډولونه ولیکئ.؟
- توریستان کوم ډول پوستین او پوستینچه خوښوي؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د سنتي جامو په هکله د خپلې کورنۍ له غړو او نـورو مـشرانو څخـه معلومات را غونډ کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خولۍ او څادر ډولونه


- تاسې څو ډوله خولۍ پېژنئ؟






## الف- پکول

پکول په دوه ډوله دی. یو هغه پکول دی چې د څارویو له پوستکي څخه جوړېږي چې د یخنۍ، واورو او باران په موسم کې سر تود او همدارنګه یې له بهرني احتمالي لیکرونو او د لمر له تاوڅخه خوندي ساتي. دې پکولونو ته تیلپک هم وایي. بل ډول هغه پکول دی چې له وړین ټوکرڅخه جوړېږي. ګرد







او موړې لرونکی دی. په اغوستلوکې د آسانۍ په سبب مجاهدینو د جهاد په دوران کې له پکول څخه ډېره استفاده کوله. د پکول جوړولو مشهور او اصلي مرکزونه د نورستان او چترال سیمې دي.

د بدخشان په شغنان کې ښځې د ګدیک له وړیو څخه نفیس پکولونه اوبي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب- د قره قلي خولۍ

دغه خولۍ د قره قل د ورې له پوستکي څخه جوړېږي. د قره قلي خولۍ زياتره د ډول او سينګار په مقصد استعمالېږي. دغه پوستکي ګلدار او ډول ډول رنګونه لري لکه: کبودچه، شتري، تور، سور،سپين، برګ او داسي نور.



د پوستکي ګلان د هغه د وړيو منظمه چين خوردګي (کوړۍ شوې وړۍ) کتارونه دي چې د هغې د ښکلا سبب ګرځي.

تجربه لرونکي د پسونو خاوندان او شپانه پوهېږي چې کوم رنګ قُچ (نر پسه) له کوم رنګ مېږې سره جوړه کړي چې دهغوی ديوځای کېدلو په پای کې داسې ورى چې پوستکى يې ښکلى او د پوره زړه پورې رنګ لرونکي وي وزېږي.

همدارنګه په ځينو وختونوکې پوهېږي چې د ورې د پوستکي ګلان د هغې له زېږېدوڅخه وروسته خلاصيږي او هغه ښکلا چې د مور په خېټه کې يې لري، له منځه ځي؛ په دې سبب د مېږې سر، د بچې له پيدايښت څخه مخکې پرې کوي او بچې يې له خېټې څخه را باسي. دا ډول پوستکى د (تِقر) په نوم يادوي، چې ډېر قيمتي وي.

ځيني خلک وايي چې د پوستکي په خاطر د ورې د سر پرې کول بې رحمي ده.

## ج- کندهارۍ، اوزبيکۍ او هزاره ګۍ خولۍ

دا ډول خولۍ د (تاقين) په نوم هم يادوي چې له نخي ټوکر څخه جوړېږي. بيايې د وربښمو او سنډي رنګينو تارونو په واسطه ګلدوزي کوي.

په اندراب، چاه آب او تخارکې د خولۍ ګلونه يو له بل سره نږدې نږدې اوکوچني کوچني ګنډې چې دې ته (چکن دوزي تاقين) هم وايي. کندهارۍ خولۍ هم ډېرې ښکلې او نفيسې خولۍ دي. په دې کې مُهرۍ (مشکنې) ستارې او وړې وړې ځلانده ښيښې کاروي چې ځانګړې ښکلا او ځلا ورکوي. دا ډول خولۍ د فراه او نيمروز په ولايتونو کې هم ګنډل کېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library








هغه خولۍ چې په بامیان، غزني، ارزګان، سمنګان او درهٔ صـوف کـې ګنډل کېږي، د ګلدوزۍ له مخې د فارياب، جوزجان، شبرغان او مزار خلکو له خوليو سره ورته والي لري.

هغه زربافت دوزي خولۍ چې د زري تار څخه ګنډل کېږي دوردګو پـه ولايت کې دود لري چې د زرتاري خوليو په نوم يادېږي.



## د – لونګۍ

لونګۍ ته دستار، پټکی، پګړۍ، سله، لنګوټه او عمّامه هم وايي.

لونګۍ د نارينه وو د سر لپاره ده چې له ځانګړې خولۍ سره يې پـر سر تړي. زموږ د هېواد په ټولو ولايتونو کې د دې په سرکول رواج لري. د پکتيا، پکتيکا، خوست، قندهار، مزار شريف، ميدان وردګ، د غزني مقر، کټواز او نورو ډېرو ولايتونوکې خلـک لـوی او ډول ډول دستارونه په سر تړي او د هرې سيمې د خلکو دستارونه يوله بل څخه يو څه توپير لري.

پخوا به د ستار د سان يا ململ د سپين ټوکر څخه جوړېده، خو اوس د لونګۍ په نوم يـو ډول ټوکر اوبدل کېږي چې د (۴- ۵) متره اوږدوالی او د (۵۰ – ۶۰) سانتي متره پلنوالی لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د لونګۍ ټوکر، ورین، تارین، سنډین،وربښمین او یا د دې ټولو څخه ګډ وي. زموږ د هېواد دینـــي عالمان او روحانیون سپین یا تور دستار تړي او نور خلک د خپل ذوق او خوښې سره سم رنګونـــه غوره کوي.

لونګۍ زموږ د خلکو لرغونی لباس دی خو ځوانان، د مکتبونو زده کوونکي، محصّلان او د دولـــت کارمندان یې، په ښوونځیو، پوهنتونونو او په رسمي مؤسساتو او ادارو کې لږ په سر کوي.

### هــ - څادري



څادري د ښځو د ستر او حجاب جامه ده چې پخوا بــه د اشـــرافو کورنیو ښځو په ښارونو کې اغوستله. په کلیو کې یې رواج کم و. اوس یې په کلیو، ښارونو او هرځای کې ښځې او پیغلې اغونـــدي. ښځې او نجونې یې په رسمي دولتـــي ادارو، مدارســـو او د عـــالي تحصیلاتو په مؤسساتو کې ډېرې نه استعمالوي؛ بلکې پرځای یـــې څادر ټیکری (پوړنی) په سر کوي او داسلامي حجاب رعایت هـــم پکې په ښه توګه کیدای شي.

څادري د بهرنیو نفیسو او قیمتي ټوکرانو څخه په آبي، لاجوردي، ماشي، فـــولادي، ســـپینو او داسې نورو رنګونو کې جوړیږي چې ښځه له سر څخه تر پښو پورې پوښي (پټوي). څادري د سر په برخه کې ځانګړې ، بخیې او ګلدوزي شوې خولۍ لري. د څادري هغه برخـــه چـــې د سترګو د پاسه رالوېږي، جالۍداره وي چې له هغې څخه لاره یا نور شیان ولیدلی شي.

### و- څادر، ټیکری (ځړوکی)


ټیکری د ښځو او نجونو د سر او بدن پټوونکی دی چې په زیاتو آسیایي او اسلامي هېوادونـــو کې یې ښځې او نجونه په کور، بهر، مدارسو، د لوړو زده‌کـــړو پـــه تحـــصیلي مؤســـساتو، پوهنتونونو او د کار په ساحو کې اغوندي.

ځړوکي د رنګ، د ټوکر د څرنګوالي او اندازې له مخې، بېلا بېل ډولونه لري. د ځړوکي یـــا ټیکري تَجَمّلي ډول چې د هغه ټوکر هم زیات او لوي وي، ګلدوزي کېږي چـــې ښـــځې او نجونې یې په ودونو، جشنونو، مېلو او داسې نورو د خوشحالیو په ورځو کې په سر کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





ټيکري د ساده ململ، ښکلي وربښمين؛ همدارنګه د سپين، تور او رنګه ګاچونو په ډول هـــم جوړيږي.

**د لوست نوي اصطلاحات**

| | |
|---|---|
| ستر | پرده، حجاب |
| روحانيون | مذهبی لارښوونکي |
| معروف | مشهور - معلوم |
| نوار | فيته |

### په ټولګي کې فعاليت

- زده کوونکي دې د ښوونکي په لارښوونه په ډله ييزه توګه د خپلې سيمې او ولايت د جامو د ښکلا او ډولونو په هکله معلومات وليکي او نوروته دې ولولي.

### پوښتنې

- قره قلی خولی، پکول، ټوپۍ، کندهارۍ خولۍ، زري خولۍ، اوزبيکي خولۍ، هـــزاره ګـــي خولۍ، څائي او ننګرهارۍ خولۍ کوم ډول خولۍ دي.

- ستاسی په نظر که چېرته د څادرۍ په شکل او د ګنډلو په طريقه کې بدلون راوړل شي ښه به وی او که نه؟ په دې کې خپل نظرونه څرګند کړئ.

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د خپل کور اوخپلوانو، څخه د سنتي کاليو لست برابر کړي او ټولګي ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څپلۍ او پایزارونه

لکه څنګه چې وايي: «ستاسې پښې ستاسې دويم زړه دی» څه مفهوم لري؟

## چمبوس (وتارې)

زموږ د ګران هېواد خلک له پخوا څخه د څرمنې پای افزارونو په پښو کولو سره روږدي وو چې د هغې له جملې څخه يو ډول، چمبوس دی. چمبوس اوږد پوست ساق او ډبل تلې لري چې د جرابو اوپايتاوو سره په پښو کېږي.

په دې توګه پښې له يخنۍ، ګرمۍ او همدارنګه د تېرو، لرګيو، اغزيو او د ضررې شيانو له ټکرونو او ليکرونو څخه خوندي ساتي. هغه بزګران چې له سهار څخه تر ماښامه پورې کار کوي، شپانه چې په غرونو او دښتو کې تل د خپلو وزو او ميږو د رمو پسې روان وي؛ وتارې د هغوی ډېر ښه پای افزار دي.



## مُوکِې

موکی هم د غوايي، وزو او د ګډو (مېږو) له څرمنې څخه ګنډل کېږي. د دې ساقونه د چمبوس څخه لږ لنډ وي او بندونه نه لري او کله کله يې د ښکلا او سينګار لپاره په ساقونو کې ګلان او ځونډې ګنډل کېږي.

## څپلۍ

څپلۍ زموږ د هېواد د تودو سيمو د خلکو پاپوشونه دي. د دې تلې له ډبلې څرمنې او ربړ څخه جوړېږي، پاسنۍ برخه يې له نازکې(نرمې) څرمنې څخه او د تلې په دوارو خواوو پورې داسې ګنډل کېږي چې هم د ګوتو او هم د پښې د پوندې خواوې خلاصې وي چې پښې د ګرمۍ او خولو احساس ونه کړي.



په دوو تسمو او يوه سګک (غربی) باندې د پښې بل اړخ ته تړل کېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د پکتیا او خوست په ولایتونو کې چې د مزرو څخه د ټوکرۍ او نور سامان اوبدلو صنعت مروج دی، له همدې موادو څخه د مزرو څپلۍ هم جوړوي چې بی وزله خلک یې ډیر کاروي،خو ډېر دوام نه کوي.

## موزه

د موزو پښو کول زموږ په هېواد کې له پخوا زمانو څخه رواج و.
موزې زیاتره د غرڅه او نورو څارویو له څرمنو څخه جوړوي. دا ډول موزې ډېرې نرمې او دوام داره وي او چاپ اندازان یې په پښو کوي.
هغه موزې چې د مصنوعي څرمنې څخه جوړېږي، د هغو ځینې ډولونه دننه منځ کې پَت لري چې پت لرونکی ډول یې ښځې ډېر خوښوي.

## مسحې

مسحې تقریباً د موزو په شکل دي، اوږده ساقونه لري؛ مګر د موزې په شان کرى نه لري.
مسحې د جرابو، پایتاوو او له کَلَوشو سره په پښو کېږي. د هېواد په شمالي برخو، کابل او په زیاترو لویو ښارونو کې یې له پخوا څخه عالمان، روحانیون او شتمن خلک د ژمي په موسم کې په پښو کوي.

## جرموق

جرموق د مسحې یو ډول دی چې لنډ ساقونه لري او د نارینه وو د ژمي پای افزاردي.
دجورابو، نفیسو پایتاوو او د کلوشو سره په پښو کېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پڼې (پیزار)

پڼې له عادي څرمنو څخه جوړېږي. د مخې پاسنۍ برخه کې د تسمې نرۍ څوکه د چـــرګ د قرقرې په ډول پورته راکږه شوي وي او د پوندې په برخه کې يې هم يوه اوچته تسمه د نيولو





او پښو کولو لپاره ګنډلې وي. د پڼو تجملي او ښکلي ډولونه هم شته چې د هغې څرمن ښکلي ګلدوزي کوي. د نارينه وو پڼې په معمولي توګه ساده او کلکې وي او ښځينه پڼـــې ښـــکلې، نازکې او ګلداره وي. هغه پڼې چې په ځلېدونکی سنډې او زري تار سره ګلدوزي شوي وي، هغې ته زري پڼې وايي.

## کړاوې

دا لرغونی پای‌افزار ترکاڼ له لرګي څخه تراشي چې په هغې کې د پښو کولو د آسانۍ لپاره يوه تسمه کلکوي. کړاوې د اوداسه لپاره ښه پای افزار دی او اوس يې په حمامونو کـــې ډېـــرې کاروي.

## لرګين بوټان

د بدخشان په درواز ولسوالۍ کې د غوزانو او دتوت د ونو له کُندې څخه د بوټـــانو غونـــدې پای‌افزارونه جوړوي چې له جورابو او چمبوسو سره يې په پښو کوي. دا بوټان ډېر کلـــک او پښې خوږوي، خو اوس نه استعمالېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## بوټان

څرنګه چې زموږ په هېواد کې له پخوا وختونو څخه څرمن ډېره پيدا کېدله، نو په همدې لحاظ پــه ډېــرو سيمو کې د بوټانو ګنډل له پخوا څخه دود درلود. په ښارونو کې بېلا بېلې رستې وې چې د نارينــه وو، ښځو او ماشومانو له پاره يې بوټان ګنډل.

د کابل په ښار کې د بوټ ګنډلو مشهوره راسته په "خيابان" کې واقع وه.

همدارنګه د (بوټ آهو) کارخانه هم د کابل په ښارکې ډېره مشهوره وه.

### په ټولګي کې فعاليت

- زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې له بهر څخه د راوړل شوو پــای افزارونو صحي او اقتصادي زيانونه او دويمه ډله دې د وطني پای افزارونو صحي او اقتصادي ګټې وليکي او په ټولګي کې دې ووايي.

### پوښتنې

- ستاسې په نظر که له وطني څرمني څخه بوټونه جوړشي، ښه به وي او که له بهرنيو؟
- که د وطني پای افزارونوجوړولو ته پاملرنه وشي او د هغې کيفيت ته د خلکو د خوښــې او ذوق سره سم بدلون ورکړ شي؛خومره ګټه به ولري؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې هغه پای افزارونه چې په کليو، ښارونو او ولايتونو کې يــې خلــک پــه پښو کوي، د هغوی لستونه برابر کړي او له ځانه سره دې ټولګي ته را وړي او ودې وايي چې له هغوی څخه کوم يو وطني پای افزارونه دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څلورم څپرکي لنډيز

زموږ خلکو د پخوا څخه د وړينو، نخي، وريښمو، د پوستکو د جامو او د څرمنې پاى افزارونو سره عادت درلوده او دغه ټولې جامي يې پخپله جوړولې.

وړى، پنبه او وريښم به ښځو او نجونو وريشل او بيا به خلکو په لاسي کار ګاوو کې او بدل هغه جامې چې تر اوسه زموږ په ګران هيواد کې کارول کېږي لکه چپن، جېلک، چکمن، قاقمه، ګوپيچه، کميس او پرتوګ، واسکټ، پوستين، څادري، څادر، پټکی او لونګۍ، پټو، پکول، خولۍ، قره قلي، ګلدوزي شوې خولۍ، د زري تار لرونکی خولۍ او داسې نور.

**چپن:** د هيواد د شمال او شمال ختيځو سيمو د خلکو جامه ده، داسې جامه ده چې لستوڼي، ښکلی يخن، مخ او استر لري او د مخ او استرمنځ يې ورته د مالوچو څخه ډکوي؛ تر څو چې بدن تود وساتي.

**جېلک:** بې پختې سپکه چپنه او د اوړي د ګرم موسم د تجمل جامه ده.

چکمن هم د چپن په ډول ده. مګر د چکمن ټوکر د يو ډول ميږو د پستو وړيو **څخه** چې د ((ګديک)) په نوم يادېږي او د غژګاو له وېښتانو څخه چې ډېر پاسته دي اوبدل کېږي.

**پټو**يا څادر داسې جامه ده چې لستوڼي، يخن، او پايڅې نه لري، دوه متره اوږدوالی، يو يا يونيم متر سور لري، له وړين تاري يا سنډي ټوکر څخه په ډېره ښکلې بڼه جوړيږي.

واسکټ بې لستوڼي نيم تنه يې جامه ده چې زموږ د هيواد په ټولو ښارونو او کليوکې دود دی.

پوستين د پسونو، د ګيدړ، سنجاب، خفک او د سمور پوستکي څخه جوړوي چې د ژمي توده جامه ده د چپن په ډول اوږده لستوڼي ښکلې غاړه او لمن لري.

افغاني ګند هم يوه دوديزه او د ښکلي ګل ګنډ شوې جامه ده چې نجونې او ښځې يې په خوشحالۍ او ملّي ورځوکې اغوندي.

**لنګی:** د نارينه وو د سر سرپوښ دی چې د ځانګړې خولۍ سره يې په سر تړي، په ټولو ولايتونو کې د دې په سرول دود لري.

څادري د ښځو د ستر او حجاب جامه ده چې پخوا به په ښارونو کې د اشرافو کورنيو ښځو اغوستلې، اوس هم په ښارونو او کليو کې دود لري.

څپلۍ، چمبوس، موکي، چپلې او د پاى افزارونو نور ډولونه په هيواد کې دود دي چې خلک يې له څرمنې، پوستکي، او نباتاتو څخه جوړوي او د اقليمي شرايطو سره سم يې په پښو کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## تفریحي او سیمه ییزې لوبې

### د دې څپرکي موخې

زده کوونکي د سیمه ییزو لوبو په دودیزو ارزښتونولکه سانګه وهل، وزلوبه، د څوانانو او ماشومانو د لوبو په بېلابېلو ډولونو چې زموږ دهیواد په هرګوټ کې دود دي پوهېږي.
زده کوونکي باید د ماشومانو او ځوانانو د بېلابېلو سیمه ییزو لوبو ډولونه وپېژني.
آس چې ښکلی او د غښتلي بدن څاروی دی، زده کوونکي دې لـه هغې څخه د ګټې اخیستلو طریقه زده کړي, او په دې باندې دې وپوهېږي چې آس ته د سورلی او د پیټې دلېږدولو سربېره، د بهرنیو سیلانیانو پاملرنه را واړوي.
زده کوونکي دې دا زده کړي چې په کوم ډول کولی شي چې سانګه وهلو او وزلوبې ته دیوې افغاني ملي لوبې په توګه نړیواله بڼه ورکړي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

## شلم لوست

# سانګه وهل

سانګه وهل (نیزه بازی) کوم ډول لوبه ده؟



سانګه وهل ډېره پخوانۍ او په زړه پورې لوبه ده چې زموږ د ګران هېواد په سویلي سیمو؛ لکه: غزنی، پکتیا، لوګر او پکتیکا کې ډېره کېږي.
سانګه وهل د دې خلکو دودیزه لوبه ده.
کوم آسونه چې د سانګې وهلو لوبې ته روزل کیږي، دوزیرستان له سیمې څخه یې راولي، چې هغو ته وزیري آسونه وایي.
دا آسونه اوچته غاړه، تېز او نازکه غوږونه، متناسب اندام، مشکي، کرنګ، کمید، سُرخون، اَبرَش، سمند، قره کهراو داسې نور رنګونه لري. نیزه بازان هغه سمند آسونه چې تور څنګونه او دهغه له پاسه سپین رنګ او په تندی کې سپین خال ولري، د دې لوبې لپاره خوښوي. هغوی خپل آسونه په ښکلو زینونو او ځلونو، په وریښمینو ځوندیو لرونکو دستمالونو او یالپوښونو سره چې په هغې کې کوچنۍ هنداري لګېدلې وي، سینګاروي.

نیزه تېره نوک (څوکه) لري او د اوسپنې یا له کلکو پولادو څخه جوړېږي چې د دوو یا درې مترو د بانس لرګي په سر کې یې کلکوي. د نیزې د لرګي اوږدوالی زیاتره د نیزه باز په خوښه وي.

نیزه بازي د اخترونو په ورځو، د نوروز په مېلو، ودونو، زوکړو او د خوشحالیو په نورو مراسمو کې ترسره کېږي چې ټول خلک د ننداري او سیل لپاره د نیزه بازۍ ډګر ته په ډېره مینه ورځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سانګې وهلو د لوبې طریقه

له مشرانو څخه یوتن په خپل څادرکې د لرګي نیم متره موږي راوړي او د سیالۍ د ډګر په منځ کې یې د څو قدمونو په واټن په ځمکه کې ټکوهي او بیا هر نیزه باز په خپل آس باندې سپور په ښي لاس کې یې نیزه او په کیڼ لاس کې یې د خپل آس قیزه (واګی) نیولي وي ، په خپل وار سره د لوبې ډګر ته ورځي او د موږي د راپورته کولو په مقصد خپل آس هغه لورې ته په منډه کوي. په دې وخت کې ډولچي چې د موږو په خوا کې تیار ولاړ وي، د سواره او د آس د تَهَیُّج او مستۍ په خاطر د ډول آواز تېزوي او



نندارچیان چې د سواره د منډې په لور دواړو خواو ته په کتارونوکې ولاړ وي، د هغه د بري لپاره لاسونه پړکوي. نیزه وهونکی خپل ځان له نیزې سره د موږي په خوا را ټیټوي او د نیزې څوکه په زور سره په موږي کې ور ننباسي او هغه په ډېر مهارت او تیزۍ سره له ځمکې څخه راباسي.

د نیزه بازانو له ګډون کوونکو څخه هر یو په خپل وار سره دا فعالیت سرته رسوي. هرچا چې ډېر بري لاس ته راوړل دلوبې دویم پړاو ته لاره پیدا کوي.

## د نیزه بازۍ دویم پړاو

یوځل بیا یو څو داني موږي په ځمکه کې ټکوهي او باید چې اتل نیزه باز دا ټول موږي د آس په یوه منډه یو په بل پسې د نیزې په واسطه له ځمکې څخه راوباسي او اوچت یې کړي. کله چې په دې کار هم بریالی شو، بیا یو دسمال د تنکۍ لښتې په سرکې بندوي یا د نصوارو قطۍ چې کوچنۍ آیینه لري، اتل نیزه باز ته یې نیسي چې دا شیان هم د آس د ځغاستې په حالت کې د خپلې نیزې په څوکې را اوچت کړي او دا ټول حرکتونه باید په زیات سرعت سره سرته ورسېږي.



دا عمل څو واره تکرارېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیالۍ سرته رسېدل غالباً دوه یا درې ساعته نیسي او بیا پای ته رسېږي. د سیالۍ د پایلې خوشحالي د ټوپکو په ډزو او ملي اتڼونو سره بدرګه کېږي. د مسابقې د اتل او ټولو نیزه بازانو لپاره بېل بېل انعامونه لکه: نغدې روپۍ، پسه، نوې جامې، لونګۍ، چپنه او داسې نور شیان ورکول کېږي. البته د لوبې د اتل انعام له نورو نیزه بازانو څخه زیات وي. همدا شان پسه حلالوي او نیزه بازانو ته مېلمستیا ورکوي. ډولچي خپل انعام نغدې پیسې اخلي.



### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې د نیزه بازۍ د آس ځانګړتیاوې ولیکي او په ټولګي کې دې ولولي.

### پوښتنې

- د نیزه بازۍ په لوبه کې څو سپاره برخه اخلي؟
- نیزه بازي زموږ د هېواد په کوم زون کې ترسره کېږي؟
- د نیزه بازۍ د اجرا کولو طریقه تشریح کړئ؟
- کېدای شي چې د نیزه بازۍ لوبه ملي او بین المللي شي؟ خپل نظرونه څرګند کړئ.

### کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې په خپل کلي، ښار او سیمه کې د نیزه بازۍ په هکله معلومات راټول او په راتلونکي درسي ساعت کې دې څوتنه خپلو ټولګیوالو ته ولولي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو ويشتم لوست

## آس

- آس څه ډول ځاروی دی؟



آس زورور، مقاوم او قوي هيکله ځاروی دی چې په يقيني توګه په پخوانيو وختونو کې وحشي و، بيا انسانانو وروسته اهلي کړ. له آسونو څخه پـه بـار وړلو، سورلۍ او ان په جګړو کې کار اخيستل کېږي.




په پخوا زمانو کې هم لکه د نن په شان د جګړو ډګرونو ته د وسلو او جنګي سامانونو دلېږدولـو اود دې خـدمتونو د سرته رسولو لپاره له آس څخه کار اخيستل کېده.

آس د هغه د بدني جوړښت او کاراخيستلو له نظره په درې ډوله دی:

الف- د وزلوبې آس. ب- پيګه آس، ج- يابو.

### الف- د وزلوبې آس



د آسونو د روزونکو د تجربې له مخې سربيره د آسونو له جنـسيت څخه د ځينوځانګړيو رنګونو لرونکي آسونه په طبيعي توګه د نـورو رنګونو پر آسونو باندې ښېګڼې لري، لکه:جېرن (Jeran) آس.



(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې سره سره د وزلوبې ښه آس هغه آس دی چې اوچته ونه او اوږدې پښې ولري او د څلوروارو پښو په منځ کې ساحه يې پراخه، سر، غاړه، دواړه اوږې او د بدن مخکينۍ برخه يې



د وروستنۍ برخې په نسبت اوچته، با حجمه او په اصطلاح (شېرپيش) ډوله وي. د آس غاړه راوتلې (اوږده) ملا نسبتاً لنډه، خنگرې (سمان) يې د يابو آسونو د خنگرو په نسبت ظريف، د څټ (يال) او د لکۍ ويښتان(لومې) يې لږ کمې او تنک ترې په اصطلاح کې (تُنک يال، تُنک سم او تُنک دم) وي.

که چېرته (سپين تندی او څلور سپين سمان) ولري، ډېر ښه آس گڼل کيږي. په ځانگړې توگه که دغه نښې په جيرن آس کې وي، د وزلوبې لپاره ډېر غوره او مناسب آس دي.

ځرنگه چې آس يو ښکلی ځاروی دی، نو له دې امله پاچاهانو او امپراطورانو د خپل شان او شوکت د ښودلو لپاره ښکلي او نامتوآسونه د طلايي يراقونو (گاڼو) سره ساتل، په جشنونو، ملي او مذهبي اخترونو او په نظامي نمايشونو کې به يې استعمالول.

زموږ د گران هېواد په شمالي ولايتونو کې خلکو له پخوا څخه آسونه اهلي کړي او له هغې څخه يې په بار وړلو، سورلۍ او د وزلوبې لپاره گټه اخيستې ده.

د وزلوبې لرغونی لوبه د دې ولايتونو په خلکو کې تل دود وه. د لويو، قوی هيکلو او ماهرو چاپ اندازانو نومونه لکه: تاش پهلوان، برکَش پهلوان، حفيظ پهلوان، پهلوان خدايي او داسې



نور په سلگونو مشهور نومونه اوس هم د شمال د خلکو په ذهنونو کې شتون لري.

## ب- پَيگه آس

پيگه آس نسبتاً کوچنی او گرِندی وي. سپور د سيالۍ په وخت کې د خپل آس په لوڅه او بربنډه شا(پرته له زين او ځل) سپرېږي. زموږ د هېواد



(c) ketabton.com: The Digital Library

په شمالي سيموکې خلک د نوي کال په دودیزه مېله، ودونو او د جشنونو په خوشحاليو کـــې پيګه آس ځغلوي.

## ج- يابو

دا آس د قوی جسم لرونکی دی. د دې سر، ورروستی برخه، پښې، ورنونه او ســـمان ډېـــل او مضبوط دي.
څټ (يال) او لکۍ يې د وېښتانو (لومو) څخه ډک وي. ډېر ځغليدونکی او ګړندی نه دی. يابو د بارووړلو، کراچۍ او د ګاډۍ په کشولو کې کارول کېږي.

## د رنګ له مخې د آس ډولونه

د رنګ له مخې د آس ډولونه په لاندې ډول دي:



جيرن، قِزل، سمند، بوز، سُرخون، تـــورروغ، مُشکي کُمَيد، اَبرَش (ګل بادام)، برَګ(ابلق)، ګل‌ګز، قره‌کهر، کوکلان، او داسې نور.
۱- جيرن: د جيرن آس رنګ سور زېړ ته نژدې دی. دغه رنګ د ســـمند او تـــورروغ ترمنځ دی. هغه جيرن چې په تندي بانـــدې سپين خال ولري، هغې ته "جيرنـــد بورنـــاق "وايي.
د خلکو په ګومان جيرن اصيل آس دی.



۲- قيزيل: قيزيل آس سور رنګ نه لري؛ بلکې يو ډول خاص سپينوالی لري.
۳- سمند: دغه آس زېړ رنګ لري.
۴- بوز: سپين آس ته بوز وايي او چې پـــه سپين رنګ کې د وېښتانو په منځ کې هـــيڅ تور وېښته نه وي، دشِير بوز په نوم يې يادوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- سُرخون: سرخون سپین دی مګر تور وېښتان هم لري. په ځانګړې توګه په غاړه او پښو کې یې د سپینو په نسبت تورو وېښتان ډېر وي.
٦- توروغ: د توروغ رنګ سور دی.
۷- مُشکي: د مشکي آس رنګ ټول تک تور وي.
۸- کُمَید: هغه آس چې د هغې رنګ، نه تور مشکي او، نه سور توروغ بلکې رنګ یې د سور او تور په منځ کې وي.
۹- اَبرَش: هغه آس دی چې په هغې کې ټول رنګونه موجود وي.
۱۰- ابلق: دا آس تور او سپین یا سور او سپین رنګونه لري.
۱۱- ګل ګز: هغه سرخون چې سپین رنګ او خرمايي وېښتان ولري.

**په ټولګي کې فعالیت**

- زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي او هره ډله دې د دریو ډولو آسونو ځانګړتیاوې په خپلو کتابچو کې ولیکي او د هرې ډلې مشر دې، هغه د ټولګي په مخ کې ولولي.

**پوښتنې**

- تاسې څو ډوله آسونه پېژنئ؟
- د وزلوبې آسونه کومې ښېګڼې او ځانګړتیاوې لري؟
- له آس څخه په کومو چارو کې کار اخیستل کېږي؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې د خپلوانو، د کلي او د سیمې له خلکو څخه د آس په هکله معلومات را غونډ کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وزلوبه

- وزلوبه څه ډول لوبه ده؟

## په وزلو به کې اړوند توکي

وزلوبه زموږ د خلکو لرغوني او ملي لوبه ده اود خلکو د اتلوالۍ او شهامت ننبه ده. چې په دې لوبه کې دخيل توکی دا دی: پهلوانان (چاپ اندازان)، د وزلوبې آسونه، د آس سامان آلات. دا عناصر هر يو پر لوبه باندې اغيزه لري چې له جزئياتو سره لوستل کېږي.



**د بزکشۍ د آس يراق (ابزار)**

قيزه، رکاب، زين، قمچين، تَکَل، قوش قون، پشت تنګ، زيرتنګ، تَرقُو، جُرګي، سرزينی،پيش بند، د فتراک تسمه، جَلدُوق، نعل، دواله او داسې نور.

**د چاپ اندازانو جامې**

د ښارويو له پوستکو څخه جوړشوی پکول، له پومبې څخه ډکه شوې ګوپيچه،پطلون، موزې، پايتاوې او کمربند.

**د وزلوبې د آس روزنه**

د وزلوبې آس په ځانګړي ډول روزل کېږي. د آس روزونکي ته (مير آخور) يا (سَيِس -sayis) وايي. سيس د بزکشۍ آس په پسرلي او دوبی کې له وښو څخه په ډکو چمنونو او څرځايونو کې پيايي. د منې په موسم کې يې په کمند (جای بند)کوي، وربشې،وچ واښه او رشقه ورکوي.
هره ورځ آس خرخره کوي او خاورې او ګردونه يې له بدن څخه لرې کوي. هره اوونۍ د آس بدن په اوبو او صابون مينځي او دوه درې مياشتې ورته وربشې، واښه او اوبه يوځايي ورکوې ، آس په دې طريقه روزي او وزلوبې ته يې چمتو کوي.

## د وزلوبې آس ځانګړتياوې

د وزلوبې آس غبنتلی، قوي هيکله، مقاوم او تېزوي. که د آسونو د لويې ډلې (قوره) په منځ کې آس احساس وکړي چې يو انسان يې تر پښو لاندې شوی دی؛ خپلې پښې ور څخه اړوي او پرهغه يې نه ږدي.

کله چې آس وګوري چې سپاره يې خوسی راپورته کړ، نو په تېزۍ سره د آسونو د قورې لـه مينځه ځان باسي.

د هېواد د شمالي سيمو ځوانان او تنکي ځوانان د ځوانۍ له لومړيو ورځو څخه په آس سپرېدل، ځغلول او د وزلوبې مشق او تمرين کوي.

## د وزلوبې موسم

وزلوبه له ډېرو پخوا زمانو راهيسې تر نن ورځې پورې زموږ د هېواد په شمالي سيمو کـې دود ده. دا لوبه د نوي کال په لومړۍ ورځ، ودونو، جشنونو، د ماشومانو په سنتولو، اخترونو او په نورو ملي ورځو کې سرته رسېږي.

د وزلوبې ډګر بايد هوار، بې تيږو او بې خنډونو وي. يو کلن يا دوه کلن خوسی حلالـوي او هغه په لوبه کې کشوي. پخوا به ورغومی يا وزه استعمالېدله؛ ځکه ورته وزلوبه ويل کېږي.

وزلوبه په دوو ډولو سرته رسېږي:



يـو ډول يـې پخـوانۍ (دوديزه) لوبه ده. بل ډول يې هغه ده چې په پخوانۍ لوبـه کې يـو څـه بدلونونه راوړل شوي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## الف- د عنعنوي وزلوبې طریقه

کله چې د آسونو خاوندان، چاپ اندازان او نور خلک خبر شي چې په پلانکې سـیمه کـې وزلوبه کېږي نو ټول په مینې سره د لوبې ډګرته چې مخکې ټاکل شوې ځای وي، ورغونډېږي. په معمولي توګه له پنځوسو او سلو سپرو څخه زیات په یوه لوبه کې ګډون کوي او په زرګونو خلک یې ننداري ته راځي. یو یا دوه کلن خوسی حلالوي. ګېډه یــې تــشوي او د ډګــر د برداشت (جګولو) په دایره کې یې پر ځمکه غورځوي. په دې لوبه کې چاپ اندازان په یوه ډله کې لوبه کوي. دې ډول وزلوبې ته (توده برآ) وایي. یعنې هر پهلوان چې خوسی د آســونوله (تودې) څخه بیرون کړي، هغه د لوبې ګټونکی شمېرل کېږي.

### د لوبې پیل

کله چې خوسی لومړی ځل په دایره کې وغورځول شي؛ نوچاپ اندازان بې له ځنډه پر خوسي حمله کوي او هر چاپ انداز هڅه کوي چې ځان خوسي ته ورسوي، ټیټ شي او هغــه لــه ځمکې څخه راپورته کړي.

یو بل په ځنګ (برغَه) وهل، بې باکه یرغلونه او د قوی آسونو ګوزارونه اوټکرونــه، د رزمــې پهلوانانو زور او مهارت داسی پیل کېږي؛ لکه د شاعر په وینا:

دو ده ساله اسپ و سه ده ساله مرد- بر آرند از سنګ پولاد، ګرد

البته هغه آس او چاپ انداز په دې لوبه ګټه ګونه کې زور کوي او دایرې ته ور ننه کېږي چې ډېر روغ، دبیاوړي بدن لرونکی، زورور او تجربه کار وي او دپهلوان په سر، پکول، په پومبې سره ډک شوی شلوار،ګوپیچه او په کلکو مضبوطو موزو باندی ملبس وي.

دغه له قوت څخه ډک کوښښو نه او هلې ځلې په ساعتونو دوام کوي او په لږ وخت او آسانۍ سره څوک خوسی له ځمکې څخه پورته کولی نه شي.

په آخر کې له ساعتونو قوی کوښښونو او هلوځلو څخه وروسته له پیاوړې چاپ اندازانو څخه یوکس له خپل غښتلي آس سره خوسی له ځمکی څخه پورته کوي او د آسونو له تُودې څخــه یې د باندې وړي. کله چې د میدان حَکَم هغه ومني نو د لوبې د یو دور ګټونکی ګڼل کېږي. په دې وخت کې یوتن غږکوونکی (جارچی) په اوچت آواز سره د هغه نوم او د هغــه د آس د خاوند نوم د لوبې په ډګرکې اعلانوي چې ټول خلک ترې خبر شي او ټول خلک چاپ انــداز ته شاباسی وایي. د آس خاوند او ځینی نور خلک هغه ته سالیم (پیسې، چپنه، لونګۍ او نــور



(c) ketabton.com: The Digital Library

شیان د انعام په ډول) ورکوي. دا لوبه تر مازیگره پورې دوام کوي. مازیگر د میدان حکم (آخر اوغلاغ) اعلانوي. یعنی هرچاپ انداز چې په وروستي ځل کې خوسی د تودې له منځــه بیــرون تــه انتقال کړ نو هغه د نن ورځې د سیالۍ ګټونکی ګڼل کېږي او لوبه پای ته رسېږي.

## ب- د وزلوبې اصلاح شوی ډول

په دې ډول وزلوبه کې چاپ اندازان د سیمې پربُنیاد سره دوه لوبډلې جوړوي او لوبه کوي.
. په پراخه او هوار میدان کې دوه دایرې چې یوه د برداشت دایره او بله دد بیلګې په توګه پــنځلس سپاره له یوې لوبډلې څخه او پنځلس سپاره له بلې لوبډلې څخه ټاکل کېږي حــلال(غورځولو) دایره ده په تخمیني توګه د پنځوسو مترو په واټن ټاکل کېږي او تقریباً د پنځو سوو مترو پــه واټن یو بیرغ په ځمکه کې دروي.



خوسی د برداشت په دایره کــې غورځــوي. د دواړو لوبډلو سپاره د برداشت له دایرې څخه څو متره لــرې یو بل ته مخامخ درېږي. د میدان د حکم په اشــاره د دواړو لوبډلو سپاره له دواړو خواو څخه په خوسي یرغــل کوي او هره لوبډله هڅه کوي چې خوسی له ځمکې څخه پورته کړي. څرنګه چې په دې لوبه کې د چاپ اندازانو شمېر ډېر زیات نه دی او ټیمونــه هــم دوه دي، نو له چاپ اندازانو څخه یو تن ژر خوسی له ځمکې څخه پورته کوي او د بیرغ پــه لوري منډه وهي؛ چې له بیرغ څخه دوره وکړي او بیا یې د حلال دایرې ته ورسوي او د خپل ټیم لپاره د امتیاز نومره واخلی.
طبعاً په دې لړکې د سیالي لوبډلې له سپرو څخه یوکس (یانباش) کوي. یعنی (د آس پــه شــا باندې په یوه اړخ سره ځملي) او خوسی له یوې بلې پښې څخه را نیسي او په ټول قوت ســره خوسی له مقابل چاپ انداز څخه د راشوکولو او رانېولو په مقصد کش کوي. داسې قوت چې د منډې په لړ کې آسونه کله یو له بل څخه لرې شي او کله بیا ببرته په زور یو له بــل ســره لګېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د امتياز نمره اخيستل

له دوو حالتونو څخه بهر نه وي. يا به يو چاپ انداز په يواځې يا به دوه چاپ اندازان په ګډه سره خوسي ته له بيرغ څخه دوره ورکوي او د حلال دايرې ته يې رسوي او امتياز اخلي. طبعاً په دې لړ کې ټول چاپ اندازان د خپل ټيم له غړو سره مرسته کوي. آس يې په قمچين وهي. هغه له قيزو څخه رانيسي او له خپل ټيم سره په لسګونو ډوله مرسته کوي او همدارنګه خپل آس د مخالف ټيم د آسونو مخې ته دروي او کوښښ کوي چې د مخالف ټيم د برې مخنيوی وکړي.

د دې وزلوبې ښېګنه او ځانګړنه په دې کې ده چې د سپرو شمېر پکې کم دی، هم آسونو او هم چاپ اندازانو ته تکليف او زحمت کم رسېږي. د لياقت او وړتيا د ښودلو فُرصت هر چاپ انداز او هر آس ته زيات په لاس ورځي او د هر پهلوان مهارت په ښه ډول څرګندېږي.

د هر ټيم د غړو په منځ کې هر چاته په لوبه کې د برخې اخيستلو او مرستو زمينې برابرېږي.

په عامه توګه وزلوبه يو ډېر دروند ورزش دی چې د هغې د سرته رسولو په لړکې د پهلوانانو سر، پښو، لاسونو، ملا او د بدن نورو غړو ته سخت زيانونه او تکليفونه رسېږي. کله کله يو چاپ انداز له خپل آس سره پر ځمکه را پرېوځي. آس او پهلوان دواړه سخت ژوبل کېږي. يا د منډې په حالت کې آسونه په خپلو کې ټکر کوي چې زيات تکليفونه رامنځته کوي او ان د مرګ او مړينې ليکرهغوي تهديدوي.

له دې سره سره بياهم وزلوبه ډېره له ولولو ډکه لوبه ده او لاندې زيانونه او نيمګړتياوې هم لري.

- دوزلوبې د آس روزل ډېر لګښت لري.

- په وزلوبه کې د خوسکي کشول چې حلال او د خوړلو شی دې سم کارنه دي.

که د خوسکي پرځای له څرمن او ربړ يا بل کوم شی څخه د خوسکی په څېر يوجسم جوړشي او په وزلوبه کې ترې کار واخيستل شي، ښه به وي.

د وزلوبې په لوبه کې داسې ګڼور اصلاحات راوړل شي چې چاپ اندازانو او آسونو ته د زيانونو درسېدو مخنيوی وشي او هسې قواعد او قوانين منځ ته راوړل شي چې د هغې زيانونه راکم شي نو بيا به ديو ملي ورزش په توګه په نړيواله کچه وپېژندل شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې د وزلوبې د ښه کېدو او د هغې د نړیوال کېدو لپاره خپل افکار او نظریات ولیکي.

### پوښتنې

- وزلوبه څه ډول لوبه ده؟
- د وزلوبې آس، پیګه آس او یابو یو له بل سره څه توپیرونه لري؟
- د وزلوبې اصلاح شوې لوبه په کوم ډول سرته رسېږي؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې د وزلوبې په هکله د خپلو سترګو لیدلي یا د خپلوانو له تجربې څخه یو څه معلومات ولیکي او په راتلونکي ساعت کې دې ټولګي ته راوړي او ودې لولي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دروېشتم لوست

# سیمه ییزې لوبې او کاغذپران

- سیمه ییزې لوبې څه ډول لوبې دي؟

سیمه ییزې لوبې د ماشومانو او ځوانانو په جسمي او رواني وده کې ډېره اغیــزه او ارزښــت لري. سیمه ییزې لوبې ډېر ډولونه لري چې موږ دلته دوه په زړه پورې لوبې تاسوته در پېژنو چې د بوبو ګل چې؟ او کاغذ پران په نومونو یادېږي.



بو! بو! ګل چې؟

د ګډون کوونکو شمېر-٦- ٨ کسه

| | |
|---|---|
| د لوبې وخت | - پسرلی |
| د هلکانو عمر | - د ٨ – ١٢ کلنۍ |
| د لوبې وسیله | - یوه لونګۍ |



د پسرلي په موسم کې چې هوا معتدله وي، هلکان د لوبو په میدان کې راغونډېږي او خبرې سره کوي چې: (بو! بو! ګل چې؟) لوبه وکړي. دا لوبه یو میر لري او په یــوه ډله کې ترسره کېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لوبې کولو طریقه

لونګۍ د رسۍ په ډول تاووي او په یوه سرکې ورته د بادرنګ غوندی غوټــه اچــوي. میــر تاو شوی لونګۍ (ډبلۍ) په لاس کې نیولي او پر یوه غونډۍ باندې کښېني او غوټه شوې برخــه خپلې پوزې ته نژدې کوي، ګنې چې ددې په بویولو یې له ګلانو څخه د یوه ګل عطــر حــس کړې دی. هلکان یې مخې ته درېږي او له هغه څخه پوښتنه کوي:

بو! بو! ګل چه؟ (د کوم ګل بوی؟) میر په دواړو لاسونو باندې په خپل نظرکې د نیول شــوي ګل اندازه په تخمیني بڼه تمثیلوي او وایي: (دومره ګل).

هلکان بیا پوښتنه کوي: ((باغي می؟ تاغي؟)) یعنی دغه ګل په باغونو کې شین کېږي یــا پــه غرونو کې؟، دمثال په توګه میر ځواب ورکوي: ((تاغي)) یعنی غرنی.

هلکان بیاهم د میر په نظر کې نیولی ګل د پېژندلو او پیدا کولو لپاره بې له واره خپلو پوښتنو ته داسې ادامه ورکوي:

بوګن؟ ګل قره قاش؟ ګل جوغاشیم؟ ګل نوروزي؟ ګزروپ؟ تاران؟ ابري؟ او داسې نور ...

هلکان هریو له میر څخه د ګلانو د نومونو پوښتنه کوي او له ډېرو پوښتنو څخه وروســته، د مثال په توګه یو هلک چې پوښتنه وکړي: ګزرپ؟ ناڅاپي میر وایي:(دهِ! دَه سر ګزرپ)(یعنــې ســــم دې وویـــــل) او ډبلۍ هغـــه ته ورکوي. هغه هلـــک چـــې اوس ګویــــــا (ښـــکاري) دی، ډبلـــۍ نیسي او له خپل ســـر



څخه بلې یې ګرده راتاووي او د ډګر په منځ کې په نورو لوبغاړو باندی یرغل کوي او په ډبلۍ باندې یې وهي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

لوبغاړي په مستۍ اوخندا ګانو سره منډې وهي، تښتي او په احتياط سره ځانونه د ډبلۍ له ګزارونو څخه لرې ساتي، خو په عين وخت کې هڅه کوي چې ښکاري راونيسي.

لوبه لنډ وخت (لس – پنځه لس) دقيقې د هلکانو په منډو، ټوپونو او خنداګانو سره دوام کوي او په آخر کې ښکاري نيول کيږي او هغه په ځمکه باندې اچوي. سترګې يې پټوي. يو هلک ډبلۍ، بل د هغه خولۍ اخلي او په يوه پټ ځای کې يې ږدي او نور هلکان، ښکاري په پټو سترګو د مير حضور ته راولي.

مير پوښتنه کوي: «چېرته تللی وې؟» هلک وايي: "ښکار اَشه مَشه" مير بيا پوښتنه کوي: "څو دې ووهل؟" ښکاری د وهل شوو ډبليو شمېر وايي. که ځواب سم وي، باک نشته او که ځواب سم نه وي ټول په يوه آواز وايي: "يوه ګناه" (څرنګه چې ټولو په دې منډو ترړوکې د ښکاري ګزارونه شمېرلي وو او دوی ته معلوم دی). مير بيا پوښتنه کوي: «ته چا څملولې؟» ښکاري د هغه کس په لورې چې دا يې څملولی و په طنز او ټوکې سره اشاره کوي او وايي چې: "دغه هلک" خولۍ چا راوړه؟ دې هلک، ډبلۍ له چاسره ده؟ خولۍ له چاسره ده؟ دا پوښتنې مير له ښکاري څخه کوي. طبعاً ښکاري ځينو پوښتنو ته سم ځوابونه وايي او په ځينو ځوابونو کې تېروتنه کوي.

د ښکاري ګناهونه د هغه د ليکا ځوابونو په اندازه ټاکل کيږي.

په پای کې ډبلۍ چې يې په هرځای کې پټه کړې وه، راوړي. مير د ښکاري د ګناهونو (ليکاګانو) په شمېر په ډبلي باندې ښکاري په اوږه وهي. (البته دغه وهل د تَفَنُن او تفريح په غرض دي نه داذيت او تکليف ورکولو په مقصد) په دې ډول د لوبې يوه دوره پای ته رسېږي.

دا لوبه څو وارې د هلکانو په مستۍ، منډو، خنداګانو، ټوپونو او خيزونو سره يونيم يا دوه ساعته دوام کوي او کله چې ستومانه شول، لوبه پای ته رسېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پتنګ (کاغذ پران) لوبه



په ژمي کې ماشومان کومې لوبې کوي؟

د کاغذ پران لوبه د کابل ښار او د هېواد پــه نورو ښارونو کې د ځوانانو او خلکو ترمنځ په دودیزه توګه له پخوا څخه رواج لري.

ځوانان کاغذ پران د نازکو رنګه کاغذونو او د بانس له نریو لرګیو څخه په ډول ډول شکلونو جوړوي چې هغې ته یــوه پارچــه، دوه، درې، څلور یا پنځه پارچه، کــشمیري، واســکټي، کله ګنجشکي، چشمک دار او نوشته دار وایي.

د کاغذ پران جوړول هم خپل استاذان یا کسبګر لري چې په ډول ډول شکلونو یې جوړوي او په دکانونو کې یې خرڅوي.



## د کاغذ پران جنګول

د کاغذ پران د جنګولو لپاره ټول شیان تر ځانګړو شرایطو لاندې تر سره کېږي دمثال په توګه:

د کاغذ پران او د هغه د شیشه وهل شوي تار او داســې نــورو لپــاره څــو کــسان د دوو لوبوکوونکو په منځ کې منځګړیتوب کوي. د تار جنسیت ګوري چې دواړه له یوې کارخــانې څخه وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یو کس د تار چرخه په لاس کې نیسي او بل کس کاغذ پران الوزوي او په هوا کې یې پــه مهارت د خپل سیال له کاغذ پران سره په جنګ اچوي او دواړه لوبه کوونکي هریو هڅه کوي چې لوبه وګټي.

**په ټولګي کې فعالیت**

- زده کوونکي دې په بېلا بېلو ډلو د بوبوګل چی؟ لوبه دلېسې د ورزش په ډګر کې ترســـره کړي.
- زده کوونکي دې د کاغذ پران لوبې په اړه خپل نظرونه ووايي.

**پوښتنې**

- بوبوګل چی؟ څه ډول لوبه وه؟
- ستاسې پرته له دې دوه لوبو څخه نورې کومې لوبې زده دي؟

**کورنۍ دنده**

- زده کوونکي دې هر یو د خپلو خپلوانو او مشرانو څخه د دوو دوو لوبو پوښتنې وکړي، په خپلو کتابچو کې دې ولیکي او ټولګی ته دې راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم څپرکي لنډيز

تفريحي اوسيمه ييزې لوبې د ماشومانو، ځوانانو او ان د لويانو په ژوندکې ډير ارزښتونه لري.

لكه نيزه بازي چې ډيره لرغونې او په زړه پورې لوبه ده، زموږ د هيواد په سويلي سيموكې ډيردود لري او ددې خلكو د ځانګړو دودونو څخه ده.

نيزه باز په ځانګړي آس سپريږي، نيزه په لاس کې نيسي د آس په ځغلولو سره هغه ميخ چې په لوبغالي کې پرځمكه ټكوهل شوى دى د نيزې په څوكه يې دځمكى څخه پورته كوي سيل كوونكي هغه تشويقوي او انعام او جايزه ورته وركوي.

آس يو زورور، غښتلي، قوي او ښكلى حيوان دى چې د هغې څخه په پېټې وړلو, سورلى، وزلوبه اوپه نظامي موخوكې ګټه اخيستل كيږي.

آس د كار كولو او د پوستكي د رنګ له اړخه بېلا بېل ډولونه لري,چې د هغې ډولونه د رنګ او پوستكي له پلوه په لاندې ډول دي:

جيرن، قزيل، سمند، بوز، سرخون، توروغ، قره كُهر، كوكلان او داسې نور آسونه. د آس څخه په وزلوبه كې هم كار اخيستل كيږي. وزلوبه زموږ د هيواد د شمالي سيمو د خلكو پخوانۍ او لرغونې ورزش او لوبه ده چې دهغوى د شهامت او قهرمانۍ ښكارندويه ده. دوز لوبې آسونه غښتلي، تنومند او هوښيار دي او په ځانګړي ډول روزل كيږي. وزلوبه په دوه ډوله ده يو پخوانی سنتي ډول دى چې ډير شمير سوار كاران وريكې ګډون كوي او ځانته كوم ټيمونه نلري. بل يې اصلاح شوى ډول دى چې چاپ اندازان د سيمې په معيار وريكې دوه ډلې جوړوي او دسيالۍ په ترسره كولو پيل كوي او حلال شوى خوسى په سيالۍ كې كښوي، كه چېرته د خوسي پرځاى يوبل جسم چې خوسي ته ورته وي وكارول شي غوره به وي.

سيمه ييزې لوبې د ځوانانو او ماشومانو په جسمي او رواني روزنه كې ډير ارزښت لري.

او دا لوبې بېلا بېل دولونه لري لكه بوبوګل چې؟ او د كاغذ پران لوبه.

د بوبوګل چې؟ په لوبه كې چې ځوانان په يوه ډله كې لوبه كوي او يو ميرلري، ديوه ګل په نوم د پوښتنې په وړاندې كولو سره چې د لوبه كوونكو څخه كيږي, په ډيرشوق او خوند سره لوبې ته دوام وركوي.

د كاغذ پران لوبه هم د كابل ښار او دهيواد په نورو ښارونوكې د خلكو او ځوانانو ترمنځ د پخواڅخه دود درلوده چې هغه به يې د نري كاغذ او د بانس د نازكه لرګيو څخه جوړاوه او په هغه تار چې په څرخ كې يې تاو كړي وي په هواكې اوچتوي او دبل كاغذ پران سره يې په جنګ اچوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم څپرکی

# مالداري، باغداري ، ځنګلونه، درملي بوټي او مېلې

**د دې څپرکې موخې**

زده کوونکي پوهېږي چې زموږ هیواد یو کرنیز هیواد دی. ددې برابره او مناسبه هوا د هیواد په ډېرو سیموکې د ونو د بیلابیلو ډولونو او دغورو او اعلی میوو د ودې او نمو سبب شوې ده.

زموږ د هیواد ډېر خلك په کرنه، بڼوالی، د ځنګلونو په جوړولو، د شاتو میچیو په روزلو، د ماهیانو روزلو، د غویانو او چرګانو په فارمونوکې مشغولتیا لري او ددې لارې څخه ډېرې ګټې لاس ته راوړي.

زده کوونکي دې د هیواد زراعتي کېدلو ته خپل پام وګرځوي اود بڼوالی، د ځنګلونو جوړولو، دسیل ځایونو جوړولو او د ژوند د چاپیریال د ساتلو د پرمختګ مفکوره دې پیداکړي.

زده کوونکي باید پوهه شي چې ځنګلونه او د سیل ځایونه د زرګونو فرهنګي او تاریخي میراثونو په څنګ کې د نړۍ د سیل ګرۍ د صنعت د ودې او دنړۍ د سیلانیانو د پام راګرځول به ددې سبب شي چې د دې لارې څخه زموږ خلکوته ډېرې زیاتې ګټې تر لاسه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مالداري، باغداري او ځنګلونه

- تاسې د خپل هېواد د غوره مېوو ډولونه پېژنئ؟ نومونه يې واخلئ.
- ښه او غوره انار، انګور، زردآلو، شفتالو، توت، مڼه او غوره ناک د افغانستان په کومو سيمو کې پيدا کېږي؟

زموږ د ګران هېواد خلک په سلو کې له اتياوو څخه ډېر په کرنه او مالدارۍ بوخت دي؛ څنګه چې د ګډو (ميږو) او وزو د څريدو لپاره پراخو ورشوګانو او څړځايونو ته اړتيا ده او دغه څاروي چې تل په دې کې څري؛ نو د ځمکو او ځنګلونو د ونو لرونکې پوښښ خوري له منځه يې وړي. د غرونو لمنې، دښتې او غرونه لوڅ او لغړشي چې دا خرابکاري د ليکرناکو سيلابونو د بهېدو لامل هم ګرځي.

زموږ د هېواد زياتو مالدارو او بزګرو په دې وروستيو کې دا هوډ کړی چې د وزو او ګډو پرځای د ډېرو غوښو او شيدو لرونکې اصلاح شوې غواوې وساتي او په خپلو ډېرو ځمکو کې ورته رشقې او شوتلې وکري او د هغوی د شيدو، غوښو، څرمنو او پوستکو څخه ښه ګټه واخلي. ځکه چې د غواوو ساتل او د هغوی د فارمونو اداره کول نسبت د وزو او ميږو ساتلو او پوولو ته آسانه او هم ډېر ګټور دي.

ځينو خلکو د غوښو او هګيو لاس ته راوړلو لپاره د چرګانو او کبانو فارمونه جوړ کړي دي چې چرګان او کبان پکې روزي.




## د باغونو او ځنګلونو ښه کول

له دې کبله چې زموږ ګران هېواد يو غرنى هېواد دى، د کرنې ډېره ښه ځمکــه او مرطوبــه (نمجنه) هوا لري نو د باغونو او ځنګلونو په جوړولو او روزلــو او ان د چــايو د کرونــدې لپاره؛(لکه د کونړونو په ولايت کې) ډېر ښه شرايط لري. په دې لحاظ خلکو د پخوا په شان د نيالګيو نيــالولو، د ونــو روزلــو او د ځنګلونو جوړولو ته پاملرنه کړې ده او دې نتيجې ته رسېدلي دي چې د ونو او ځنګلونو د ساتنې او روزنې ګټه، له هر کار څخه غوره ده؛ ځکه په دې پوهېږي چې ونې که مېوه لرونکې وي اوکه بــې مېوې، دا لاندې ګټې لري:



## د ونو او ځنګلونو ګټې

الف- د هغو مېوې هم په خپله خوري او هم يې خرڅوي او پيسې ترې لاس ته راوړي.

ب- زړې او وچې ونې پرې کوي او د سُوَن د موادو په توګه ترې کار اخلي او د کار ځينــې سامانونه ترې هم جوړوي.





ج- د ونو زېلې (جرړې) په دښتو، غونډيو او غرونو کې د ځمکې د خاورې ساتنه کوي او د زياتو سيلابونو د بهېدلو او د ځمکو د ويجاړېدو مخه نيسي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د- دونو پاڼې لوګي او ناپاکه هوا جذبوي او د هوا ککړتیا له مینځه وړي. د سیمې هـــوا او د ژوند چاپیریال پاکوي.

هــ - د ونو له ګلانو او غوټیو څخه د شاتو مچۍ خپل خوراک برابروي او شات(ګبین) ترې جوړوي.

و- په دښتو او غرونو کې د ونو او ځنګلونو شتون د سمسورتیا او ښکلا لامل ګرځي چې هم د خلکو د روغتیا لپاره ګټه لري او هم زموږ هېواد ته د نړیوالو سیلانیانو پام راګرځوي.

## زموږ د هېواد غوره مېوې



زموږ د هېواد ټولې سیمې د میوه لرونکو او بې میوو ونو د روزلو لپاره مناسبې دي، مګر ځینې ســـیمې د ځینو ځانګړو ونو د ودې لپاره ډېرې مساعدې دي، د مثال په توګه:

د زردآلو، شفتالو، مڼو او د ناکو ونې په بدخـــشان، غزنـــي، میـــدان وردګ، لوګر، فرخار، اندراب، ایبک تاشقرغان او په چاه آب کې ښه وده کوي. غوره انار، انځر او زردآلو په تاشـــقرغان ، ایبـــک، تګاب، نجراب او قندهارکې. تور بې دانه غوره انګور په ســـان چارک، میمنه ، تګاو، قندهار، هرات اوغزني کې؛ اعلا انار او د انګورو ډېر ښه ډولونه په کندهار کې؛ د شلو څخه زیـــات د اعـــلا انګورو ډولونه او نورې مېوې په هرات کې؛ په غزني او لوګر کـــې انګور او نورې مېوې؛ په غور بند، غزني، اروزګان، تخار، میـــدان وردګ، لوګر، او نورو ځایونو کې. امیري زردآلـــو؛ د بـــادامو مختلف ډولونه په پروان، استالف، کوهدامن، ګلدره، شکردره





(c) ketabton.com: The Digital Library

او پنجشیر کې د انگورو مختلف ډولونه؛ توتان او نورې مېوې شته.

پسته او بادام د بادغیس، هرات، سمنگان او بدخشان په غرونو کې؛ غوزان په پغمان، میـــدان وردگ، پکتیا، پکتیکا، شـــینوارو، د کونړونو او نورستان په غرونو کـــې؛ کینو، مالټه، نارنج او زیتون په ننگرهار او د هغه په خواو شاکې؛ د جلغـــوزو ونې د پکتیکا، پکتیا، خوست، کـــونړ او نورستان په غرونو کې ډېرې دي او ښه حاصل ورکوي.







(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ونو ښېګڼې د غلو تر کرلو

زمونږ خلکو تجربې کړې او لېدلي يې دي که په ځمکو کې غنم، وربشې، جوار او نورې غلّې دانې وکري نو مجبور دي چې هر کال هغه ځمکې يوې او ماله کړي. تخم او کود (سره) پکې وشيندي. کروندې خيشاوه کړي، څوڅو واره اوبه ورکړي. دواپاشي يې وکړي، چې په ځو مياشتو کې د ځمکې محصول ورسېږي؛ بيايې لو کړي او په درمند کې يې غوبل کړي، له ډېرو لګښتونو او زحمتونو څخه وروسته له ځمکې څخه حاصل واخلي او معلومه هم نه ده چې وروسته له دومره خواريو هغه لګښتونه پوره کوي او له هغې څخه يو څه زياته ګټه ورته پاتې کېږي که نه؟





## لږه خواري او ډېره ګټه

که چېرته په ځمکه کې نيالګي کښېنول شي، په دوو يا دريو کلونو کې مېوو تـه رسـېږي او حاصل ورکوي؛ څنګه چې د هر کال په تېرېدلو سره ونه غټېږي او ريښې يې په ځمکه کې نورې هم ښکته ځي نو د اوبو د نشتوالي يا کموالي په صورت کې ونه د خپلو ريښو په واسطه يوه اندازه اوبه د ځمکې له نم اورطوبت څخه چې د باران





(c) ketabton.com: The Digital Library

او واورو له اوبو يې زېرمه کوي،  جذبوي او په هغو اوبو يې ميوه رسيږي. په عادي ډول ونه له دوو يا دريو څلو څخه زياتو اوبو کولو ته اړتيا نه لري؛ حال دا چې د غلو کروندې لږ تر لږه په کال کې له پنځو يا شپږو وارونه زياتو اوبو کولو ته اړتيا لري.


## د ونو روزنه



که څه هم د ونو روزنه او پالنه هم ډېره خواري، لکه د ونو خواوشا بېل وهل، د اضافي څانګو پرې کول،دوا پاشي او نور کارونه غواړي؛ خو دا خواری او لګښتونه په کروندو کې د غنمو او جوارو تر زيارونو ډېر کم دي اوهم په همدې کارونو سره کېدلای شي چې د ونو لاس ته راوړني ډېرې ښې او زياتې شي.

## وکيل خاني منې

څنګه چې دا تجربه د ډاکټر عبدالوکيل خان په نوم يو وطن دوست انسان د قرغې، پغمان، ميدان ښار، وردګو او لوګر په سيموکې عملی کړه. ځمکې يې د هغوی له خاوندانو څخه په اجاره واخيستلې او په دې ټولو ځمکو کې يې دوه ډوله (د سرو او زېړو) منو نيالګي کښېنول. نيالګي په څو محدودو کلونو کې غټې شول او مېوې ته ورسېدل او له جوارو او غنمو څخه يې څو واره زيات او فوق العاده حاصلات لاس ته راوړل چې نن ورځ د هېواد په داخل او بهرکې د وکيل خاني منو مينه وال او پېرېدونکي لري.




د وکيل خاني منو ډولونه چې هريو يې ځانته خوند اوکيفيت لري د مالينګ، بيروتی، او نورو نومونو باندي يادېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## په غرونو کې د نيالګيو کښېنول

[1]څرنګه چې مخکې مو وويل، زموږ د هېواد دښتې، درې او غرونه داسې خاوره، اوبه، هــوا او طبيعي جوړښت لري چې په هر ګوټ کې د دښتو، درو، واديو، ورشــوګانو څخــه سربيره په غرونو کې هم هر ډول مېوه لرونکـــي او بـــې مېوې ونې په خپله په طبيعي ډول له پخوا څخه شنې شوې دي او هم خلکو په هر ځای کې نيالګې کښېنولي، باغونه او ځنګلونه يې جوړ کـــړي دي، لکه په شيخ علي، کشم او داسې نورو سيمو کې.



ځينې ونې اوبو ته ډېره اړتيا لري، لکه زردآلو، شفتالو، آلوبالو، ګيلاس، توت او داسې نور. دا ونې خلکو په هغو ځمکو کې چې ډېرې رواني اوبه لري، کښېنولي دي؛ خو ډېرې نورې ونې شته چې په لږو اوبو باندې هم ګوزاره کوي. ددې ونو ريښې په ځمکه کې ډېرې ښکته ځي او د هغو واورو او بـــارانونو لـــه اوبو څخه چې په ځمکه کې زيرمه شوي دي، استفاده کوي. لکه: پسته، بادام، غوزان، منـــه، ناک، تاک، انار، سنځله او داسې نور؛ همدارنګه څيړۍ (بلوط)، شينۍ، ممانې او ګورګورې د غرونو په ګړنګونو کې په طبيعي ډول راشنې کېږي، وده کوي او لوی ځنګلونـــه جـــوړوي. ځينې کوچنۍ مېوه لرونکې ونې لکه قره‌قات، يخمن، زرشک، دولانه او داسې نورې هم په غرونـــو کې پخپله راشنې کېږي، وده کوي او که د هغوی ښه ساتنه وشي، ګڼ باغونه به منځته راشي.

لکه څنګه چې د«يخمن» په باره کې يو فولکوريک بيت داسې ويل شوی دی:

هوای ابر بهار - يخمن لب جوار (۱)

---

[1] – جويبار، وياله



(c) ketabton.com: The Digital Library

## مرغان هم باغونه جوړوي

د بدخشان ولايت د زرديو، سرغلام، شغنان، يفتلونو او درواز په ښکليو درو او په يغمان کـــې غوزان (چارمغز) کارغه او عکه (سپين او تور کارغه) کښېنوي.

کله چې د غوزانو د ونو مېوې پخې شي څرنګه چې ددې ميوې زړي ډېر غوړدي؛ نو د مرغانو ډير خوښېږي، مرغان د غوز دانې په خپلو مښوکو باندې راشوکوي او له پاسه يې د ځمکې پر لور په لويو تيږو باندې را غورځوي. غوز ماتېږي زړي يې راوځي او مرغان يې خوري. کله چې يوڅو دانې وخوري او ماړه شي، بيا لسګونه دانې نورې راشوکوي او په هرځای کې يــې تــر خاورو لاندې زيرمه کوي چې وروسته يې بيا وخوري؛ خو وروسته بيا دغه د پټ کړي شـــوي غوز ځای له مرغه څخه ورکېږي او په دې ډول د غوز نيالګی يو کال وروسته راشين کېږي.





## غرنی ناک او انګور

د بدخشان د (يفتلونو، شهر بزرګ، درواز، خواهان) په غرونوکې د شکُندی او قِيم په نومونو يو ډول ناک پخپله راخېژي چې ميوه يې سخته او کلکه ده. خلکو د باغي ناک غوټۍ (پنډک) له هغو سره پيوندکړي دي چې د هغې حاصلات عيناً د باغي ناک غوندې خواږه او اوبجن دي.



## د پستې ځنګلونه

د پستې ځنګلونه د بادغيس، هرات، سمنګان او بدخشان په غرونو کې په طبيعي ډول لـــه پخـــوا څخه موجود وو.په ځانګړی توګه د بـــادغيس د غرونو (پسته ليق)، هر کال چې په ټاکلی موســـم کې کله د پستې شول (ناغه) ماته شي د سيمې له



(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو څخه سربېره د ګاونډیو ولایتونو خلک هم ورځي او د بادغیس له غرونو څخه ځانته پسته راټولوي. څرنګه چې پسته ارزښتناکه میوه او قوی خواړه دي او هم سوداګریز او اقتصادي ارزښت لري؛ نو په دې وروستیو وختونو کې زموږ د هېواد د ډېرو سیمو خلک په اوارو ځمکو، دښتو، غونډیو او غرونوکې د پستې د ونو د تکثیر لپاره لاس په کار شوي او ښې نتیجې یې ترې اخیستې دي.

د یادونې وړ ده چې پسته نرینه او ښځینه بیلا بیلې ونې لري.

## د بادام ځنګلونه

د بادام ځنګلونه د سمنګان، کشم، فرخار، تاشقرغان، بدخشان، هرات او د هېواد د نورو سیمو په غرونو کې خلکو لېدلي دی چې پخپله په طبیعي توګه له پخوا څخه شنه شوي دي؛ نو په پام کې لري چې په ټولو دښتو او غرونو کې د بادام او همدارنګه د سینځلو، منو، ناکو او نورومیوو نیالګي کښېنوي، د یوه یا دوو کلونو څخه وروسته د اوبو کولو اود نیالګیو په بیخونو کې د ډکو منګیو د ښخولو په طریقه په لږ لګښت او خواری سره زیاتې ګټې لاس ته راوړي.





## نخلستان

د هېواد په غربي سیمو د دل آرام او سیستان په خواو شا کې د (خرمالیق) یا خرمازار یعنې د نخلستان په نوم یوه سیمه ده. له نامه څخه یې معلومېږي چې هلته پخوا د خرما ونې ډېرې وې.

د دې خبرې د ثبوت لپاره زموږ د هېواد د غزنوي شاهنشاهۍ مؤسس ناصرالدین سبکتګین هغه کیسه چې خپل فیلبان ته یې په دې سیمه کې د یوه بزګر د خرما په شوکولو او خپلولو په سبب سخته سزا ورکړې وه، ښه مصداق دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فرخار او نورستان بې دانه توت ډېر اعلا دي.
د جرم بې دانه توت ډېر خواږه او اوبجن دي او خاص خوند لري.
د تېشکان بې دانه توتان د غټې ګوتې په انـــدازه دي. د دې توتانو خوند او لذت د نورو ځایونو تر توتانو ډېر ښه دي.
زمونږ د هېواد په شغنان ، درواز، میـــدان وردګ، کونړ، پغمان، لوګر، پروان، کاپیسا، تګاب، نجراب، غزني، پنجشیر، لوګر، هرات، دوشـــي، خنجان او نورو ځایونو کې توتان او شاه‌توت ډېر پیداکېږي چې په پنجشیر، شغنان، اودروازکـــې سپین توتان په ژرندو باندې اوړه کوي او د ژمي د خوراک لپاره یې په کندوانو کې ساتي د تلخان په نامه یې یادوي. په شغنان کې چې کله توتـــان پاخه شي، هره ورځ تر ونو لاندې ځمکې جـــارو



او پاکوي. چرګان او نور څاروی په قطعی توګه نه پرېږدي چې تر ونو لاندې وګرځي او ځمکه او باغ ککړ کړي.
ځینې وخت توتان یا د توتانو اوړه (تلخان) له چارمغز سره یوځای په هاونګ کې ټکوي چې ډېر خوندور خواږه ور څخه جوړېږي او هغې ته (شکر پوستک) یا لچاُنک وایي.





## مرغاوي ناک

په شغنان کې يو ډول ناک دي چې د((مرغاوي ناک)) په نوم شهرت لري. د هغې شکل پــه سلوکې اتيا د هيلۍ د بچې غونډې دی چې پخپله منبوکه باندې د ونې په شاخ پورې نښتې وي.

## يخناک او سيب رخش






د بهارک، فرخار او اندراب يخناک، منه او شفتالو د خوند، لطافــت، جــسامت او د اوبــو درلودلو له پلوه ساری نه لري.

د يادونې وړ ده چې په ټول افغانستان کې ښې منې روزل کېږي.

**د لوست نوي اصطلاحات**

| | |
|---|---|
| تصميم | هوډ — عزم |
| تخريب | ورانول |
| مؤسس | بنياد گذار- بنسټ ايښودونکی |
| جلب | راغوښتل- راوستل |
| لطافت | نازکي |
| ساری | مثال |
| معطرې | ښه بوی لرونکي. |







(c) ketabton.com: The Digital Library

### په ټولګي کې فعاليت

- زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي او هره ډله دې د مختلفو مېوو لست جوړ کړي. د مثال په ډول:

تازه مېوې

هغه مېوې چې وچېدای شي

د يخو سيمو مېوې

د ګرمو سيمو مېوې

### پوښتنې

- د کابل، غزني، پکتيا، پکتيکا، خوست او لوګر ولايتونو د مېوو لست جوړ کړئ.
- انار، انګور، زردآلو، شفتالو او اعلا ناک زموږ د هېواد په کومو ولايتونو کــې توليــدېږي؟
- په ۱۳۸۷هــ. ل.کال د کابل په ښار کې د انارو نندارتون جوړ شوی و او زموږ د هېـــواد انار په نړۍ کې په لومړۍ درجه انارو کې پېژندل شوي وو. تاسې په دې هکله څه نوښتونه او وړانديزونه لرئ؟ چې زموږ د هېواد انار د نړۍ په بازارونو کې وپېژندل شي او ښه پېرودونکي پيدا کړي.
- په ننګرهار، کونړ، او لغمان کې کومې مېوې توليدېږي؟
- جلغوزي زموږ د هېواد په کومو ولايتونو کې پيدا کېږي، او د جلغوزو د ترويج او تکثيـــر لپاره کوم وړانديزونه کوئ؟
- د نيالګيو کښېنول او د باغونو او ځنګلونو جوړول کومې ګټې لري؟ په تفصيل سره يې ولیکئ!
- تاسې څو ډوله ختيکي پېژنئ؟ ډېر ختيکې د افغانستان په کومو ولايتونو کې کرل کېږي؟
- که د امام جان، چاه آب او د خان آباد (قندک) ختيکيو لپاره بهر ته د لېږلو زمينه برابره شي څومره اقتصادی ګټې به ولري؟

### کورنی دنده

- زده کوونکي دې له خپلو کورنيو څخه د هېواد د ختيکيو په باب پوښتنې وکړي او را غونډ شوي معلومات دې په خپلو کتابچو کې وليکي، په راتلونکي ساعت کې دې له ځانــه ســره راوړي او په ټولګي کې دې ووايي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږ ویشتم لوست

# درملي بوټي

درملي بوټي کوم ډول بوټي دي؟







زموږ ګران هېواد افغانستان چې د ځمکې د کُرّې په معتدله سیمه کې پروت دی. ډېر ښه او هر ډول اقلیم لري. څرنګه چې ډېرې برخې یې غرنۍ دي او دا غـــرونه په خپلو لوړو برخو کې







(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې واورې او کنګلونه لري چې هيڅ نه اوبه کېږي اوزمور د هيواد د مستو سيندونو؛ لکه د کنړ، لغمان، تګآب، آمو، هيرمند، ارغنداو، هريرود، مرغاب، بلخاب او د کــوکچې د اوبــو سرشاره سرچينې جوړوي. د دې سيندونو او پريمانه اوبو شتون دی چې ښکلي شنه فــصلونه، مرطوبه (لمده) هوا او سلګونه ډوله طبي بوټي په غرونو او دشتو کې راشنه شوي دي چــې د نباتي دواګانو لويه خزانه يې جوړه کړې ده. دا ټولې زموږ طبيعي پانګې دي چې په لاندې ډول يې د بېلګو په توګه د يو څو نومونه يادوو:





## د درملي يا دارويي بوټو ډولونه

زعفران،زنکۍ (شنه،سپينه او توره زيــره)، خــوړولې، کچمــاچو(يــا کرمــاچو) ســپېلني، خيروګل(ختمي)، اسفرزه (سپېغول)، خاکشير(يا جينجر)، ريدې، تروکي، غرني باديان، بنــګ دانه، سونډ، غاټول (خاټول) کاسني، غواژبۍ، تباشير، نانګان، بارتنګ، سپېرکۍ، تــرنجبين، د چاى بوټي، اربړه(توره- زبړه)، مرخنۍ او داسې نور.

څنګه چې د دې دارويي بوټو ډېر ډولونه په کروندو او ځمکو کې د کرنې وړ دي نو موږ يــې زعفران د نمونې په ډول معرفي کوو چې دا ګټور او ارزښتناکه بوټی هرڅوک وپېژني.



(c) ketabton.com: The Digital Library







## زعفران

زعفران یو داسې بوټی دی چې ګلان يې ښکلي، بنفش او ارغواني رنګ لري. د زعفران غوټـه سخته، ګرده او غوښنه ده چې د نازکو قهوه يي رنګو پوښونو په واسطه پوښـل شـوې ده. د زعفران بوټي د لولې په شان درې څانګې لري. مؤنثې څانګې يې په درې واړو سرونو کې درې غوټې لري او نارنج ته ورته زيړ رنګ لري. معطر او قوی بوی او لږ تيز خوند لـري چـې د خوراک، رنګ او د عطرو په مقصد ترې کار اخيستل کېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



زعفران



## د زعفران طبي ارزښت

زعفران زموږ د هېواد په غرونو او دښتو کې شنه کېږي. دا بوټی د انسان د بدن د سلامتیا او قوت لپاره ډېر ګټور او د درملنې لپاره له ډېرو ښو بوټو څخه دی. زموږ خلک چې د زعفران په طبي او اقتصادي ارزښت پوه شوي دي نو په خپلو ځمکو کې یې د هغو په کرلو لاس پورې کړې دی؛ لکه څنګه چې د هرات کروند ګرو په ۱۳۸۸هــ. ل. کال پرخپله دوه سوه هکتاره ځمکه کې زعفران کرلي ، بهر ته یې صادر کړي او ډېره لوړه ګټه یې ترې لاس ته راوړې ده. د راپوروونو په اساس پــه نړیوالــو بازارونو کې د هرات د زعفرانو جنسیت او کیفیت د ګاونډیو هېوادونو د زعفرانو تر جنسیت او کیفیت ډېر ښه او اعلا ثابت شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زعفرانو اقتصادي ارزښت



د زعفران بوټی ډېر زيات اقتصادي ارزښت لري لکه څنګه چې د هرات يو کيلو ګرام زعفران د امريکې متحده ايالاتو، عربي متحده اماراتو، ايتاليا او د هسپانيې هېوادونو په بازارونو کې د شپږ زرو څخه نېولې تر اوو زرو امريکايي ډالرو چې له (درې سوه زرو څخه تردرې سوه پنځوس زرو افغانيو سره برابرېږي) خرڅ شوي دي.

زعفران د کوکنارو، تنباکو او له بنګ دانې څخه زيات ارزښت لري، نو ځکه يې دهرات، فارياب او کاپيسا ولايتونو د بزګرو (نارينه او ښځو) پام ځانته را اړولی او هغوی د دې ګټور بوټي په کرنه لاس پورې کړی دی.



څنګه چې زموږ په ټول هېواد کې زيات خلک زعفران پېژني او د هغې په درملي او اقتصادي ارزښت باندې پوه شوي دي نو ټولو ته هوډ کړی چې په خپلو کروندو او ځمکو کې زعفران، زنکۍ او داسې نور ګټور درملي او اقتصادي بوټي وکري چې ډېرې اقتصادي ګټې ترې لاس ته راوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

### په ټولګي کې فعالیت

- زده کوونکي دې په دوه ډلو وویشل شي. یوه ډله دې د هغو بوټو نومونه لست کړي چې په کتاب کې مو ولوستل او بله ډله دې د هاغو بوټو نومونه لست کړي چې په کتاب کــې یــې نومونه نشته.

### پوښتنې

- زعفران کوم ډول بوټي دی؟ او زموږ د هېواد د کومو ولایتونو خلک یې کري؟
- د زعفران اقتصادي ګټې څومره دي؟
- له یوه جریب ځمکې څخه څومره زعفران لاس ته راځي؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکي دې له خپلو خپلوانو څخه د درملي بوټو د نومونو پوښتنه وکړي او هغــه دې لست کړي او د ښوونکي په لارښوونه دې د هغو په هکله معلومات ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه ویشتم لوست

# مېلې او د جهان ګردۍ راښکون او زموږ د هېواد فرهنګي میراثونه

## مېلې

- تفریح او مېله د انسانانو د جسمي او روحي پیاوړتیا لپاره څه اغېزه لري؟




زموږ ګران هېواد افغانستان یو غرنی هېواد دی. د غرونو لوړې څوکې یې په دایمي واورو پټې دي چې دا واورې د ډېرو اوبو او مستو سیندونو د بهېدلو لامل او سرچینې ګرځېدلې دي.
دغو جګو غرونو، سیندونو، درو، دښتو، پراخو او شنو ورشوګانو، زموږ هېواد ته طبیعي ښکلا او ښایست ورکړی دی چې دې ښکلا او ښایست د بهرنیو نړیوالو سیلانیانو پام ځانته را اړولی دی.





(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم زموږ د هېواد ټولې سيمې ډېر ځړوبي (آبشارونه)، دښتې، شنې درې، د مېلو ځايونه، او سيل ځايونه لري؛ خو بیاهم په هره سیمه کې په زړه پورې تفریحي ځايونه شته چې په مختلفو موسمونو کې خلک هغو ځايونو ته ورځي، مېلې کوي او خپل فارغ وخت په خوشحالۍ تېروي.
د کابل د مرکزي حوزې په چارچاپېر او په نورو ولايتونو کې د مېلو مشهور ځايونه عبارت دي له:

د بابرشاه بڼ، د چهلستون د مانۍ بڼ، د شهر آرا بڼ، د جهان آرابڼ، د للندر د شاه توت دره ، ګلباغ، پغمان، د قرغې بند، استالف، ګل غونډۍ، صياد، ګلبهار، سالنګ، پنجشېر او داسې نور.

پخوا به د کابل د ښار کسبګرو په ډله ييزه توګه باغ لطيف، د خواجه صفا ارغوان زار او د سيل نورو ځايونو ته تلل او مېلې به يې کولې.

د هېواد په شمال او شمال ختيځ کې پامېر، د ورسج او فرخار ښکلې تګاو او درې، اندراب، بدخشان، تاشقرغان، سمنګان، د فارياب او د بادغيس کوهستانونه، دهېواد په غرب کې د هرات بېلا بېلې سيمې؛ لکه په کوه زنجيرګاه کې د تخت صفر په نوم د سيل او تفريح ډېر ښکلی ځای، پل مالان، د خواجه عبدالله انصاری آرامګاه،


د للندر د شاتوت دره
(کابل)

خواجه غلتان، او داسې نور ځايونه. په جنوبي سيمو کې د پکتيا د ګڼو ځنګلونو غرنۍ سيمې.
دهېواد د مشرقي سيمو په ننګرهار کې د سراج‌العمارت، د امير شهيد بڼ، د بهسود پُل، د مملې بڼ، موی مبارک، په کونړ او نورستان کې له ځنګلونو ډکې درې، د سيندونو په زړه پورې شنې غاړې، په لغمان کې د کله ګوش ښکارځی، زوړ اليشنګ[1] او د هغې د سيندونو شنې غاړې، د مرکزي افغانستان پراخې او غرنۍ سيمې، باميان او دره آجر چې په هر ځای کې د مېلو او د سيل ځايونه د روانو اوبو چينې او د بودا تاريخي مجسمې لري چې

[1]- ښايي چې په اصل کې(ايل نشين) وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک په ډېر شوق دې ښکلی او با طراوته سیمو ته د تفریح او سیل لپاره ورځي او دې سیلونو او مېلو ته له نیزه بازۍ، اتڼ، چوګان بازۍ او داسې نورو لوبو سره نور زیات خوند وربخښي.
له نیکه مرغه زموږ په هېواد کې په زړه پوري تاریخي، متبرکه ځایونه او ښکلي حیرانوونکي طبیعي مناظر ډېر زیات دي، لکه په هرات، غزني، بلخ او مزار شریف، آی خانم، د فراه او سیستان وادی، بامیان، بدخشان، کندوز، کابل، سمنګان او ایبک، کندهار، ننګرهار، کونړ، لغمان، پکتیا، پکتیکا او داسی نور چې په هغو کې زموږ د هېواد د پاچاهانو او امپراطورانو لکه میرویس نیکه، احمد شاه بابا، سلطان محمود غزنوی، ظهیرالدین محمد بابر، شاهرخ میرزا، شهزاده بایسُنغُر میرزا، د ملکه ګوهرشاد بیګم او داسې نورو تاریخي اوفرهنګي میراثونو لویې خزانې شته چې د سیلانیانو د لیدلو او سیل لپاره ځانګړې راښکون لري، ډېر په زړه پورې دي.


طاق بُست


ښکلی طبیعت او ځروبی


د سلطان محمود غزنوی آرامگاه
(غزنی)



(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې لازم تدارکات او آسانتیاوې لکه پاخه (اسفالت) شوي سرکونه، هوټلونه، ښه امنیت او داسې نورې لارې چارې برابرې شي، په یقیني توگه چې په کال کې به په ملیونونـــو ډالــره له دې لارې زموږ د خلکو لاس ته ورشي او د هېواد د اقتصادی برخې په ښه کېدو او ودانولو کې به لویه اغیزه ولري.



بامیان



پامیر



د جام مینار



(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل بالاحصار





د احمد شاه درانی آرامگاه «کندهار»




د دارالامان ماڼۍ (کابل)



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نړۍ د جهان ګردۍ راښکون


تا ج محل
(ډهلی)

باید په یاد ولرو چې نن ورځ د نړۍ په ډېرو هېوادونـــو لکـــه سویس، ایټالیـــا، د امریکـــې متحده ایالتونه، ترکیه، مـــصر، ایران، هند، سعودی عربستان، چین او داسې نورو کې توریزم اوجهان ګـــردي د اقتـــصادي برخو یوله ډېرو عاید راوړونکو صنعتونو څخه ده.


ځروبی

د نړۍ خلک له سیاحت او سیل سره مینه لري او غـــواړي چـــې تاریخي ځایونـــه او عجایبـــات ووینې. د ښارونو له ګڼې ګوڼې او له ککړې هوا څخه لرې پـــه شنو تازه ځنګلونو، غرنیو سیمو او ښکلو مناظرو کې خپل وخت په هوساینې او خوشحالۍ تېر کړي.


د جمشید تخت
«شیراز»


د چین دیوار



(c) ketabton.com: The Digital Library



د ايفل برج «فرانسه»



د بگ بن د ساعت برج «انگلستان»



په اروپا کې زړه مانۍ



په اروپا کې زړه مانۍ



(چین)



(c) ketabton.com: The Digital Library



په اروپا کې زړه مانۍ

## د لوست نوي اصطلاحات

| | |
|---|---|
| ورشوګانې | څړ ځايونه |
| عجايبات | نا آشنا، حيرانونکي شيان او ځايونه |

### په ټولګي کې فعاليت

- ځو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او زموږ هېواد ته د سيلانيانو د پاملرنې او توجه د جلبولو لپاره چې کومو آسانتياوو او هلوځلو ته اړتيا وي، د هغو په باب دې خپل وړانديزونه او نظرونه بيان کړي.

### پوښتنې

- د هېواد د لوړو غرونو او اوږدو سيندونو نومونه واخلئ؟
- ديخشيره آبشار، د شيوې جهيل، او د سيستان جهيل زموږ د هېواد په کومو ولايتونو کـــې موقعيت لري؟
- د کابل ښار او د هغې شاوخوا د تفريح ځايونه کوم دي؟

### کورنۍ دنده

- زده کوونکـــــې دې د خپلو ولايتونو او ولسواليو د کلتوري ميراثونو، د طبيعي منظرو او د سيل د ښو ځايونو په باره کې معلومات راغونډ کړي او په خپلو کتابچو کې دې وليکي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## دشپږم ځپرکي لنډيز

زموږ د هيواد په سلوکې اتيا خلك په کرهڼه، مالدارۍ او باغوانۍ بوخت دي.

څرنګه چې وزې او ميږې هر وخت پيايي د ځمکې واښه او ځنګلونه خوري او له منځه يې وړي؛ نو لدې کبله زموږخلکو هوډ کړی دی چې د وزو او ميږو پرځای اصلاح شوې غواګانې، چرګان او کبان، وروزي؛ څرنګه چې خلك پوهيږي چې د ونو کښېنول، د باغونو او ځنګلونو منځته راوړل هم د اقتصاد او هم د ژوند د چاپيريال او د سيمې ښايست له پلوه ډير ارزښتناك او مهم دي؛ نو په دې اساس زموږ خلکو د ونوکښېنولو، د باغونو او ځنګلونو جوړولوته پاملرنه کړې ده.

زموږ په هيواد کې ډيرې په زړه پورې اعلی ميوې لکه منې، ناك، زردآلو، شفتالو، غوزان، توت, انار، انګور، پسته، بادام اوداسې نورو پريمانه ډولونه هم په دښتو او هم په غرونو کې توليد او روزل کيدلی شي. په لږه خوارۍ سره دونو حاصل دغلو په پرتله ډير ترلاسه کېږي, لکه څرنګه چې ډاکتروکيل خان دغه تجربه د پغمان، ميدان وردك او لوګر په ځمکو کې تر سره کړې ده او ډير فوق العاده حاصل يې تري لاس ته راوړی دی.

زموږ د ګران هيواد په تودو او يخو سيموکې د ميوو بېلا بېل ډولونه توليدېږي. ان تردې چې د دل آرام په سيمه کې د خرما ونې شنې کېږی او حاصل ورکوي. د بدخشان غرونوکې، د ميدان وردك، پغمان، لوګر، هرات، نورستان او نورو ډيرو ځايونو کې د غوزانو ونې راختلې دي چې هغه کار غانو او عکې کښېنولي دي. په دې ډول چې غوزان د راتلونکي وخت د خوړلو لپاره د خاورو د لاندې پټوي خو وروسته بيا د هغې ځای ترې هېرېږي چې هماغه غوز په بل کال کې راشين کېږي.

زموږ د هيواد په ډيروسيموکې ناك، انګور، غوزان، پسته، بادام، منې، قره قات، ګورګرې او نورې ميوې په غرونوکې په للمې ډول راخېژي او دهغې جرړې يا ريښې د واورې او باران د زېرمه شوو اوبو څخه اوبه جذبوي خپل ژوند ته دوام ورکوي او ډير کلونه پرته له خوارۍ څخه حاصل ورکوي.

له دې کبله زموږ خلکو اوس باغدارۍ او ځنګل دارۍ ته ډيره پاملرنه کړې ده او دهغې **څخه** يې ډېرې ښې نتيجې لاس ته راوړې دي؛ څرنګه چې ونې سربيره د ميوو او لرګيو د ژوند چاپيريال ښايسته او پاکوي.

جرړې او ښلې يې د ځمکې د خاورو ساتنه کوي او د ونو غوټۍ د شاتو د مچيو غوره خواړه دي چې دهغې څخه شات لاس ته راځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

## د ملي هویت پدیدې، رمزونه، نښې (سمبولونه)

### د اووم څپرکي موخې

زده کوونکي پوهېږي چې زموږ هیواد یو کرنیز هیواد دی، ددې مناسبه او معتدله هـوا د هیواد په ډېرو سیموکې د ډول ډول ونو د پیدایښت او ودې لامـل گرځېـدلی ده؛ پـه دې ډول زموږ د هیواد ډېر خلک د کرنې، مالدارۍ او د باغدارۍ سره سروکار لـري او ددې لارې څخه ښه گټه لاس ته راوړي.

زده کوونکي دې په هیواد کې د کرهنیز کیدلو ارزښت ته مخه وکړي او د باغدارۍ، د ځنگلونو جوړولو، تفریحي ځایونو او د ژوند د چاپیریال د ساتنې مفکوره دې پیدا کړي.

زده کوونکي دې وپوهېږي چې زموږ په هیواد کې د زرگونو تاریخي او لرغونـو میراثـي ځایونو په خوا کې د ځنگلونو او تفریحي ځایونو جوړول، د توریزم د صـنعت او د نـړی د سـیلانیانو د پـام را گرځولـو د ودې سـبب گرځـي چـې د دې لارې څخـه بـه زمـوږ هیواد والوته ډېرې گټې په برخه شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتم لوست

# بیرغ، ملي سرود او نښې

- تاسې کوم وخت درې رنگه ټوکر چې د هغې په منځنۍ برخه کې سمبول وي او د یوه لرگی په پورتني سرکې ځړول شوی وي. لېدلی دی او که لېدلی مو وي وواياست هغه ټوکر چې په دې شـــان جوړشـــوی وي، څه نومېږي؟

- زموږ د هیواد په لویو رسمي غونډو کې لومړی د قرآن شریف تلاوت کېږي او له هغې څخه وروسته یو سرود غږول کېږي، هغه سرود کوم دی؟



د هر هېواد بیرغ د هغې د تېر شوی تاریخ څرگندوی او د خلکو د هویت د پېژندنې بیانونکی دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ ګران هېواد افغانستان چې د تېرو پېړيو په اوږدوکې ډېر ځلانده تاريخ لري او تراوسه پورې خپل بېرغ او ځانګړی ملي سمبول او رمزونه لري.
د تاريخ په مختلفو دورو کې د خپل هېواد بيرغ ګورو چې څه منشا لري؟ او کوم بدلونونه يې لېدلي دي؟

## په تېرو وختونو کې زموږ په بيرغ کې بدلونونه

د اتمې هجري پيړۍ (د ابو مسلم خراسانی له زمانې) څخه نېولې، د افغانستان بيرغ تور رنګ درلوده چې د دوه سرې نيزې په څوکه ځړېده.
په لسمه او يوولسمه پيړۍ (د غزنويانو په دوره کې) د افغانستان بيرغ د زمری نښه درلودله او د شاهي بيرغ رنګ سور و. په پنځلسمه پيړۍ کې رسمی بيرغ زرنګار و. له هغې څخه وروسته په اته لسمه پيړۍ د احمد شاه ابدالي په زمانه کې تر نولسمې پيړۍ پورې رنګارنګ بيرغونه دود وو. په نولسمه پيړۍ کې يو ځل بيا د افغانستان د بيرغ رنګ تور او دهغې سمبول (نښه) (محراب، منبر، توره او ټوپک) شو. د شلمې پيړۍ په (۱۹۲۸)م. کال کې د هيواد د لويې جرګې له خوا د بيرغ رنګ (تور، سور، شين) او د هغې سمبول (غر او لمر) وټاکل شو.
په ۱۹۲۹م. کال کې بيا له سره د بيرغ نښه محراب، منبر او د غنم وږی وټاکل شو. د مرحوم محمد داوودخان د حکومت په وخت کې د بيرغ په نښان باندې (عقاب) ورزيات شو، چې محراب او منبر په نامحسوس شکل سره د عقاب د ټټر او سينې په برخه کې ځای درلوده. د نور محمد تره کي د حکومت په وخت کې د افغانستان بيرغ يو سور رنګي ټوکر و چې په منځ کې يې د «خلق» کلمه لېکل شوې وه. د هغه څخه وروسته د افغانستان بيرغ څه بدلونونه ولېدل ترڅو چې د استاد برهان الدين ربانی د دولت او مجاهدينو په وخت کې د افغانستان بيرغ له پورته څخه په ښکته (تور، سپين، شين رنګونه درلودل او نښان يې محراب او منبر او په دواړو څنډو کې يې د غنمو دوه وږي) وو.
د طالبانو دحکومت په وخت کې د افغانستان د بيرغ رنګ ټول سپين و او د (**لا الـه الا الله محمد رسول الله**) مبارکه کلمه يې په منځنۍ برخه کې ليکل شوې وه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## زموږ د بيرغ منشأ

زموږ د بيرغ نښې چې له تېرو زمانو څخه راهيسي زموږ د خلکود فرهنګ، ملي ځانګړتياوو، مسلمانۍ، دين دوستۍ، وطن دوستۍ، مېړانې، شهامت او سلحشورۍ ممثل او څرګندونکي دي، دا نښې زموږ په ملي بيرغ کې په لاندې ډول ښودل شوي دي.

تور رنګ د خپلواکۍ د نه درلودلو نښه، سور رنګ د آزادۍ غوښتنې او جنګونو نښه، سپين رنګ د سولې غوښتنې او شين (زرغون) رنګ د خپلواکۍ نښه ده.

د زمرۍ نښه د زړه ورتيا، توره او ټوپک، د جنګ غوښتنې، زړه ورتيا او عقاب دلوړ همت نښه ده.

جومات، محراب،منبر، د الله اکبر او توحيد مبارکې کليمې زموږ د خلکو د مسلمانۍ او اسلام غوښتنې نښې دي.

د غنمو وږی ښيي چې زموږ هېواد يو کرهنيز هېواد دی. غر او (لمر د ختلو په حال کې) د دې مطلب څرګندوونکي دي چې توره دوره په ختمېدلو او روښانه دوره راتلونکې ده.

زرنګار بيرغ په پنځلسمه پېړۍ کې دا حقيقت څرګندوي چې زموږ ګران هېواد په هغې دورې کې يو پرمخ تللی هېواد و، پوهنې او ښکلو هنرونو تکامل موندلی او خلکو په هوسايښې ژوند کاوه.

## زموږ د بيرغ اوسنی رنګ اونښان

اوس د افغانستان د بيرغ رنګونه په ترتيب سره (تور، سور او شين) يو د بل په څنګ کې ځای لري او نښان يې هماغه محراب، منبر او په دواړوخواوو کې يې د غنمو دوه وږي دي.

د افغانستان بيرغ، په کابل ښار کې د جمهوري رياست په مقر د ارګ د يوه برج پـه سـر، د پارلمان، د سترې محکمې په ماڼيو باندې، همدا ډول په وزارتخانو، په ټولو دولتي مؤسساتو او ادارو، پوهنتونونو، مکتبونو، مدرسو، د هيواد په مرکز او ولايتونو، په ځـانګړې توګـه د رسمي وختونو په لړ کې، په بهرکې د افغانستان په سفارتونو، قونسلګريو او په سياسي نماينده ګيو کې او دغه راز د ملګرو ملتونو په سازمان کې،تل رپېږي.

هغه بيرغ چې د ملي دفاع په وزارت کې دی، له قيمتي او ښکلي ټوکر څخه جوړ او په هغـې باندې د قرانکريم مبارک آيتونه هم ګنډل شوي دي د (عَلَم مبارک) په نوم يـادېږي. عَلَـمَ مبارک په يوې تزيين شوې پايه باندې چې د دوو يا دوه نيم مترو په اندازه ده، نښلول شوي دي



(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په څوکه کې يې يو جلد قرآنکريم د يوې کوچنۍ ښکلې جعبې په منځ کې ايښودل شوی دی.

د هيواد د آزادۍ په جشن کې د اردو قطعاتو د رسم گذشت مراسم د لوژ (د مشرانو لپاره لوړ ټاکل شوی ځای) له مخې څخه چې د هيواد د درې واړو قواوو ارکان، کورډيپلوماتيک، او نور مشران حضور لري، علم مبارک په ځانګړو مراسمو سره تېرېږي.

## د افغانستان مِلّي سرود

د افغانستان مِلّي سرود په پښتو ژبه د (الله اکبر) او د افغانستان د نوم له ذکر سره په لاندې ډول دی:

دا وطـــن افـــغانســتـــان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې، کور د تورې — هر بچی يې قهرمان دی
دا وطن د ټـــولو کــــــور دی — د بلوڅو د ازبيـــــــکو
د پـــښـــتون او هــــزاره وو — د ترکمـــنو د تاجـــکو
ورسره عرب، گو جـــردي — پاميريان، نور ســـتانيان
براهوی دي، قزلـــباش دي — هم ايماق، هم پشه ييان
دا هيـــواد به تـــل ځلېږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سينه کـــې د آســـيا، به — لکه زړه وي جـــاويدان
نوم د حــــــق مــــــــودی رهبر
وايو «الله اکبر»! وايو «الله اکبر»

په ملي سرود کې ويل شوي دي چې دا وطن د افغانستان د ټولو خلکو، د بلوڅو، اوزبيکـــو، پښتنو، هزاره وو، ترکمنو، تاجکو، عربو، گوجرو، پاميريانو، نورستانيانو، براهويانو، ايماقانو او پشه ييانو ګډکور دی.

د دې قومونو پيدايښت منشأ او سکونت په دې هېواد کې دی. په دې کې د ملي يـــووالی او قوت رازونه دي چې د سرود د غږولو په وخت کې ټول اقوام په دې کې خپل ځانونهويني او د هغې په اورېدلو ټول د غرور او وياړ احساس کوي. ملي سرود د هر افغان د زړه آواز، د ملي عواطفو رڼا، هېواد پالنه او هېواد سره مينه او محبت دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د رسمي مراسمو او غونډو د پرانیستلو په وخت کې لومړی د قرآنکریم تلاوت او دعا کېږي او بیا ملي سرود غږول کېږي. ټول یې د احترام لپاره له خپلو ځایونو څخه اوچتېږي او پــه سکوت سره هغه اوري، همدا رنګه بهر ته زموږ د هېواد د جمهور رئیس د سفر په وخت او یا زموږ هېواد ته د بهرنیو دوستو هیوادونو د زعماوو د مسافرت په وخت د هغوی په حضور کې د دواړو هېوادونو ملي سرودونه غږول کېږي.

## سمبولونه او ملي رمزونه

سمبولونه د هرې ملي پدیدې د منطقي شتون او ملي هویت څرګندونکې نښې دي. پــه تېــرو دوروکې د بیرغ ډولونه، ملي بیرغ، د پوهنې سمبول، د ملي شورا سمبول، د افغانستان بانک سمبول، بانکنوټونه، مسکوکات، نښانونه، د (ښاروالۍ ، د سرې میاشتې ، د ملي اردو ، د ملي پولیسوسمبول،) د استقلال څلی، طاق ظفر او داسې نور زموږ ملی سمبولونه او رمزونه دي.



امیر حبیب الله خان 1919



شاه امان الله خان 1919-1928



محمد نادر خان 1929-1930



د سردار محمد داوود خان جمهوریت 1974-1978



نورمحمد ترکی او حفیظ الله امین 1978- 1980



ببرک کارمل 1980-1987



دکتور نجیب الله 1980-1992




مجاهدین 1992-1996



استاد برهان الدین ربانی




طالبان (ملامحمد عمر)1996-2001



د افغانستان اسلامی جمهوری دولت (حامد کرزی)



(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library














**د لوست نوي اصطلاحات**

| |
|---|
| منشأ - سرچینه، پیل |
| دوخت - گنډل |
| کورد پیلوماتیک: د بهرنیو هیوادونو سیاسي استازي |

**په ټولګي کې فعالیت**

- هر زده کوونکی دې یو سمبول رسم کړي.

**پوښتنې**

- زموږ د ګران هیواد بیرغ د تاریخ په اوږدو کې کوم بدلونونه لیدلي دي؟
- د ابو مسلم خراساني په زمانه کې زموږ د بیرغ رنګ څه ډول و؟
- د غزنوي امپراطورۍ د بیرغ نښه څه ډول وه؟ او شاهي بیرغ کوم رنګ درلوده؟

**کورنۍ دنده**

- هر زده کوونکی دې په خپل کور کې له دریو رنګونو تور،سور او شین(زرغون) ټوکر څخه بیرغونه جوړ کړي، ټولګي ته دې راوړي او د لېسې د آرت (رسم) استاذ په مرسته دې د بیرغ نښان په هغې کې نقش یا ټا په کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اووم څپرکي لنډیز

د هر هیواد بیرغ د تاریخ په اوږدو کې د هغې خلکو دهویت څرګندوونکی او مُمثّل دی.

زموږ ګران هیواد افغانستان چې روښانه تاریخ لري، د تېرو شوو پېړیو په اوږدو کې تر اوسه خپل ځانګړی بیرغ، سمبول او نښې لري. د اتمې پیړۍ څخه وروسته د ابومسلم خراساني په وخت کې د افغانستان بیرغ تور رنګ درلوده چې د دوه سري نیزې پر سر به رپیده.

په اتلسمه پیړۍ کې د احمد شاه ابدالي له وخته تر نولسمې پېړۍ پورې ډول ډول بیرغونه معمول وو. په نولسمه پیړۍ کې بیا د افغانستان د بیرغ رنګ ((تور)) او د هغې نښه (محراب، منبر، توره او ټوپک) شو.

په شلمه پیړۍ کې د هیواد د بیرغ رنګ (تور، سور، شین) او نښان یې (غر اولمر) غوره شو.

په۱۹۲۹ میلادي کال کې یو وار بیا د بیرغ نښه( محراب، منبر او د غنموو‌ږی) وټاکل شول او وروسته هم بیا په بیرغ کې بدلونونه راغلل.

د طالبانو په وخت کې د افغانستان بیرغ تول سپین رنګ درلوده او دهغې په منځ کې د(لااله الا الله محمدرسول الله) مبارکه کلمه لیکل شوې وه.

اوس د افغانستان په بیرغ کې (تور، سور، شین) رنګونه څنګ په څنګ قرار لري. او نښان یې د غنمودوږو ترمنځ محراب او منبر ځای لري.

زموږ د بیرغ منشأوې د پخوانیو زمانوڅخه تر اوسه پورې زموږ د خلکو د فرهنګ، مسلمانی، ملّي ځانګړتیاوو، هیواد پالنې، د تورې او میړانې څرګندوونکي دي چې دا منشأوې د لوست په متن کې تمثیل او روښانه شوې دي.

په ملّي سرود کې د ټولو خلکو, دېلابېلو ملیتونو د ملّي یووالي د ټینګښت، د زړه آواز، د ملّي عواطفو روښنایي، اسلام او وطن دوستۍ انعکاس کړی دی او دغږولو په وخت کې دوی ټول په هغې کې خپل ځایونه ویني او د ویاړ او غرور احساس پرې کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځلیکونه


۱ - فردوسی، حکیم ابوالقاسم، (چاپخانهٔ فرهنگ، انتشارات فخررازی، د چاپ کال ۱۳۷۰هـ.ش.

۲ - اویغون، حفیظ الله، د اقتصاد پوهنځی تحصیلی مونوگراف، د کابل پوهنتون.

۳ - ملی آرشیف، د صدارت ځلورلاری، د کابل ښار.

۴ - توران، عبدالمجید، امینی، محمد صدیق، د (گونش) مجله، د افغانستان دترکمنو د فرهنگي ټولنې د نشراتو اداره.

۵ - عاطف، عبدالحمید، د بدخشان کلیوالی لوبې، فولکلور مجله، د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د خپرونو څانگه.

٦ - غبار، میر غلام محمد، (افغانستان در مسیر تاریخ) د چاپ کال ۱۳۴٦. هـ.ش.

۷ - (مجله ها و فصل نامهٔ فرهنگی و پژوهشی) د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د خپرونو څانگه.

۸ - (مجله های پرواز آریانا) د ترانسپورت او هوانوردۍ وزارت. سال های ۱۳۸۷-۱۳۸۹ هـ.ش.

۹ - یارقین، دکتور شفیقه، حقیق الله، عقیق (مجلهٔ تربیت، فصل نامه تعلیمی و تربیتی برای کودکان و نوجوانان وزارت معارف.

۱۰ - حقمل (محقق بسم الله،) د تیبو کلتور او فرهنگ، د کابل چاپ.

۱۱ - یارقین محمد حلیم، ثبت و نگارش بازی های عامیانه اوزبیکان جوزجان، دولتی مطبعه، کابل

۱۲ - بنووال، پوهاند دکتور محمد افضل، فولکلور شناسی، کابل.

۱۳ - (جهان پیرامون ما) د تاشکند د ښوونځیو درسی کتابونه، اوزبیکستان.

۱۴ - مجله های فرهنگ، فصل نامه فرهنگی و پژوهشی، د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د خپرونو څانگه.

۱۵ - (د انساني نبوغ گنجینه) په منځنۍ آسیا کې د اسلامي ثقافت پاتې شوی آثار.

۱٦ - (نگاهی به تاریخ) د ابوریحان البیرونی د علومو او شرق پېژاندنی د لیکی نسخو انستیتوت او فرهنگي مرکز . اوزبیکستان، تاشکند.

۱۷ - حبیبی، پوهاند عبدالحی (ظهیرالدین محمد بابرشاه)، د کابل چاپ.

۱۸ - گالری ملی (نگارستان ملی)، کابل:

۱۹ - مهدی، دکتور محی الدین، د افغانستان ملی متحده شورا، دوه اوونیزه مجله.

۲۰ - عاطف، وفی الله، عکسونه او تصویرونه، د کابل زاړه ښار مندوی، نوی ښار، د انتیک فروشۍ دکانونه، زرگری، د قالین خرڅولو دکانونه او سرایونه، پوستین پلورونکی دکانونه او د پغمان د خواجه مسافر د باغونو څخه.

۲۱ - د معارف خبري، ادبي او فرهنگي اوونیزه، ۱۳۸۸. هـ.ش.

۲۲ - آریانفر، دکتور شمس الحق، هفته نامه مجاهد.

۲۳ - حمیدزی، عبدالغفار «دافغان زعفران» د شرکت رئیس، د شمشاد تلویزیون د خپرونو د ماښام د اوه نیموبجو څخه تر اته نیمو بجو پورې، ۱۸-۹-۱۳۸۸. هـ.ش.




(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**